# ۲۰۲۶-۲۷
# د چلند کوډ



PWCS
PRINCE WILLIAM COUNTY PUBLIC SCHOOLS
LAUNCHING THRIVING FUTURES

# د محتوی فهرست

**د زده کوونکو د غړونو او حقونو منشور** ....................... 3
**سرچینې، پالیسی، او مقررات** .................................. 7
**پیژندنه/سریزه** .......................... ............................. 8
**د اندیښنی وړ چلند په اړه راپور ورکول** .................... 10
د زده کوونکی د اندیښنو په اړه راپور ورکول........................................ 10
**د زده کوونکو حقونه او توقعات** ................................ 12
له ځورونې، تبعیض او تیری څخه د خوندی پاتی کیدو حق ..................... 12
د امنیتي تدابیرو خبرتیا ........................................................................ 14
**رولونه او مسؤولیتونه** ............................................. 16
د پرنس ویلیم کاونټی عامه ښوونځي ................................................ 16
د ښوونځی د امنیتي چارو افسران ................................................... 19
کورنی د ملتیا کوونکو په توګه ........................................................ 19
د زده کوونکو څخه توقعات ............................................................. 20
**د زده کوونکو د چلند لپاره ملاتړیز خدمتونه** ................ 21
اصلاح کوونکی یا رغوونکی اقدامات .................................................. 21
د مرستو یا ملاتړ څو پوړیزه سیستم ................................................. 21
د زده کوونکو چلند ته پوړیزه یا سلسله وار غبرګونونه ........................... 23
**پایلی او د زده کوونکو چلند ته احتمالی غبرګونونه** .... 26
انضباطي سزاګانې ...................................................................... 26
هغه کړنی چی لپاره یی زده کوونکی ډیسپلین کیدی شي ................... 28
د چلند تشریح کونکی کټګوری او ځوابونه/غبرګونونه ............................. 29
**د ناسم چلند ځانګړي ډولونه او احتمالي انضباطي پایلې** .................................... 31
***ضمیمه A*** ............................... ............................... *52*
د ځورونی په اړه عامي پوښتنی (FAQ) ............................................. 52
***ضمیمه B*** ............................... ............................... *54*
د چلند له کوډ (قوانینو) سره تړلي تعریفونه ........................................ 54
***ضمیمه C*** ............................... ............................... *59*
د انضباطي غبرګونونو په اړه نور معلومات ........................................... 59
***ضمیمه D*** ............................... ............................... *65*
له ښوونځي څخه د ایستلو د انضباطي پروسې چارټ .......................... 65
**د ډاونلوډ کولو لپاره پی ډي ایف ژباړه** ........................ 66

# د زده کوونکو د غړونو او حقونو منشور

**د زده کوونکو د غړونو او د حقونو منشور یو داسې سند دی چې د PWCS زده کوونکو لخوا جوړ شوی ترڅو د ښوونځي بورډ، د PWCS اداري او والدینو ته د زده کوونکو د اتحادیې مشترکه لیدلوری، اړتیاوې او توقعات ورسوي. د دې منشور د توقعاتو پوره کیدنه به زده کوونکو ته اجازه ورکړي چې اکاډمیک بریالیتوب ترلاسه کړي، د خوندیتوب احساس وکړي، او په ښوونځي ټولنه کې د شریکانو په توګه ګډون وکړي. د زده کوونکو د غړونو او د حقونو منشور یو الهام بښوونکی سند دی او موخه یې د هغو قانوني حقونو سربیره چې د فدرالي او ایالتي قوانینو، د PWCS پالیسیو او مقرراتو، یا د چلند د کوډ د نورو مادو لخوا ټاکل شوي، د نورو قانوني حقونو رامنځته کول نه دي.**

د پرنس ویلیم کاونټي عامه ښوونځیو (PWCS) موخه دا ده چې د پرنس ویلیم کاونټي له ټولنې سره د زده کړې په برخه کې د باوري شریکانو په توګه کار وکړي؛ ترڅو زموږ زده کوونکي د انتقادي فکر کونکو، لیډ لرونکو او همکارانو په توګه وروزي، پداسې وخت کې چې د شاملونکو او عادلانه کړنو له لارې زموږ په ښوونځی ټولنو کې د غوره والي هیلې رامنځته کوي.
د زده کوونکو د حقونو ترویج یا هڅونه او خوندي ساتنه زموږ د خوندي او ملاتړ کوونکي ښوونځي ټولنې رامنځته کولو موخی لپاره اړین دي چیرته چې زده کوونکي وکولئ شي وده ومومي او پرمختګ کولو ته هڅول کیږي.

ټول زده کوونکی حقونه لري. حق هغه ازادي یا خوندیتوب دی چې یو شخص ته ورکول کیږي، او دا تعریفوي چې شاوخوا سیسټمونه او خلک د هغوی په وړاندې څه مسؤولیت لري.

دا حقونه ټولو زده کوونکو لپاره دي، پرته د هغوي نژاد یا نسل، رنګ، مذهب، ملي اصل (په شمول د ګډ نسب او قومي ځانګړتیاو)، جنسیت، جنسیتي هویت، جنسي تمایل، حمل یا امیندواری، زیږون، یا اړونده طبي شرایطو، په شمول د شیدې ورکولو حالت، عمر، مدني یا د مور او پلار ځرنګوالی، د عسکرۍ سابقه، معلولیت، جنیټکی معلومات، یا کوم بل اساس چې د قانون لخوا منع شوی وي، په پام کې ونیول شي. حقونه لرل د خلکو حق دی او پرته له قانوني پروسې نه ګواښل کیدی شي، نه تر پښنو لاندې کېدای شي او نه هم ترې اخیستل کېدای شي.

د PWCS د زده‌کوونکو د غړ او د حقونو منشور موخه دا ده چې زده‌کوونکي خوندي وساتي او هغوی د خپلو حقونو څخه خبر کړي. زده کوونکو ته د هغوي د حقونو په اړه خبر ورکول به هغوی د احتمالي ناوړه ګټې اخیستنې او سرغړونی څخه خوندي وساتي. د زده کوونکو حقونه بشری حقونه دي. د PWCS د زده‌کوونکو د حقونو منشور منل او درک کول د زده‌کوونکو د ارزښت روښانه کولو او پېژندلو په معنی دي.

د دې سند په جوړولو کې د بېلابېلو شریکانو نظرونه په پام کې نیول شوي دي، او موخه یی دا ده چې دا د پالیسیو د بدلونونو او د زده کوونکو او ټولنې د احساساتو سره سم وده او بدلون ومومي.

## لومړۍ ماده: د لوړ کیفیت زده کړو ته لاسرسی

*ټول زده کوونکي د داسې باکیفیته زده کړو تر لاسه کولو حق لري چې د هغوی د انفرادي اړتیاوو سره سم وي او هغوی له عالي ښوونځي وروسته ژوند لپاره چمتو کړي.*

- ۱.۱ - ټول زده کوونکي حق لري چې د باکیفیته او تصدیق شویو ښوونکو لخوا ښوونه تر لاسه کړي چې د زده کړې مختلفو ډولونو ته درناوی لري، او په داسې چاپېریال کې زده کړی کوي چې د هغوی د انفرادي زده کړي اړتیاوو څخه ملاتړ کوي.
  - a.۱.۱ - زده کوونکي د اضافي اکاډمیکی سرچینو تر لاسه کولو حق هم لري کوم چی د دودیز ټولګي له چاپېریال څخه بهر د هغوی د زده‌کړې ملاتړ کوي.
    - a.۱.۱.۱ - زده کوونکي حق لري چې د ښوونځي خوندي او مناسب ټرانسپورټ ته لاسرسی ولري، چې پکی له ښوونځي وروسته ټرانسپورټ هم شامل کیدي شي.
    - a.۲.۱.۱ - زده کوونکي حق لري چې د ښوونځي ورځې په جریان کې اضافي اکاډمیکی ملاتړ ته لاسرسی ولري.
  - b.۱.۱ - زده کوونکي حق لري چې د شته مجازي (آنلاین) تعلیمي فرصتونو په اړه خبر وساتل شي او لاسرسی ورته ولري. ii
- ۱.۲ - ټول زده کوونکي په ښوونځي کې د سلا مشورو باکیفیته iiiسرچینو ته د لاسرسي لرلو حق لري.
  - a.۱.۲ - زده کوونکي حق لري چې د شته سلا مشورو سرچینو په اړه خبر وساتل شي.
  - b.۱.۲ - زده کوونکي د خپلې ابتدایه تعلیمی دورې (له وړکتون څخه تر ۱۲ ټولګي پورې) په بهیر کې د کالج او مسلک لپاره د ملاتړ تر لاسه کولو حق لري. iv
  - c.۱.۲ - سرچینې vباید د هر زده کوونکي د اړتیاوو، دلچسپیو او چمتووالي د کچې پر بنسټ انفرادي وي. زده کوونکي باید د هغو ځانګړو لارو په اړه خبر وساتل شي vi چې هغوی له عالي ښوونځي وروسته بریالیتوب ته رسوي.
- ۱.۳ - ټول ښوونځي به د بهرنیو یا داخلي عواملو په پام کې نیولو پرته یو شان باکیفیته سرچینو ته لاسرسی ولري.
  - a.۱.۳ – زده کوونکي اکاډمیکو او تخصصي پروګرامونو ته په مساوي ډول د لاسرسي لرلو حق لري.

- b.۱.۳ - زده کوونکي او کورنۍ ته به له ابتدايي ښوونځي راهیسې د دوامداره ارتباطاتو له لارې د ټولو اکاډمیکی او تخصصي پروګرامونو په اړه خبر ورکول کیږي.
- c.۱.۳ - زده کوونکي حق لري چې په داسې ښوونځیو کې زده کړه وکړي چې روښانه مسلکي لارې او غیر نصابی فعالیتونه ولري.
- d.۱.۳ - پرته له دې چې د زده کوونکو شالید، د یو چا سره تړاو لرنه یا نور د پیژندګلوي فکتورونه په پام کی ونیول شي، زده کوونکي حق لري چې پرمختللي مضمونونه او تخصصي پروګرامونه تعقیب کړي چې د هغوی سره له عالي ښوونځي وروسته ژوند کې مرسته کوي.
- e.۱.۳ - که ښوونځي ونه شي کولی ځانګړي کورسونه وړاندې کړي، باید یو مرکزي پروګرام vii شتون ولري چې اضافي کورسونه وړاندی کوي.
- f.۱.۳ - زده کوونکي حق لري چی د ژبې د ودې او پرمختګ په برخه کی هر اړخیز ملاتړ ترلاسه کړي.

## دویمه ماده: عصري ټیکنالوژي

*ټول زده کوونکي د یو داسې تعلیمي نصاب لرلو مستحق دي چې زده کوونکي له ټیکنالوژیکی پلوه پرمختلونکې نړی لپاره چمتو کړي.*

- ۲.۱ - ټول زده کوونکي حق لري چې په ښوونځي او کور کې د زده کړې اسانتیا لرلو لپاره نوي ټکنالوژۍ ته لاسرسی ولري، په شمول د وای فای (Wi-Fi) او د PWCS لخوا ورکړل شوي وسایلو لکه کمپیوټر/ټابلیټ.
- ۲.۲ - ټول زده کوونکي حق لري چې په ټولګي کې د ټکنالوژۍ کارولو viii په برخه کې متوازنه لاسرسی ولري.
- ۲.۳ - ټول زده کوونکي حق لري چې د خپل تعلیمي نصاب لپاره اړین آنلاین موادو ته لاسرسی ولري.
- ۲.۴ - آنلاین لاسرسی به د عمر سره په مطابق تنظیم شي ترڅو زده کوونکي وکولی شي هغه مواد ترلاسه کړي چې د دوی د نصاب لپاره اړین دي.
  - a.۲.۴- زده کوونکي کولی شي د خپلې زده کړې ملاتړ لپاره ځینو سایټونو ته د لاسرسي موندلو غوښتنه وکړي. ix

## دریمه ماده: مدنی ګډون او پریکړه کونه

*ټول زده کوونکی حق لري چې د خپل ښوونځي په چاپیریال کې فعال اوسی ترڅو فعاله اتباع یا اوسیدونکی جوړیدو لپاره اړین مهارتونه او پوهه ترلاسه کړي.*

- ۳.۱ - ټول زده کوونکی حق لري چې د کاونټي په کچه او ښوونځي میشته نوښتونو ته لاسرسی ولري، په اړه خبرتیا تر لاسه کړي، او په سمه توګه پرې پوه شي چې په ښوونځي کې د زده کوونکي زده کړی او تجربې اغیزمنوي.
  - a.۳.۱ - زده کوونکي د هغو پالیسیو په اړه د شفافو معلوماتو لرلو حق لري چې د زده کوونکو په زده کړه اغیزه کوي.
- ۳.۲ - ټول زده کوونکي حق لري چې د پالیسی په لویو پریکړو کی د هغوی نظرونه په پام کې ونیول شي چې د زده کوونکو په توګه د هغوی پر ژوند اغیزه کوي. x
- ۳.۳ - ټول زده کوونکی حق لري چې د خپل ښوونځي دننه د مدني ګډون فرصتونو او رضاکارانه فرصتونو په اړه خبر شي او ورته لاسرسی ولري.
- ۳.۴ - ټول زده کوونکی حق لري چې احتجاج وکړي او په سوله ییز فعالیت کې برخه واخلي. xi
- ۳.۵ - ټول زده کوونکی حق لری چې معلوماتو ته لاسرسی ولري ترڅو د رایه ورکوونکو ثبتولو کې مرسته وکړي او وی هڅوي.
- ۳.۶ - ټول زده کوونکی حق لری چې د خپل تعلیم په تړاو د خپل ځان مدافع اوسی او خپل انفرادي تعلیم ښه کولو لپاره خپلې ادارې ته د تجویزونه وړاندی کړي.
  - a.۳.۶ - زده کوونکی خپل لیدلوري شریکولو لپاره د ښوونځي ودانیو دننه او بهر مخابراتي یا ارتباطی چینلونه لري.
  - b.۳.۶ - زده کوونکي باید د خپلو نظرونو د څرګندولو له امله د عواقبو یا پایلی څخه ویره ونلري مګر دا چې د هغوی وړاندیزونه زیانمنونکي، ګډوډونکي او/یا غیر قانوني وي یا د دا ډول کیدو احتمال ولري.

## څلورمه ماده: تنوع او شمولیت

*ټول زده کوونکي د لوړ کیفیت او عادلانه زده کړې چاپیریال مستحق دي، پرته له دې چې د هغوی نژاد یا نسل، رنګ، مذهب، ملي اصل (په شمول د ګډ نسب او قومی ځانګړتیاو)، جنسیت، جنسیتي هویت، جنسي تمایل، حمل یا امیندواری، زیږون، یا اړونده طبي شرایطو، په شمول د شیدی ورکولو حالت، عمر، مدني یا د مور او پلار څرنګوالی، د عسکری سابقه، معلولیت، جنیټکی معلومات، یا کوم بل اساس چې د قانون لخوا منع شوی وي، په پام کې ونیول شي.*

- ۴.۱ - ټول زده کوونکی حق لری چې د ښوونځي درناوی لرونکی چاپیریال ولری.
  - a.۴.۱ - زده کوونکی حق لری چې د عدم تبعیض پالیسی څخه خبر شی. xii
  - b.۴.۱ - زده کوونکي د داسې یوې پروسې xiii لرلو حق لري چې په شمولیت کې د نابرابرۍ شتون ونګوی او سمې یی کړي، لکه تبعیضي کړنې.
  - c.۴.۱ - زده کوونکي د مذهبي مراسمو لپاره د اسانتیاوو لرلو حق لري، لکه څنګه چې د هغوی د والدینو، د ښوونځي پازوالانو یا اداره کوونکو، او د PWCS پالیسی لخوا مشخص شوي وي.
  - d.۴.۱ - زده کوونکي خوندي تشناب xivاو د توکو سمبالولو ځای یا خونی ته د لاسرسی لرلو حق لري.
  - e.۴.۱ - زده کوونکي حق لري چې د داسې اسانتیاوو غوښتنه وکړي چې د هغوی اړتیاوې پوره کړي.

- ◦ f.۴.۱ - زده‌کوونکي حق لري چې داسې ورزشي یونیفورمونو ته لاسرسی ولري چې په معقول ډول د دوی له شخصي عقایدو او دودونو سره سمون ولري، تر هغه چې د خوندیتوب له اصولو او لارښوونو سره په ټکر کې نه وي.
- ۴.۲ - ټول زده کوونکی حق لري چې ورزشي یونیفورمونو ته لاسرسی ولري چې د هغوی له شخصي عقیدو او کړنو سره په معقوله توګه مطابقت ولري، په دې شرط چې د خوندیتوب له لارښوونو سره ټکر ونلري.
- ۴.۳ - ټول زده کوونکي حق لري چې د PWCS د پالیسو او د فدرال او ایالت قوانینو سره سم په خوندي چاپیریال کې له ښوونکو، سلاکارانو او مدیرانو سره په محرمانه شکل خبرو اترو کولو ته لاسرسی ولري.

## پنځمه ماده: د ښوونځی مثبت چاپیریال

*ټول زده کوونکي د دې مستحق دي چې په ښوونځي کې له ذهني، فزیکي، ټولنیز او احساساتي پلوه د خوندیتوب احساس وکړي.*

- ۵.۱ - ټول زده کوونکي حق لري چې د شته روانی یا ذهني روغتیایی مرستو او سرچینو په اړه خبر شي. xv
  - ◦ a.۵.۱ - زده کوونکي به راونی یا ذهني روغتیا لپاره عذر شوي غیر حاضری xvi ته لاسرسی ولري چی د کوم رسمي ذهني روغتیا تشخیص سره تړاو نلري.
  - ◦ b.۵.۱ - زده کوونکي، والدین او کورنی به د ښکاره اعلاناتو له لارې د زده کوونکو د ملاتړی خدماتو څخه خبر کړل شي.
  - ◦ c.۵.۱ - زده کوونکي به پدې اړه روښانه پوهه ولري چې څه شی ورته شتون لري، هغوی چیرته ملاتړ ترلاسه کولی شي، د ملاتړ په اړه له چا سره خبرې کولی شي، د کومو میتودونو له لارې به ملاتړ وړاندی شي، او پدې اړه به خبر شي چې ولې د زده کوونکو په توګه د هغوی په ژوند کې د ذهني روغتیا سرچینې مهمې دي.
- ۵.۲ - ټول زده کوونکي د خوندي او ملاتړ کونکي تعلیمي چاپیریال حق لري چی د تبعیض، ځورونې او بې ځایه تنګولو څخه پاک وي، او د شکایت xvii ثبتولو حق لري که چیرې داسې احساس وکړي چې د دغه ډول چلند سره مخ دي.

## شپږمه ماده: د بیان ازادي

*ټول زده کوونکي حق لري چې په تعلیمي چوکاټ کې په ازادانه شکل څرګندونی وکړي یا اظهار وکړي، که چیرته دا د هغوی د اساسی قانون د لومړي تعدیل له حقونو سره مطابقت ولري.*

- ۶.۱ - په ټولو ښوونځیو کې ټول زده کوونکي حق لري چی د خپلی خوښې جامې واغوندي، په دی شرط چی په چلند کوډ کې د PWCS د جامو کوډ سره سمون ولري او د خوندیتوب یا روغتیا اندیښنه رامینځته نکړي.
- ۶.۲ - ټول زده کوونکي به وکولی شي چې له کومو عواقبو پرته د هر کلتور په اړه په درناوي خبرې وکړي، ولمانځي او زده کړه وکړي.

## اوومه ماده: ټاکل شوي قانونی پروسه/پړاو

*ټول ښوونځي د زده کوونکو د چلند جوړولو او څارنې لپاره سیستمونه او جوړښتونه لري. ټول زده کوونکي حق لري چې په خپل ښوونځي کې په شته قواعدو پوه شي او د غیر عادلانه چلند په اړه څرګندونی لپاره فرصت ولري. xviii*

- ۷.۱ - ټول زده کوونکي مستحق دي چې په خپلو ښوونځیو کې د فزیکي، احساساتي او ذهني پلوه خوندي وي.
  - ◦ ۷.۱a - ټول زده کوونکي حق لري چې د غیر عادلانه چلند په اړه په ودانۍ کې یو باوري بالغ کس ته راپور ورکړي.
- ۷.۲ - ټول زده کوونکي حق لري چې د ښوونځي او ډیویژن د چلند کوډونو په اړه دی د هغوی نظرونه په پام کې ونیول شي. xix
- ۷.۳ - ټول زده کوونکي حق لري چې په مانا لرونکې توګه د ښوونځي او سیمه ییزو قواعدو او د هغو انضباطي پایلو په اړه خبر شي چې د چلند کوډ څخه د سرغړونې په صورت کې رامینځته کیږي.
  - ◦ ۷.۳a - زده کوونکي به حق ولري چې د هر ډول انضباطي پریکړې په جریان کې له ځان څخه دفاع وکړي یا یې په استازیتوب دفاع وشي.
  - ◦ ۷.۳b - زده کوونکي به د PWCS د پالیسۍ او مقرراتو سره سم د لټون او ضبط xx په برخه کې د معیاري پروسو تجربه سره مخ شي.

## د پای نوټونه

[i] پدې کې کیدای شي حضوري او آنلاین تدریسي سرچینې او نور شامل وي، مګر په دې پورې محدود ندي.

[ii] مجازی زده کړه هغو پروګرامونو ته ویل کیږي لکه مجازی پرنس ویلیم (Virtual Prince William) او مجازی ویرجینیا (Virtual Virginia).

[iii] لوړ کیفیت"د ښه روزل شوي او د لاسرسي وړ په توګه تعریف شوی.

[iv] دا ملاتړ باید د عمر سره سم وي. د بیلګې په توګه، په دی کی کیدای شي په ابتدایه کچه د مسلک په پراخه توګه سپړل شامل وي.

[v] په دې کې د مسلکي ښوونځي سلاکارانو لخوا سرچينې وړاندې کونه شامل دي، او همدارنګه نورې اضافي سرچينې شاملې دي چې هر ښوونځی يې ممکن د زده کوونکو د غوره ملاتړ لپاره وړاندې کړي.

[vi] په دې کې کېدی شي په منځني ښوونځي کې د مسلکي انتخابونو په اړه زده کوونکو ته خبرداری ورکول شامل وي ترڅو هغوی پوه شي چې کوم ځانګړي پروګرامونه کولی شي د عالي ښوونځی څخه وروسته انتخابونو، د کالجونو لپاره شرطونو، او داسې نورو کې ملاتړ کولی شي.

[vii] په دې کې کېدی شي يو داسې مجازی پروګرام شامل وي چې پرمختللی او/یا ځانګړو کورسونو ته لاسرسی يقيني کوي، مګر په دغې پورې محدود نه دی.

[viii] متوازن چلند د ښوونکي لخوا په کورس کې د غوره کړنو پر بنسټ ټاکل کيږي؛ خو بيا هم، زده کوونکي دا مني چې هغوی د مجازی او کتابی دواړو تعليمي تجربو ترمنځ توازن غواړي.

[ix] د زده کوونکو غوښتنې به د يوې رسمي تصويب شوي پروسې په چوکاټ کې په پام کې ونيول شي. که چيرته سايټونه يا سرچينې نامناسب يا ناخوندي وګڼل شي، زده کوونکو ته به توضيحات ورکړل شي چې د هغوی غوښتنی ولې رد شوې.

[x] د زده کوونکو لپاره د خپل ليدلوري شريکولو ځينې لارو کی ذکر شوي لاری شاملی دي، د زده کوونکو د غړ اوريدو کميټی غونډې، د ښوونځي مدير مشورتي شورا، د ښوونځي بورډ لپاره د زده کوونکو له استازو او/یا د زده کوونکو د سنا غړو سره خبرې کول، د ښوونځي د ښوونکو په غونډو کې ګډون کول ترڅو خپل نظرونه شريک کړي، او/یا د PWCS د ښوونځي بورډ په غونډو کې د اتباعو د تبصرې وخت پرمهال د خپل ليدلوري شريکول شامل دي.

[xi] زده کوونکي بايد د ۷۲۴ پاليسی، ۷۳۰ پاليسی، او ۷۲۴-۱ مقررې په شمول د PWCS له هرې پاليسۍ او مقررې څخه پيروي وکړي.

[xii] تبعيض او ځورونې سره په تړاو د PWCS پاليسۍ او طرزالعملونو په اړه لا زيات معلومات د چلند کوډ د مشکوک تبعيض يا ځورونې په اړه راپور ورکول په برخه کې موندل کېدی شي.

[xiii] زده کوونکي کولی شي شکايتونه په مستقيم ډول يو پازوال يا اداره کوونکی ته وړاندې کړي، يا د آنلاين راپور ورکولو سيسټم وکاروي.

د دې پروسې په اړه لا زيات معلومات د چلند کوډ د مشکوک تبعيض يا ځورونې په اړه راپور ورکول په برخه کې موندل کېدی شي.

[xiv] په خوندي تشنابونو کې د هر جنډر اړوند تشنابونه شامل دي، مګر دې پورې محدود ندي.

[xv] د اوسني رواني يا ذهني روغتيا ملاتړ او خدماتو پورې اړوند سرچينې د PWCS د رواني روغتيا ملاتړ په ويب پاڼه کی موندل کېدی شي.

[xvi] ويرجينيا کوډ § 22.1-254 هر هغه زده کوونکي ته اجازه ورکوي چې د خپل ذهني يا چلند روغتيا له امله له ښوونځي څخه غير حاضر وي، غير حاضري يی عذر شوي وګڼل شي. PWCS په خپلو لارښوونو کې د عذر شويو غير حاضريو لپاره دا احکام عملی کوي.

[xvii] زده کوونکي کولی شي شکايتونه په مستقيم ډول پازوال يا اداره کوونکی ته وړاندې کړي، يا د راپور ورکولو آنلاين سيسټم وکاروي. د دې پروسې په اړه لا زيات معلومات د چلند کوډ د مشکوک تبعيض يا ځورونې په اړه راپور ورکول په برخه کې موندل کېدی شي.

[xviii] غير عادلانه چلند، تبعيض، بې ځايه تنګولو، ځورونې، او نور وغيره ته اشاره کوي چې د قانوني پړاو په سيسټم کې پيښيږي.

[xix] زده کوونکي ممکن فرصت ولري چې خپل ليدلوری په ښوونځي کې ميشتو د زده کوونکو د غړ کميټو کې، د PWCS د زده کوونکو په سنا کې، يا د "اتباعو د تبصرې يا نظر ورکولو وخت" پر مهال شريک کړي.

[xx] تلاشی او ضبط کونه يو قانوني طرزالعمل دی چيرته چې امنيتي کسان د يو شخص او/یا د هغوی ملکيت د احتمالي سرغړونې شواهدو لپاره لټوي.

# سرچیني، پالیسی، او مقررات

## د PWCS اړونده پالیسی او مقررات

- مقرره ۵-۲۹۵، "د مصنوعی ځیرکتیا کارول"
- پالیسی ۶۸۱ او مقرره ۱-۶۸۱, "غیر دودیز تعلیمی پروګرامونه"
- پالیسی ۷۰۲، "د ښوونکي لخوا د ټولګي څخه د زده کوونکو لیرې کول/ایستل"
- پالیسی ۷۱۵، "د نوم لیکنی لپاره د شرط په توګه د زده کوونکي د ښوونځي حالت خبرتیا اړینه ده," او مقرره ۵-۷۱۵, "د نوم لیکنې وړاندي د ماشوم انضباطي او جرمي تاریخچه په ډاګه کول"
- پالیسی ۷۳۰، "د زده کوونکو چلند او مسؤولیتونه"
- پالیسی ۷۳۱ او مقرره ۱-۷۳۱, "د زده کوونکی د مسایلو استیناف/اپیل"
- پالیسي ۷۳۳، "د زده کوونکو تنګول او ځورونه"
- مقرره ۱-۷۳۳، "د زده کوونکو ځورونه" او I ضمیمه، "د زده کوونکو ځورول"
- پالیسی ۷۳۵ او مقرره ۱-۷۳۵, "منع شوي توکې"
- پالیسي ۷۳۸، "د زده کوونکو غیر تبعیض او ځورونه"
- مقرره ۱-۷۳۸، "د زده کوونکو پر وړاندې د جنسی ځورونی د ادعاوو حل کول چې د ټائټل IX لخوا منع شوې دي"
- مقرره ۲-۷۳۸، "ټائټل IX - د زده کړې پروګرامونو او فعالیتونو ته یو برابر لاسرسی"
- مقرره ۳-۷۳۸، "په تبعیض یا ځورونه کی د ښکیل زده کوونکو پر ضد د تورونو حل"
- مقرره ۴-۷۳۸، "د مذهبی عقیدو او کړنو ځرګندول"
- مقرره ۵-۷۳۸، "د ټرانسجنډر یا نرښځیو او د جنډر نه په ډاګه کوونکو زده کوونکو درملنه"
- پالیسی ۷۴۳ او مقرره ۱-۷۴۳, "د زده کوونکي نظم/ډیسپلین"
- پالیسی ۷۴۴ او مقرره ۱-۷۴۴, "د زده کوونکی لنډ مهاله ځنډونه"
- پالیسی ۷۴۵، "د اوږدې مودې لپاره د زده کوونکو ځنډونه یا اخراج، بیاځلی نوم لیکنه, او اخراج/نوم لیکنه" مقرره ۱-۷۴۵, "د اوږدې مودې لپاره د زده کوونکو ځنډونه یا اخراج،" مقرره ۲-۷۴۵, "د معلولیت لرونکو زده کوونکو نظم," مقرره ۳-۷۴۵, "د اوږی ښوونځي زده کوونکو نظم," مقرره ۴-۷۴۵, "د زده کوونکو د اخراج د استیناف اوریدنې لپاره د ښوونځي بورډ د انضباطي کمیټې طرزالعملونه," مقرره ۵-۷۴۵, "بیاځلی نوم لیکنه, او اخراج/نوم لیکنه," او مقرره ۶-۷۴۵, "د ښوونځي بورډ ته د اوږدې مودې ځنډونه او اخراج په اړه غوښتنه/استیناف"
- پالیسی ۷۴۷ او مقرره ۱-۷۴۷, "د زده کوونکو د مدیریت او بدیلو پروګرامونو ځانګه"
- پالیسی ۷۷۵ او مقرره ۱-۷۷۵, "وسلی او نور منع شوي توکي"

## د PWCS په ویب پاڼه کې سرچینې

- د حاضری ملاتړ او سرچینې
- د ګرځنده ټیلیفون او د بیسیم مخابراتی وسیلی کارولو تګلارې
- د لا زیاتو انضباطي اقداماتو پروسه
- کله چې ستاسو زده کوونکی مرستی ته اړتیا ولري
- د ځورونې مخنیوی
- د کړکیچن حالت سرچینې
- خپګان او اضطراب
- د ځورونې په اړه د راپور ورکولو آنلاین فورمه
- د ذهنی/روانی روغتیا ناروغیو سرچینی
- ځان ته د زیان رسولو او ځان وژنې څخه مخنیوی
- د نشه يي توکو د ناوړه ګټې اخیستنې څخه مخنیوی

# پېژندنه / سریزه

## موخه

د پرنس ویلیم کاونټي د ښوونځیو بورډ (د ښوونځي بورډ) له زده کوونکو څخه د لوړې معیاری چلند تمه لري، ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې زده کړې په داسې فضا کې وړاندې کیږي چې زده کړې لپاره مناسبه وي، شخص یا ملکیت ته له ګډوډۍ او له ګواښ وړاندی کولو څخه پاکه وي، او د انفرادي حقونو ملاتړ کوونکې وي. د ښوونځي بورډ د زده کوونکو د چلند لپاره د قواعدو او توقعاتو ټاکلو په موخه د "چلند کوډ" غوره کړی دی.  دا چلند کوډ په ټول ښوونځی ډیویژن کې منع شوی چلند او د ډیسپلین پروسه تشریح کوي.

## پېژندنه

د ویرجینیا ایالت اساسي قانون ځایی ښوونځي بورډ ته دا صلاحیت ورکوي چې د ښوونځي بورډ تر کنټرول لاندې د عامه ښوونځیو د چارو څخه نظارت وکړي. په دې صلاحیت کې د زده کوونکو د نظارت کولو او د ډیسپلین کولو واک شامل دی.

د هر زده کوونکي او ښوونځي کارکوونکی د روغتیا، خوندیتوب، او حقونو او د ښوونځي ملکیت د ساتنې ډاډ رامنځ ته کولو سره د ښوونځي بورډ د ټولو زده کوونکو لپاره د داسی تعلیمی حقونو خوندي کولو لپاره هڅه کوي چی د هغوی د وړتیاوو، علاقمندیو، ارزښتونو، او موخو سره په مطابقت وي.

په هر صورت، د تنکی ځوانانو د روزنې او ښوونې دنده باید د ښوونځي ټولنې ټولو غړو - زده کوونکو، مسلکی ښوونکو، اداره کوونکو، د روزنې ملاتړ متخصصینو پرسونل، او د کورنیو لخوا په ګډه سره تر سره شی ځوک چی د ښوونځي د قواعدو او د زده کړې د بهیر بشپړتیا ملاتړ مسٔولیت یو برابر په غاړه لري.

دا د والدینو/سرپرستانو دنده ده چې په ښوونځي چاپیریال کی د مسٔولیت په غاړه اخیستلو لپاره ماشوم چمتو کړی، په دی کی د زده کړی او د داسی ښه اخلاقو ښودلو مسٔولیت هم شامل دي چی د بل کس خوندیتوب او د حقونو څخه سرغړونه نه کوي. ښوونځي حق لري چی د هر زده کوونکي څخه د مناسب او ځان ډیسپلینونکی چلند تمه ولري. دا چې د ځان ډیسپلینول د بهېر څخه د بل چا لخوا نه شی تحمیل کیدي، زده کوونکو ته باید تر یوي اندازی پورې د انتخاب او عمل کولو اجازه ورکړل شي تر څو خپل انفرادي وړتیاوی او لیاقت ته وده ورکړی.

[د ویرجینیا کوډ ۲۲.۱-۷۸ §](#) په ډاګه کوي چی: "د ښوونځي بورډ کولی شي د زده کوونکو په سمه توګه د ډیسپلین کولو  او ښوونځي ته د راتګ او بیرته تګ چلند لپاره قوانین او مقررات خپل کړي یا جوړ کړی مګر دغو پوری محدود نه دي." د ښوونځي بورډ هغه قواعد چې د زده کوونکو چلند اداره کوي، په چلند کوډ (COB) کې لنډیز شوي دي او د ښوونځی بورډ په پالیسیو او د پرنس ویلیم کاونټي عامه ښوونځیو (PWCS) په مقرراتو کې هم په ډاګه شوي دي.

نو، تر هغه پورې چې د زده کوونکو، والدینو/سرپرستانو، په ټوله کی د ټولنې، او/یا د ښوونځي کارکوونکو د بنسټیزه حقونو څخه سرغړونه نه وي شوي، د ښه دلیل لپاره، د ښوونځیو سوپرانټینډنټ کولی شي په اوسني بڼه د COB کې بیان شویو طرزالعملونو څخه انحراف کونه تصویب وکړي. د بیلګې په توګه، د ښی موخی لپاره په دې سند کې بیان شویو طرزالعملونو څخه انحراف کی کېدای شي د ښوونځي د مدیر یا د ښوونځي د اداري ټیم د بل غړي پر ځای د ډیسپلین پریکړې کولو لپاره د مرکزي دفتر د یو مدیر ټاکل شامل وي، په ځانګړي ډول کله چې د زده کوونکي ناسم چلند د ښوونځي مدیرانو ته متوجه وي، ترڅو په انضباطي پریکړه کې د هر ډول جانبدارۍ یا د هغې د احتمال مخه ونیول شي.

نوټ: "والدین"، لفظ لکه څرنګ چې په عمومي توګه کارول شوی دی، موخه یی د اصلی مور او پلار، د فرزندي ماشوم مور او پلار یا قانوني سرپرست څخه ده. د چاپ کولو موخو لپاره، د "ښوونځي بورډ" په حواله باید پوه شي چی موخه یی د پرنس ویلیم کاونټي ښوونځیو بورډ څخه ده.

### په ښوونځي کې او له ښوونځي څخه بهر د ځینو ناسمو کړنو یا چلند لپاره د ډیسپلین عملی کولو واک

PWCS واک لري چې زده کوونکي د هغو ناسمو کړنو یا چلند لپاره ډیسپلین کړي چې د چلند له کوډ او د زده کوونکو چلند اداره کونکو د PWCS له پالیسیو او مقرراتو څخه سرغړونه کوي، کله چې ناسم چلند پداسې وخت و وشي چې زده کوونکی:

- په ښوونځي کې شتون ولري، په مجازی لاربښوونو کې برخه اخلي، یا د ښوونځي لخوا تنظیم شوي فعالیتونو کې برخه اخلي، په شمول د ساحوي سفرونو ، پرته د ځای په پام کی نیولو. په ښوونځي کې شامل دي، مګر دغو پوری محدود ندي، هر هغه ملکیت یا تاسیسات چې د ښوونځي بورډ ملکیت وي یا لخوا اداره کیږي یا تر کنټرول لاندې وي یا یی په استازیتوب یا د هغه د اجنټ یا استازی لخوا وي، سیمه ییز تاسیسات چې په ګډه د دوو یا ډېرو ښوونځیو ډیویژنونو لخوا اداره کیږي یا د هغوی تر کنټرول لاندې وي، او ټولګي یا تعلیمي ځایونه چې د کالجونو یا پوهنتونونو لخوا PWCS زده کوونکو ته د زده کړې لپاره ورکړل شوي وي.
- د ښوونځي په بسونو کی یا د PWCS لخوا وړاندې شوی ټرانسپورټ کی او د بسونو په تمځایونو کې.
- ښوونځی ته د تګ او بیرته تګ په وخت کی.

- له کیمپس څخه بهر په نورو ځایونو کې، لکه د ښوونځي لخوا تمویل شوي فعالیتونه په شمول د ساحوي سفرونو، سپورتی پیښو، او کلب پیښو، کله چې زده کوونکی د ښوونځي د چارواکو له نظارت څخه بهر وي، که چیرې ناوړه چلند د ښوونځي ډیویژن په عملیاتو یا عمومي هوساینې باندې د پام وړ اغیزه ولري؛ د تعلیمي پروسې بشپړتیا اغیزمنه کړي؛ د زده کوونکو، کارکوونکو، یا د ښوونځي ملکیت خوندیتوب او هوساینې ته ګواښ رامینځته کړي؛ یا په بل ډول د زده کوونکو یا کارکوونکو په حقونو تیری وکړي.

## د *PWCS Elevate 2030 ستراتیژیکی پلان*

د [*PWCS Elevate 2030 ستراتیژیکی پلان*] په بشپړ ډول د ډیویژن په راتلونکي باندی د تمرکز کولو په اړه دی چې موخه یې نړیواله وړتیا، شخصي او تطبیقوي زده کړه، او د ښوونکو پیاوړتیا ده. PWCS دا ویژن لري چی هر زده کوونکی د اړینی پوهی، مهارتونو او د ذهنی عادتونو سره په خپل وخت سره فارغ شي کوم چی د هغوي او د ټولنې ځلانده راتلوونکي رامینځته کولو لپاره اړین دي.
Elevate 2030 د داسی بنسټ پر اساس مخی ته ځی چی د *Vision 2025* لخوا ایښودل شوی و، د PWCS بنسټیزه ارزښتونه لکه انصاف (Equity)، شمولیت (Inclusivity)، نوښت (Innovation)، بشپړتیا (Integrity)، انعطاف (Resiliency)، او هوساینه (Well-Being) — هغه اصول چې تیر پلان ته یې ثبات راوړی و — به ثابت پاتې شي. PWCS د ټولو لپاره زده کړې او لاسته راوړنو، د مثبت فضا او کلتور رامینځته کولو، د کورنی او ټولنې ښکیلتیا، او سازماني همغږی ته خپله ژمنه ژوره کړې ده.

د ډیویژن د اصلاح کوونکی یا رغوونکی اقداماتو، د ملاتړ څو پوړه یا ګڼ شمیر سیسټمونو (MTSS)، او د ښوونکي کلتوري وړتیا ته د ودی ورکولو له لاری چې د ویرجینیا د پوهنې څانګی (VDOE) معیارونو سره به مطابقت دي، PWCS به د زده کړې یو داسی چاپیریال رامنځ ته کړي چې پیوستون ته وده ورکوي، د ټراو یا خپلتیا احساس رامنځ ته کوي، او د ټولو زده کوونکو لپاره ټولنیز او احساساتي روغتیا هڅوي.

## د پلي کیدو وړ قانون کې د بدلونونو په اړه خبرتیا

PWCS اراده لري چې د چلند کوډ او همدارنګه اړوندې پالیسی او مقررات یی په بشپړ ډول د پلي کیدونکي ایالتي او فدرالي قوانینو سره په مطابق وي. د چلند کوډ (COB) کیدی شي د تعلیمي کال په اوږدو کې نوي شي ترڅو په ایالتي یا فدرالي قانون، د ښوونځي بورډ اړوندو پالیسیو او مقرراتو، یا د مسؤل دفترونو په نومونو کې بدلونونه منعکس کړي. د COB کوډ یا قانون نسخه چی د PWCS په ویب پاڼه کې خپره شوي، رسمي نسخه ده. که چیرې د چلند کوډ د رسمي نسخې احکام د ایالتي یا فدرالي قانون سره په ټکر کې وي، PWCS به خپل انضباطي قواعد د پلي کیدونکي ایالتي یا فدرالي قانون سره سم پلي کړي ترڅو د ښوونځي خوندیتوب ډاډمن کړي او د زده کوونکو حقوق وساتي.

# د اندیښنی وړ چلند په اړه راپور ورکول

## د زده کوونکی د اندیښنو په اړه راپور ورکول

### "یو څه وویاست" په نامعلومه توګه د راپور ورکولو سیستم

زده کوونکی، ښوونځی، کارکوونکی، او والدین د یو منظم او خوندي ښوونځي چاپیریال لپاره په ګډه مسؤلیت لري.

د نشه يي توکو، وسلو، ځان یا نورو ته د تهدید یا د نورو لاملونو چی ممکن د ښوونځي چاپیریال لپاره زیانمن وي، په اړه یی باید یو باوری بالغ کس ته یا د "یو څه وویاست/Say Something" په نامعلومه توګه د راپور ورکولو سیستم (SS-ARS) له لاری راپور ورکړل شي. "یو څه وویاست/Say Something" په مشخصه توګه د شپږم څخه تر دولسم ټولګیو پوری زده کوونکو او د ښوونځی کارکوونکو لپاره جوړ شوی دی تر څو د غیر خوندي چلند یا ځان یا نورو ته د زیان رسولو ګواښونو جدي یا احتمالي تاوتریخوالي اندیښنو په اړه راپور ورکړي. "یو څه وواياست" د ملي غیر انتفاعي تنظیم Sandy Hook Promise لخوا د ځوانانو د تاوتریخوالي مخنیوي پروګرام دی او PWCS لپاره پرته له کوم لګښت وړاندی کیږی او دوام مومي.

"خبر ورکوونکی" کولی شي چی د جنسي ځورونې ، ځان ته زیان رسولو ، او خپګان په شمول د ښوونځي له ګواښونو څخه نیولی تر شخصی ستونزو پوری چې دوی لیدلی دی یا یی اوریدلی دي، په اړه راپورونه واستوي. دغه سیستم د ښوونځي مدیرانو او د قانون پلي کوونکو چارواکو ته وړتیا ورکوي چې اغیزمنه مداخلې رامینځته کړي او د خطر سره مخ اشخاصو لپاره مداخله وکړي ترڅو د تاوتریخوالی، ځان وژنې، ځورونې، ځان ته زیان رسولو او د ګواښوونکي چلند نورو ډولونو څخه مخنیوي کولو کې مرسته وکړي.

ټول ورکړل شوي معلوماتونو ته بیرته په Sandy Hook Promise ملی کړکیچ مرکز کې د یو خورا ستر ماهر بحران سلاکار لخوا چټک ځواب ورکول کیږی، دغه کس وروسته د ملاتړ لپاره د اړین ګامونو پورته کولو په اړه پریکړه کوي. کله چې د باور وړ معلوماتونه ترلاسه شي کوم چې د ژوند لپاره ګواښوونکي وي او/یا یو نږدی ګواښ پکې شامل وي، د ګډوډۍ کنټرولو مرکز به زر تر زره د سیمی ۹۱۱ چټک غبرګون شمیری سره اړیکه ټینګه کړی او قانون پلي کوونکي چارواکی به پکې ښکیل کړی، او بیا به د مرکزي دفتر کارکوونکو او د ښوونځي اړوند استازو ته خبر ورکړي، حتی څو ساعته وروسته.

که یو څوک د خبرداری نښی نښانی یا ګواښ وګوري، هغوی کولی شي د دغه ډول معلوماتو په اړه راپور ورکولو لپاره لاندې ذکر شوي لارې وکاروي:

- د سمدستی بیړني حالت په صورت کې، افراد باید 911 شمیری سره اړیکه ټینګه کړئ.
- د ۹۶۶۹-۵۷۲-۸۴۴-۱- شمیری ته په زنګ وهلو سره یا **[www.SaySomething.net](http://www.SaySomething.net)** ویب پاڼی ته په تلو سره معلومات وسپارئ.
- د App Store یا د Google Play Store څخه په وړیا ډول اپلیکیشن ډاونلوډ کړۍ چیرته چی راپورته په چټکه توګه سپارل کیدی شي، کله چی یی ډاونلوډ کړئ، له ستاسو څخه به د څلور عدد کوډ غوره کولو لپاره غوښتنه وشی او باید په یاد یی ولری.
- ویب پاڼی ته لاسرسی موندلو لپاره دا کیو آر کوډ وکاروۍ.
- په بیړني حالت کې ۹۱۱ شمیری سره اړیکه ټینګه کړئ.

### د شکمن تبعیض یا ځورونې په اړه راپور ورکول

هغه زده کوونکی چې په دی باور دی چی د هغوي پر وړاندې تبعیض تر سره شوی یا ځورول شوی دي، هغوي هڅول کیږی چې د لاندی طریقو څخه د یوی په کارولو سره یی په اړه راپور ورکړی:

- د ښوونځی پازوال یا اداره کوونکی سره خبرې وکړئ (د بیلګې په توګه، د ښوونځی مدیر، مرستیال مدیر).
- د تنوع، مساواتو، شمولیت او موافقت څانګې سره په ۶۸۳۹-۳۷۴-۵۷۱ شمیره اړیکه ونیسئ.
- [د تبعیض یا ځورونې په اړه په انلاین ډول راپور ورکړئ.]

- لاندې کیو آر کوډ وکاروئ.

د تبعیض او ځورونې تعریفونه د تنګونی، تبعیض او ځورونی څخه د خلاصون حق لرل په برخه کی موندل کیدی شي.

## تنګونه

هر ښوونځی یو داسې چاپیریال رامینځته کولو ته ژمن دی چې د زده کوونکو د ځورونې څخه پاک وي. زده کوونکی، والدین او د ښوونځی کارکوونکی په کلکه هڅول کیږی چې د لاندې ذکر شویو تګلارو له لاری د ځورونې پیښسو په اړه راپور ورکړی:

- د ښوونځی پازوال یا اداره کوونکی سره خبرې وکړئ (د بیلګې په توګه، د ښوونځی مدیر، مرستیال مدیر). د ښوونځي اداره کوونکی به د زده کوونکی د ځورونې راپورونو ته ځواب ویلو لپاره ګړندي او پریکړه کوونکي مناسب ګامونه پورته کړي.
- زده کوونکي یا والدین کولی شی چی په انلاین ډول د ځورونې پیښسو په اړه راپور ورکړي.
- لاندې کیو آر کوډ وکاروئ.

د ځورونې تعریفونه د ځورونی، تبعیض او تیری کیدو څخه د خلاصون حق لرل په برخه کی موندل کیدی شي. مهربانی

وکړئ د سرچینې، پالیسی، او مقرراتو په برخه کی د PWCS اړوندو پالیسی او مقرراتو ته مراجعه وکړئ.

# د زده کوونکو حقونه او توقعات

# له تنګولو، تبعیض او ځورونی څخه د خلاصون حق لرل

### تنګونه

PWCS ژمن دی چی یو داسې چاپېریال رامینځته کړي په کوم کی چې زده کوونکی له ځورونې څخه خلاص وي. بې ځایه تنګونه له لاندې دریو برخو څخه جوړه شوی ده:

- هر ډول تیري کوونکی او ناغوښتل شوی چلند چې موخه یې قرباني ته زیان رسول، ډارول یا د هغه سپکاوی وي؛ او
- د بریدګر یا بریدګرو او قرباني ترمنځ د ځواک واقعي یا تصور شوې نابرابري پکې شامل وي؛ او
- د وخت په تیریدو سره تکرار شي یا د سختې احساساتي صدمې لامل شي.

په بې ځایه تنګولو کې سایبري ځورونه هم شامله ده، چې د کمپیوټر، ګرځنده ټیلیفونونو او نورو بریښنایی وسایلو له لارې په قصدي او تکراري ډول زیان رسول

دي.  په ځورونه کې په عادي ډول تنګول، ټونګي وهل، لفظی شخړه، یا د ټولګیوالو سره شخړه نه دي شامل. هغه زده کوونکي چې باور لري هغوی په بې ځایه ډول تنګ شوي دي، په کلکه هڅول کیږي چې دا ډول چلند د ښوونځي اداري ته یا د [زده کوونکو د اندېښنو راپور ورکول](#) په برخه کې د ذکر شویو لارو له لارې راپور کړي. د ښوونځي اداره کوونکی یا پازوال به د زده کوونکو د ځورونې راپورونو ته ګړندي او پریکړه کوونکي ځواب ورکولو لپاره مناسب ګامونه پورته کوي.

سایبری ځورونه او هر ډول ځورونکی چلند/کړنی چې د ښوونځي په ملکیت کې پیښیږي، د ښوونځي لخوا سپانسر شوي فعالیتونو کې، یا چې د یو زده کوونکي ښوونځي ته په خوندی ډول د تګ راتګ مخه نیسی، یا د زده کړې د ترلاسه کولو لپاره د زده کوونکي پر وړتیا اغیزه کوي، د چلند کوډ (COB) څخه سرغړونه ده او د ښوونځي د چارواکو لخوا به وڅېړل شي او ورته ځواب وویل شي. هغه بې ځایه تنګول چې یو زده کوونکی د هغه د نژاد، رنګ، مذهب، ملي اصل (د شریک نسب او قومي ځانګړتیاو په شمول)، جنسیت، جنسیتي هویت، جنسي تمایل، معلولیت، یا نورو هغو اساساتو له امله په نښه کوي چې د PWCS په عدم تبعیض بیان کې شامل دي (چې د خوندي شوې طبقې په نوم هم پیژندل کیږي)، د ځورونې یا جنسیت پر بنسټ ناسم چلند پورې اړوند د PWCS طرزالعملونو لاندې څېړل کیږي او اقدام پرې کیږي.

ټولو شکایتونو څخه وروسته  به څیړنه تر سره کیږي. تورن کسان او د ښکیل زده کوونکو والدین به له شکایتونو خبر کړل شي، له شاهدانو سره به مرکې وشي، او ټول معلومات به محرم پاتې شي پرته له هغو چې باید د پلټنې د برخې په توګه شریک شي یا د زده کوونکو یا نورو د خوندیتوب او امنیت ډاډمن کولو لپاره افشا شي.  که څه هم هغه ډیسپلین  چې یو زده کوونکي ته د بې ځایه تنګولو د شکایت په ځواب کې ورکول کیږي محرم دی، مګر د هغه ځینې اړخونه له هغه زده کوونکي سره شریک کیدی شي چې تنګ شوی دی که چیرې دا په مستقیم ډول پر هغه اغیزه وکړي.  د بیلګې په توګه، هغه زده کوونکي ته چې تنګول شوی وی، ممکن ورته ویل شي چې بل زده کوونکي ته لارښوونه شوې چې ورسره هیڅ اړیکه ونلري یا دا چې بل زده کوونکی به نور په ورته ټولګیو یا ښوونځي کې ګډون ونه کړي.

د ښوونځي پازوالان یا اداره کوونکی باید د بې ځایه تنګولو په احتمالي پیښه کې د هر ښکیل زده کوونکي والدین ژر تر ژره خبر کړي، مګر دغه خبرداری باید د بې ځایه تنګولو له ادعا د څخه د خبریدو وروسته له ۲۴ ساعتونو څخه ډیر ونه ځنډیږي.

### د (PWCS) د تبعیض نه کولو بیان/څرګندونه

د پرنس ویلیم کاونټي دولتي ښوونځي (PWCS) د تعلیمي پروګرامونو، خدماتو او فعالیتونو په وړاندې کولو کې تبعیض نه کوي، او نه هم د نسل، رنګ، مذهب، ملي اصل په شمول (د ګډ نسب یا توکم او توکمیزو ځانګړتیاوو)، جنس، جنډر هویت، جنسي تمایل، حمل، ماشوم زیږون، یا اړونده طبي حالتونو، په شمول د طی ورکولو حالت، عمر، مدنی حالت، عسکری خدمت، معلولیت، جنیټکی معلوماتونو یا د کوم بل ځیز پر اساس  تبعیض او ځورونه زغمی، کوم چې د قانون له مخی منع شوی دي.

PWCS په سمدستي او مؤثره توګه د ځورونې ادعا حل کولو لپاره ژمن دی.

### تبعیض

تبعیض هغه وخت رامینځته کیږي کله چې د نژاد، رنګ، مذهب، ملي اصل (د شریک نسب یا قومي ځانګړتیاو په شمول)، جنسیت، جنسیتي هویت، جنسي تمایل، حمل، زیږون، یا اړوند طبي شرایطو په شمول د شیدو ورکول، عمر، ازدواجي یا والدینو حالت، د عسکری خدمت، معلولیت، جنیټکی معلومات، یا کوم بل اساس چې د قانون لخوا منع شوی وي یو یا ډیرو اشخاصو سره توپیری چلند وشي یا ورته مناسب پاملرنه ونه شي، یا ورته د نورو په څیر یو ډول موقع ور نه کړل شي. د زده کوونکو یا د ښوونځی کارکوونکو پر وړاندې تبعیض په کلکه منع دی. هغه زده کوونکي چې باور لري ورسره

تبعيض شوی، هڅول کيږي چې د DEIC@pwcs.edu بريښناليک لارې يا په ۶۸۳۹-۳۷۴-۵۷۱ شمېر زنګ وهلو، او يا هم د زده کوونکو د اندېښنو په اړه راپور ورکول په برخه کې د موندل شویو انتخابونو له لارې د موضوع په اړه د ښوونځي مدير ته، د تنوع، انصاف، شموليت او موافقت څانګې ته راپور ورکړي.

د تبعيض يا ځورونې شکايتونه چې زده کوونکي پکې ښکېل وي، بايد د PWCS د پاليسۍ او مقرراتو سره سم حل شي.

## ځورونه

ځورونه د تبغيض څخه پاک ځانګړتياوو لکه (نسل، رنګ، دين، ملي اصل، اخلاقی ځانګړتياوی، د ګړی شجری يا توکم، عمر، جنس، معلوليت)، يا د هر ډول بلی ځانګړتيا پر اساس د يو ناخوښه چلند دوامداره بڼه ده چې د ايالت يا فدرال قانون له مخی منع دي. په ځورونه کی لاندې ذکر شوي شامل دي:

- **سپکاوی او ډارونکی چلند:** تبعيضي ځورونه کی هغه کړنې شاملی دي چې د يو فرد يا ډلې سپکاوی کوي، هغوی ډاروي يا ورته زيان رسوي. دا چلند کولی شي د ډار، دښمنۍ او/يا سپکاوي کوونکی چاپيريال لامل شي. دا ډول چلند کولی شي د زده کوونکي په زده کړې کې خنډ رامينځته کړي.
- **مختلفی څرګندونې:** تبعيضي ځورونه له مختلفو لارو څرګندول کيدی شي، پشمول د فزيکي کړنو، شفاهي اړيکو، غير شفاهي اشارو، بريښنايی پيغامونو، يا ليکل شوې موادو له لارې.
- **د عقيدی پر بنسټ په نښه کول:** په مهمه توګه، تبعيضي ځورونه ممکن يو فرد په نښه کړي حتی که هغه په اصل کی داسې کومه ځانګړتيا هم ونلري چې د ځورونې اساس ګرځي. کليدي فکتور دا دی چې ځورونه د هغه عقيدی پر بنسټ وي چې يو فرد يی د ځانګړتيا په توګه لري.

مهرباني وکړئ په ياد ولرئ چې د سپکاوي کلمی يا شعارونه يا سمبولونو کارول چې د يو فرد يا ډلې سپکاوی کوي يا د ډارولو لپاره وی، د ځورونې په توګه به وڅېړل شي.

هغه زده کوونکي چې په دې باور دي چې ورسره تبغيصی چلند يا ځورول شوي دي، هڅول کيږی چی د ښوونځی مدير يا د تنوع، مساواتو، شموليت، او موافقت څانګی ته د DEIC@pwcs.edu بريښناليک لا لارې يا په ۶۸۳۹-۳۷۴-۵۷۱ شميره، يا د هغه تګلارو له لارې چی د زده کوونکو د اندېښنو په اړه راپور ورکول په برخه کی موندل کيدی شي، راپور ورکړي.

## د جنسيت پر بنسټ ځورول او د جنسيت پر بنسټ ناسم چلند

د ټايټل IX تر لاندی تبعيض د جنسيت پر بنسټ د زده کوونکو ځورونه منع کوي. په اصل کې، ټايټل IX دا ډاډ رامينځته کوي چې په متحده ايالاتو کې هيڅوک هم د جنسيت پر بنسټ په کوم تعليمي پروګرام يا فعاليت کې چې فدرالي مالي مرستې ترلاسه کوي، له ګډون څخه محروم، کيدی نه شي، له ګټو څخه بې برخې پاتی کيدی نشي، يا ورسره تبعيض نشي تر سره کيدی.

دا په ټولو تعليمي ادارو کې د مساوي فرصتونو او انصاف وړاندی کولو کې مهم رول لوبوي. ټايټل IX د جنسيت پر بنسټ داسی چلند دی چې لاندې يو يا ډېر شرايط پوره کوي:

- د PWCS کارکوونکی چې يو کس ته د PWCS مرستی، ګټی يا خدمات وړاندی کولو په بدل کی په ناوړه جنسی عمل کی ښکيل کيدو شرط وړاندی وي.
- د جنسي بڼې يو داسی ناخوښه چلند دی چې د يو معقول شخص لخوا مشخص کيږي کوم چی دومره سخت، نفرت انګيز، او په موخه ييزه توګه ځورونکی وي چې په موثره توګه د زده کړې پروګرام يا فعاليت ته د زده کوونکی په مساوي ډول د لاسرسی لرلو مخه نيسی.
- په مينه محبت کی تاوتريخوالی، کورنی تاوتريخوالی، جنسي تيری، يا تنګول.

د جنسيت پر بنسټ د ناسم چلند ټولې ادعاوې د ټايټل IX تر لاندې تبعيض يا جنسي ځورونه نه ګڼل کيږي. د جنسيت پر بنسټ د ناسم چلند هغه ادعاوې چې د ټايټل IX په چوکاټ کې نه راځي، به وڅېړل شي او ورته به ځواب ويل شي، او د هر هغه چلند لپاره چې د PWCS چلند کوډ سرغړونه وګڼل شي، ډيسپلين پلي کيدی شي.

د زده کوونکو د تبعيض او ځورونې په اړه لا زيات معلومات د PWCS په اړوندو پاليسيو او مقرراتو کې موندل کيدی شي کوم چې د **سرچينی، پاليسۍ، او مقررات** په برخه کی موندل کيدی شي. هغه زده کوونکي چې په دې باور دي چې ورسره تبغيصی چلند يا ځورول شوي دي، هڅول کيږی چی د DEIC@pwcs.edu بريښناليک لا لارې يا په ۶۸۳۹-۳۷۴-۵۷۱ شميره زنګ وهلو سره، يا د هغه تګلارو له لارې چی د زده کوونکو د اندېښنو په اړه راپور ورکول په برخه کی موندل کيدی شي، د ښوونځی مدير يا د تنوع، مساواتو، شموليت، او موافقت څانګی ته راپور ورکړي.

## د تبعيض او ځورونی مخنيوي کول

د ښوونځي چارواکي به تبعيض او ځورونې ته د پای ټکی کيښودلو او ور څخه د مخنيوی کولو لپاره لاس په کار شي. زده کوونکي کولی شي د غږ پورته کولو او لاندې کړنو له لارې د تبعيض او ځورونې په مخنيوي او بندولو کې مرسته وکړي:

- د والدينو، ښوونکي، سلاکار، د ښوونځي مدير، يا بل باوري بالغ کس څخه مرسته غوښتل.

- د ناسم چلند په اړه د ښوونځي پاڼوال یا اداره کوونکي، په ښوونځي کې یو باوري بالغ کس، د تنوع، مساواتو، شمولیت او موافقت څانګې ته، یا د زده کوونکو د اندېښنو په اړه راپور ورکولو په برخه کی د شته تګلارو له لاری راپور ورکول.

## د ښوونکي کلتوري وړتیا

د ویرجینیا کوډ ۲۲.۱-۲۹۸،۷ § له مخی، "د بورډ لخوا د خپره شوي لارښوونی سره په مطابق، هر ښوونځي بورډ باید داسې پالیسۍ غوره او پلي کړي چې هر ښوونکی او د ښوونځي بورډ هر بل کارکوونکی چې د بورډ لخوا صادر شوی جواز لري، اړ کړي چی لېترلږه په هرو دوو کلونو کې یو ځل د کلتوري وړتیا روزنه بشپړه کړي." د کلتوري وړتیا لپاره د ویرجینیا چوکاټ له څلورو ډومېنونو څخه جوړ شوئ دی کوم کی چې د کلتوري پلوه ځان ارزونه، کلتوري وړتیا لرونکې ښوونیزه تګلاره او تدریسي کړنې، د کلتوري پلوه وړ د زده کړې چاپېریال , او د کلتوري له پلوه وړ د ټولنی ښکیلتیا شامل دي.

په هیواد کې د 10م ترټولو متنوع ښوونځي ډیویژن په توګه، PWCS د مثبت اقلیم او کلتور ملاتړ په موخه خپل مسؤولیت پېژني. هغه کسان چې زموږ په ښوونځیو کې ګډون کوي، ټول زموږ د ټولنې غړي دي پرته له دې چې د هغوی نژاد، قومیت، ټولنیز-اقتصادي حالت، وړتیا، ملي

اصل، سیاسي ایډیالوژي، د استوګنې سیمه (د کلیوالي سیمو په شمول)، یا جنسیت په پام کې ونیول شي. دا په دې معنی چې موږ د خپلو زده کوونکو تر منځ توپیرونو ته ارزښت ورکوو او ورته درناوی کوو او زموږ په لاندی ذکر شویو برخو باندی ټینګار کولو سره زموږ په ښوونځیو او ټولګیو کی کلتوری وړتیا ته وده وکولو لپاره د خپلو کارکوونکو د ژمنتیا ملاتړ کوو په داسی حال کی چی دغه کارونه د پری سکول څخه تر دولسم پوری د زده کوونکو د چلند توقعاتو سره تړاو لري:

- لاسرسی او فرصت.
- مساوي سرچینی
- د کورنیو سره ارتباط او ښکیلتیا.
- بین الکلتوري وړتیا او شمولیت.

په نړیواله کچه مثبت اقلیم او کلتور په لور زموږ ژمنتیا دا ډاډ رامینځته کوي چې کله ډیسپلین ته اړتیا وی، زده کوونکی او کورنی د انضباطی پروسې په اړه په ښه توګه خبر دي، د ښوونځی ټولنې ځای پر ځای کیږی ، او زده کوونکو ته ملاتړ کونکی سیسټم ته لاسرسی ورکول کیږی کوم چې د PWCS د چلند معیارونو سره په مطابق دی.

مهربانی وکړئ د PWCS اړوندو پالیسۍ او مقرراتو ته د سرچینو، پالیسۍ، او مقرراتو برخی تر لاندی ځای کی مراجعه وکړی.

## د بیان ازادۍ حق

هغه زده کوونکي چې نیت لري په ښوونځي کې یا د ښوونځي ورځی پر مهال احتجاج یا لاریون تنظیم کړي، باید د خپل ښوونځي له مدیر سره په ګډه کار وکړي ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې د هغوی دغه فعالیت ښوونه یا د ښوونځي چارې نه ګډوډوي او په خوندي او مسؤلانه ډول ترسره کیږي. دا ډول هر احتجاج یا لاریون د هغو زده کوونکو د بیان استازیتوب کوي چې دا تنظیموي او پکې برخه اخلي، نه د ښوونځي بورډ، سوپرانټینډنټ، تعلیمي ډیویژن، یا د زده کوونکي د ښوونځي. د ښوونځي د مدیر رول د وخت، طریقې او ځای ټاکلو او نورو لارښوونو پورې محدود دی ترڅو د زده کوونکو خوندیتوب ډاډمن کړي او د ګډوډۍ مخه ونیسي. د ښوونځي اداره او کارکوونکي د زده کوونکو په دغه ډول پیښه کې برخه نه اخلي مګر ممکن په پیښه کې نظم او خوندیتوب ساتلو لپاره ورته دنده وسپارل شي. هغه زده کوونکي چې په ښوونځي کې په سوله ییز فعالیت کې برخه اخلي باید هر وخت د ښوونځي د ادارې لخوا ټاکل شوي ټولی تګلارې، طریقې، د ځای او د خوندیتوب لارښوونې تعقیب کړي. هغه زده کوونکي چې له ټولګي غیر حاضر وي یا د احتجاج یا لاریون د برخې په توګه د ښوونځي انګړ پرېږدي، ممکن د حاضري د قواعدو د سرغړونې له امله انضباطي پایلو سره مخ شي. هغه زده کوونکي چې د اداری کارکوونکو لارښوونې نه تعقیبوي، د تدریس یا د ښوونځي په چارو کې د ګډوډۍ لامل کیږي، تاوتریخوالی هڅوي یا په داسې وینا کې ښکیل کیږي چې د اساسي قانون د لومړي تعدیل لخوا خوندي نه وي، لکه هغه وینا چې د تاوتریخوالي یا غیر قانوني فعالیت غوښتنه کوي، فحش یا بد وي، یا د کرکې وینا وي، ممکن د اړتیا په صورت کی انضباطي پایلو سره مخ شی.

# د امنیتي تدابیرو یا اقداماتو خبرتیا

## د PWCS د کمپیوټری سیسټمونو او شبکې څارنه

د PWCS د ۱-۲۹۵ مقررې له مخی، "د کمپیوټري سیسټمونو او شبکې خدمتونه - د PWCS د مسؤلانه کارونې او انټرنیټ خوندیتوب پالیسي،" کارکوونکي، زده کوونکي او د PWCS د میلمنو شبکو کاروونکي د ښوونځي د کمپیوټرونو یا انټرنیټي خدماتو په کارولو کې د محرمیت تمه نلري، او نه هم د PWCS کمپیوټرونو یا اړوندو څایونو کارول د فدرالي او ایالتي اساسي قانون د آزاد بیان احکامو لاندې عامه فورم رامینځته کوي. ډیویژن د کارکوونکو او زده کوونکو لخوا د ټولو کمپیوټري او انټرنیټي فعالیتونو د څارنې حق ساتي؛ او هر هغه معلومات یا اړیکې چې د PWCS په کمپیوټري سیسټمونو او شبکې خدماتو کې لیږدول کیږي، کیدای شي د باصلاحیته پرسونل لخوا د رسمي موخو لپاره، په شمول د اداري او جنایي تحقیقاتو لپاره، کشف شي، ثبت شي، ولوستل شي، کاپي شي او افشا شي. د PWCS د کمپیوټرونو، شبکو او انټرنیټ سیسټمونو څخه ګټه پورته کول یو امتیاز دی، نه حق، او د ډېوېژن لخوا بېرته هر وخت اخیستل کېدی شي.

## د خوندیتوب په موخه د سکرینینګ یا پلټنې ټیکنالوژي

PWCS د دوديزو او غير دوديزو ښوونځيو په شمول په منځنيو او عالي ښوونځيو کې او همدارنګه په ورزشي سياليو کې د امنيتي سکرينينګ ټيکنالوژۍ څخه کار اخلي. اوس مهال، په ابتدايۀ ښوونځيو کې د دغې ټيکنالوژي د پلي کولو لپاره کوم پلان شتون نلري. له زده کوونکو څخه تمه کيږي چې يوازې له ټاکل شويو دروازو (ننوتو ځايونو) څخه ګټه پورته کړي. په غير قانوني ډول ننوتل يا له نورو سره په غير قانوني ننوتلو کې مرسته کول د چلند له کوډ څخه سرغړونه ده او کولی شي د تعليق يا د نورو انضباطي اقداماتو د سپارښتنې لامل شي. د امنيتي سکرينينګ ټيکنالوژۍ کارولو په اړه د لا زياتو معلوماتو لپاره، د PWCS په ويب پاڼه کې [د خوندیتوب په موخه د سکرینینګ یا پلټنې ټیکنالوژي](#) پاڼې څخه ليدنه وکړئ.

## ويډيوي امنيت

مهرباني وکړئ خبر اوسئ چې امنيتي کېمرې د PWCS په ټولو ودانيو کې شتون لري او د PWCS د ټولو زده کوونکو، ښوونځی کارکوونکو او ملکيت خونديتوب او تضمين لپاره به کارول کيږي.

# رولونه او مسؤولیتونه

## د پرنس ویلیم کاونټۍ عامه ښوونځي

### د پرنس ویلیم کاونټي ښوونځیو بورډ

د PWCS لپاره د چلند کوډ جوړ شوي دی۔ د ښوونځیو بورډ چی د ښونځیو د سوپرانټینډنټ لا لاری چاری پر مخ بیایی، د زده کوونکو د چلند څخه د نظارت کولو لپاره د ښوونځی ټول کارکوونکی مسئول ګڼي، په داسې حال کې چې کله زده کوونکي په قانوني ډول د ښوونځیو لخوا نظارت کیږي.

د ښوونځي بورډ ټول زده کوونکي د مناسب چلند لپاره مسؤل ګڼي لکه څرنګ چې د ښوونځي بورډ په پالیسیو او مقرراتو کې تعریف شوي او څرنګ چې د PWCS د چلند کوډ (COB) کې لنډیز شوي. د زده کوونکو د چلند او ډیسپلین اداره کوونکې [پالیسۍ او مقررات](#) د PWCS په ویب پاڼه کې موندل کیدی شي.

د PWCS ټول کارکوونکو تر ټولو لوړ اخلاقي معیارونه لري او د خپلو کړنو لپاره مسؤولیت په غاړه لري. له همدې امله، ټول کارکوونکي باید د PWCS پالیسۍ او مقررات عملی کړي.

د ښوونځی بورډ ټول والدین اړ کوي چې د چلند کوډ (COB) ولولی او د زده کوونکی مناسب چلند څخه ملاتړ په موخه پدې کې ذکر شوی هر ډول پالیسی یا مقررات ولولی.

### د زده کوونکو د اوریدنې خانګه (SHD)

د ښوونځي بورډ SHD خانګه دی لپاره ټاکلی ترخو د تدریس او زده کړې لپاره د مناسب او خوندي ښوونځي چاپیریال چمتو کولو په برخه کې د ښوونځي ډیویژن هڅې پلي او همغږې کړي. د SHD موخي په لاندې ډول دي:

- د زده کوونکو جدي انضباطی سرغړونی حل کول.
- د تعلیم لپاره خوندي چاپیریال ته وده ورکول چې د ښوونی او زده کړې لپاره مناسب وي او له تاوتریخوالي، شخړو، او غیر ضروري خنډونو څخه پاک وي.
- د زده کوونکو د اوږدې مودې ځنډونې، اخراج، جلاوالی، او بیا شاملیدو لپاره د پلي کیدو ور پروسې نظارت تر سره کول او د ښوونځي بورډ سره د هر ډول اپیل (استیناف) همغږي تر سره کول.
- د هغو عادي زده کوونکو لپاره د مناسبو تعلیمي خدماتو، پروګرامونو او ځایونو ټاکل چې د نورو انضباطي اقداماتو او/یا د بیا ګومارنې پروسې تر لاندې وي.

### د تنوع، مساواتو، شمولیت , او موافقت خانګه (DEIC)

د تنوع، مساواتو، او شاملولو څانګه (DEIC) لاسرسي ورکولو او فرصت برابرولو کی د پرمختګ کولو، د مثبت اقلیم او کلتور لپاره د مساوي سرچینو، او د کورنیو په ټولنی او ښکیلتیا، او همدارنګه د ټولو لپاره د کلتوري وړتیا او شمولیت باندې ټینګار کولو لا لاری د PWCS د ستراتیژیکی پلان څخه ملاتړ کوي. DEIC، د ښوونځي سایټونو د اړتیاو پر اساس، د روزنو، لارښوونو او نورو سرچینو له لارې د ښوونځیو ټولنو ته ملاتړ وړاندی کوي. DEIC د ښوونځي د ورځني تعاملاتو دننه د کلتوري وړتیا اړوند ستونزو حل کولو لپاره کار کوي. د DEIC ټیم یا ډله په ځانګړې توګه لاندی کارونه تر سره کوي:

- د کارکوونکو ملاتړ کوي کله چې هغوي د ګډې ژبې او د هغو اصطلاحاتو کارولو  چې غیر ویشونکي دي، له لارې د ټولو زده کوونکو او کارکوونکو لپاره  په عملی توګه کلتوري وړتیا فعالوي.
- د زده کوونکو او کارکوونکو په کچه د تنوع، مساوات، او شاملولو فرصتونو سره د ښوونځي په کچه شوراګانو او کمیټو ملاتړ کوي.
- د کورنیو سره د PWCS د ډیسپلین، ځنډونی، او اخراج پروسې په کارولو او پوهیدو کی ملاتړ کوي.
- د ټایټل IX سره په مطابق، د تبعیض، ځورونې، او د جنسیت پر بنسټ د تبعیض او ناسم چلند شکایتونه څیړي او اقدام پرې کوي.

**تعریفونه**

- تنوع - د نسل، توکم، عمر، جنسیت، وړتیا، مذهب، جنسي تمایل، ملي اصل، یا سیاسي ایډیالوژۍ په پام کې نیولو پرته د هر فرد توپیرونو ته ارزښت ورکول کیږي او ورته درناوی کوي.
- مساوات – د نژاد/توکم، ټولنیز-اقتصادي وضعیت، د استوګنې ساحه (کلیوال ځایونه) یا جنسي تمایل پرته ټولو زده کوونکو ته د هغوي د انفرادي اړتیا پر بنسټ د سرچینو، لاسرسي او فرصتونو منصفانه او بې طرفه چمتو کول.
- شاملول/شمولیت - د ټولو زده کوونکو او کارکوونکو لپاره د داسی شرایطو رامینځته کول چې هغوي د ښه راغلاست، د ارزښت لرلو احساس  وکړي، او د بریالیتوب تر لاسه کولو لپاره چمتو شي.

## تعليمي ډله

پداسې حال کې چې ډيسپلين ساتل په ټوله کې د هر يو کس انفرادی مسؤوليت دی، د ډيسپلين اغيزمن پروګرام پلي کول ګډې همکارۍ او هڅو ته اړتيا لري. د ډيسپلين لپاره معادل او د مخنيوی چلند بايد د چلند د معيارونو روښانه کولو لپاره ترسره شي، په اغيزمنه توګه د زده کوونکي انفرادي اړتياوي ارزوی، او هغه اړين عوامل په ډاګه کوي کوم چې ممکن د زده کوونکي په ناوړه توګه چلند کولو کې مرسته کوي. د ښوونځي مدير يو تعليمی لارښود وي څوک چې د ښوونځي اړوند د چلند توقعاتو پراختيا لپاره مسؤوليت په غاړه لري کوم چې د ښوونځي بورډ د پاليسيو او مقرراتو او د چلند کوډ (COB) سره مطابقت لري. اداره کوونکي، ښوونکي، او ملاتړ کوونکي پرسونل ټول په ګډه سره کار کوي تر څو په ښوونځي ډيويژن کې د هر يو زده کوونکي د حقونو او مسؤوليت ونو ډاډ رامنځ ته کړي.

تعليمي ډله د لاندينيو مسؤوليت په غاړه لري:

- د ښوونځي خوندي او مثبت چاپيريال رامنځ ته کول.
- د زده کړې لپاره د خوښی رواني حالت چاپيريال وړاندی کول.
- ځان ډيسپلين کولو ته هڅول.
- د متقابل درناوي فضا رامنځ ته کول.
- د هر زده کوونکي سره د هغوی د اړتياو پر اساس د يو فرد په توګه چلند کول.
- د زده کوونکو پرمختګ هڅول، څارل او ارزول.
- د والدينو سره په ازادانه ډول اړيکی جوړول او ساتل.
- د هر ښوونځي کال په پيل کې د زده کوونکو سره د COB يا چلند کوډ په اړه خبری اتری کول او د ښوونځي کال په بهير کی په دورانی شکل د بيا ځلی کتلو موقع رامنځ ته کول.
- ډاډ ترلاسه کول چې د ښوونځي طرزالعملونه او ارتباطات د PWCS له پاليسيو، مقرراتو او د چلند کوډ سره مطابقت لري.
- په ټول ښوونځي کې په امانتدارۍ سره د PWCS پاليسيو، مقرراتو او د چلند کوډ پلي کول.
- د ټول ښوونځی کال په بهير کی په نوم ليکنی کولو سره ټولو نوي زده کوونکو ته د COB په اړه لارښوونه کول او ورته لاسرسي ورکول.
- د زده کوونکي د اړتياوو او په ټوله کی د ښوونځي چاپيريال پر اساس د عمل کولو لپاره پلان چمتو کول، تر کومه چی امکان ولري.
- کله چې زده کوونکي د ناوړه چلند راپور ورکوي په کوم کی چی د COB څخه سرغړونه شامل وي، د ښوونځي اداره کوونکي د مناسب تعقيبي اقداماتو مسؤوليت په غاړه لري. ښوونکي، سلاکاران او نور د زده کړې خدماتو کارکوونکي مسؤوليت لري چې زده کوونکو سره مرسته وکړی تر څو د اداره کوونکو څخه اړينه مرسته تر لاسه کړای شي. د هر زده کوونکي شکايت ته د ښوونځی کارکوونکو ځواب بايد مستند شي.

### د ښوونی مسلکی کارکوونکی

د ويرجينيا د اعتبار ورکولو معيارونو (8VAC20-132-210) له مخی، "مسلکي تدريسي کارکوونکي د متقابل احترام او ادب په فضا کې د داسی لارښوونې چمتو کولو مسؤوليت په غاړه لري چې له تعليمي پلوه سمه وي."
ښوونکي د يو داسې خوندي، ملاتړي، د پراختيايي او کلتوري پلوه مناسب چاپيريال د رامينځته کولو او ساتلو مسؤوليت په غاړه لري چې د زده کوونکي اکاډميک، چلند، او ټولنيز-احساساتي پرمختګ ته وده ورکړي. د زده کوونکو سره مثبتی اړيکی جوړول چې د متقابل اعتماد او درناوي پر اساس رامينځته شوي وي، د زده کوونکو لاسته راوړنو او چلند باندي يی ځينی لوړ مثبت اغيزې په ډاګه کړي دي. د اړيکو پراختيا د ښوونکي ځانګړي مهارتونو ته اړتيا لري لکه د غوږ نيولو مهارت، خواخوږي، پاملرنه او نورو ته مثبت درناوی لرل. د ښوونکي او زده کوونکی د اړيکی متغيرو اغيزو کې مثبت چلند، انتقادی/ نوښتګر فکر، د رياضی مهارتونه، لفظی مهارتونه او په ټولګي کې لاسته راوړنې شاملې دي.

د زده کوونکو د چلند، د ښوونځي مثبت چاپيريال، اکاډميکی لاسته راوړنو او د مداخلی پرته لارښووونو سره د زده کوونکو په ټولګيو کی ساتلو ترمنځ اړيکې ته په کتو سره، د ښوونکو په مسؤوليت ونو کې شامل دي:

- مثبتی اړيکی جوړول.
- خوندي او مثبت فزيکي چاپيريال رامينځته کول.
- د چلند توقعات اړوند لارښووونه کول (او د اړتيا په وخت کې بياځلی لارښووونه کول).
- په مثبت چلند کولو ټينګار کول.
- د چلند په اړه لارښووونکی نظريات يا نظرونه وړاندې کول.
- د هغو زده کوونکو لپاره چې د چلند توقعات نه پوره کوي، د ښوونځي د مداخلو او ملاتړ له کچو لرونکي چوکاټ څخه ګټه پورته کول.
- شخصي فشار ، هغه عکس العمل يا غبرګون پيژندل کوم چې ممکن د زده کوونکي منفي چلند او شخصي تعصب زيات کړي او په فعاله توګه د حل لاره لټول.
- د زده کوونکي چلند او دغی چلند ته د ښوونکي غبرګون څارلو لپاره انفرادي او د ټولګي معلومات يا ډاټا کارول.

که چیرته یو زده کوونکی د چلند توقعات نه پوره کوي او ښوونکی د ټولګي یا ښوونځي میشته مداخلې پلي کړي لکه څرنګ چې د ښوونځي په کړنلارو کې په ډاګه شوي، نو ښوونکی کولی شي چی د ټولګی څخه د زده کوونکی د ایستلو یا لیری کولو لپاره وړاندیز وکړی.

## د تخصصی تدریس یا ښوونی ملاتړ کوونکی پرسونل

"د زده کوونکو د مثبت او د مخنیوي چلند پالیسی او د ځنډونی بدیل لپاره د ویرجینیا د ښوونې او روزنې بورډ نمونه یی لارښوونه" دا درک کوي چی دا متخصصین د مثبت ښوونځي چاپیریال ته په وده ورکولو کی او ورځخه ملاتړ کې په مستقیم ډول رول لوبوي کوم د چلند قانون د چلند توقعاتو سره په ځان برابرولو کی د زده کوونکو سره د مرستی کولو په موخه په مخنیوي مداخلی، او ملاتړ باندې تمرکز کوي.

### د ښوونځي سلاکاران

د ښوونځي مشورتي پروګرامونه زده کوونکو ته د هغوي په اکاډیمیک، کیریر (حرفه)، شخصي او ټولنیز پرمختګ کې د لارښوونی په کولو سره د ویرجینیا د زده کړې معیارونو څخه ملاتړ کوي. د ښوونځي سلاکاران د لاندي ذکر شوي معیارونو په کارولو سره د والدینو، ښوونکو، اداره کوونکو او نورو سره په ګډه زده کړې ته هڅولو او د زده کوونکو سره د زده کړې، کیریر، او شخصي موخو برابرولو او لاسته کولو کی مرسته کوي.

- اکاډمیک پرمختګ - د ثانوي ښوونځي په بشپړولو سره، زده کوونکي به بیلابیلو تعلیمي، روزنې، او دندې انتخابونو څخه غوره کولو لپاره اړین اکاډمیک چمتووالی ترلاسه کوی.
- د مسلک پراختیا - زده کوونکي به په احتیاط سره د مسلک باخبره پریکړې کولو لپاره د کارې نړی څیړنه وکړي.
- ټولنیز احساساتي - زده کوونکي به د ځان او نورو په اړه پوهه او درناوی ولري او د یو مسؤولیت لرونکي اتباع کیدو لپاره به اړین مهارتونه تر لاسه کړی.

### د ښوونځي ټولنیز کارکوونکي

د ښوونځي ټولنیز کارکوونکی د کورنیو او د ټولنیزه سیستمونو په اړه او د زده کوونکو او د هغوی کورنی د ټولنې د خدماتو سره د وصلولو په برخه کی ځانګړي مهارت او پوهه لري کوم چې د زده کوونکو د بریالیتوب لپاره اړین دي. هغوی د هغو خنډونو د لرې کولو لپاره کار کوي چې د بې وزلی، نامناسب روغتیایی پاملرنې او د ګاونډ د تاوتریخوالي له امله رامینځته کیږي.

د ښوونځي ټولنیز کارکوونکی ډیری وخت د زده کوونکو زیان منونکي نفوس ته ملاتړ چمتو کولو باندې تمرکز کوي څوک چې د ښوونځی څخه تښتی او د ښوونځیو پریښودو لوړ خطر سره مخ دي، د بیلګی په توګه بې کوره او فرزندي اخیستل شوي ماشومان، کډه شوي زده کوونکی، هغه زده کوونکي چی د ښوونځي او د درملنې پروګرامونو تر مینځ د لیږد په حالت کی دی، یا د ځوانانو قضایي سیستم، یا هغه زده کوونکي چې کورني تاوتریخوالي تجربه کوي.

هغوي د ښوونکو، اداره کوونکو، والدینو او نورو ښوونکو سره له نږدې څخه کار کوي ترڅو همغږي شوي مداخلې او مشورې رامنځ ته کړی کوم چې د زده کوونکو په ښوونځیو کې د ساتلو او د هغوي کورنیو سره د مرستی کولو لپاره ډیزاین شوي دي ترڅو کورنی د زده کوونکو د بریا په موخه ملاتړ تر لاسه کړی شي.

### د ښوونځي ارواپوهان

د ښوونځي ارواپوهان ځانګړي روزنه لري چې دوی ته وړتیا ورکوي ترڅو زده کوونکو وپیژنی او د هغوي سره د اکاډمیکی پرمختګ، چلند، ټولنیز - احساساتي پراختیا، او اړیکو په تړاو کار وکړي. د ښوونځي ارواپوهان د پیچلي زده کوونکي او ښوونځي ستونزو تحلیل کولو او په کور او ښوونځي کې د پایلو ښه کولو په موخه د شواهدو پر بنسټ مداخلې غوره کولو او پلي کولو کې تخصص لري.

ارواپوهان ممکن د ښوونکو او والدینو سره سلا مشورې وکړي ترڅو د زده کوونکو اکاډمیکی، ټولنیز، او د چلند اړتیاو لپاره خدمات او ملاتړ وړاندی کړي. د خطر، ګواښ پیژندلو او معلوماتو راټولولو، ارزونې، او تشریح کولو کی د ارواپوهانو روزنه کولی شي د هغه ملاتړ په ګوته کولو او پلي کولو کې مرسته وکړي چې زده کوونکي ورته اړتیا لري تر څو د هغوي بریالیتوب ډاډمن کړي.

### د چلند متخصصین

د چلند متخصصین د زده کوونکو د چلند اصلی لاملونه په ګوته کولو لپاره ارزونی تر سره کوي او د زده کوونکو د ننګونکی چلند ستونزی حل کولو کی د ښوونځی کارکوونکو سره د ستراتیژیو په رامینځته کولو کی مرسته کوي. د چلند متخصصین ښوونکی روزی ترڅو د فعال ټولګی مدیریت ستراتیژیانې او مناسب چلند ځوابونه پیاوړی کړی ترڅو د لوړ کیفیت لارښوونې معیار وساتی.

هغوی د ښوونځي له ټیمونو سره مشوره کوي ترڅو د ملاتړ څو پوړیز سیستم (MTSS) د هراړخیز چوکاټ د برخې په توګه د مثبت چلند مداخلې او ملاتړ (PBIS) او اصلاحي کړنې پیاوړې کړي. هغوي د ښوونځی اداري او ډیویژن ملاتړی کارکوونکو سره په ګډه کار کوی ترڅو د زده کوونکو د چلند څخه د ملاتړ لپاره دوام داره مسلکی زده کړې وړاندی کړی.

د ښوونځي نرسان

د ښوونځي نرس د زده کوونکو زده کړو په اړه خنډونو ته د تیز او اوږد مهاله ناروغیو حالتونو اداره کولو، راجع کولو، او لومړني پاملرنې ته لاسرسي لپاره ملاتړ، خدماتو مخنیوي، د خارې ناروغیو کنټرولو اقداماتو، د روغتیا ترویج لپاره مشوره، او د روغتیا اړوند خنډونو پیژندلو او مدیریت په برخه کې بیړني پاملرنې ارزونې او مداخلې، تر سره کوي.

غیر معتبر یا غیر تصدیق لرونکی کارکوونکي

د ښوونځی د ټولنې ټول غړي باید د ښوونځی په مثبت چاپیریال رامینځته کولو کې بوخت وی او مسؤولیت یی په غاړه ولري او د ښوونځی هر کارکوونکی د خوندی، ملاتړ کونکی او اغیزمن زده کړې چاپیریال ډاډ رامنځته کولو مسؤولیت لری.

# د ښوونځی امنیتي افسران

د ښوونځي امنیتي افسر (SRO) د ویرجینیا قانون ۱۰۱-۹.۱ § تر لاندی "د یو تصدیق شوي قانون پلي کوونکي افسر په توګه تعریف شوی چې د سیمه ییز قانون پلي کونکي اداري لخوا ګمارل شوی ترڅو د ویرجینیا ابتدایه او ثانوي ښوونځیو ته د قانون پلي کولو او امنیتي خدمات وړاندی کړي." په هر صورت، قانون پلي کوونکي افسران د ښوونځي کی ډیسپلین رامینځته کولو لپاره نه دي. په پرنس ویلیم کاونټی عامه ښوونځیو کی د جنایي قانون په سرغړونو باندي تمرکز کولو سره، د قانون پلی کوونکو رول د یو مثبت او ملاتړ کوونکی چاپیریال رامنځ ته کولو او یو خوندي چاپیریال ساتلو او رامنځ ته کولو په برخه کی دی، بل خوا ته د ښوونځي مدیران پدې باندې تمرکز کوي چې ایا د زده کوونکي چلند د چلند قانون COB د احکامو څخه سرغړونه کوي او که څرنګ.

د ویرجینیا کوډ ۲۲.۱-۲۷۹,۳:۱ § له مخی د ښوونځي چارواکی اړ دی چې د ځینې احتمالي جنايي جرمونو په اړه سیمه ییزه قانون پلي کوونکو ادارو ته راپور ورکړي.

# کورنی د ملتیا کوونکو په توګه

د ښوونځیو د خوندي کولو، د اغیزمنی زده کړې چاپیریال رامینځته کولو او د ماشومانو ټولنیز-احساساتي پراختیا ته وده ورکولو کې PWCS د ښوونځیو او کورنیو ترمینځ د ملتیا په ارزښت پوهیږي. PWCS د کورنیو او ښوونکو تر منځ د مثبتو اړیکو په اهمیت ټینګار کوي او کورنی هڅوی چې په یو داسی ځای کی دی یوځای شي چیرته چی هغوي د خپلو ماشومانو لپاره د خپلو اندیښنو په اړه خبری وکړي، وړاندیزونه وړاندی کړي او د خپلو ماشومانو په اړه معلوماتونه تر لاسه کړای شی تر څو د ښوونځي ټولنی د پیاوړې کولو په موخه د کورنیو او ښوونځیو ترمینځ مثبت ملګرتیا رامینځ ته کړی.

په تعلیم کی د شریکانو په توګه، والدین باید:

- د زده کوونکو د چلند معیارونه پلي کولو او د ښوونځي اجباري حاضري پلي کولو کې د ښوونځي سره مرسته وکړی ترڅو ښوونه او روزنه په یو داسی چاپیریال کی تر سره شی چی خلکو او ملکیت ته د ګډوډي او ګواښ څخه پاک وي، او د انفرادي حقونو ملاتړ کوونکي وي. (د ویرجینیا کوډ ۲۲.۱-۲۷۹.۳(a) §).
- COB ولولی او تصدیق یا پخلی یی وکړي، د زده کوونکی مناسب چلند کولو ته وهڅوئ، ښوونځی سره د زده کوونکي په ډیسپلین کولو کی مرسته وکړئ او د ښوونځي چارواکو سره وګوری که در څخه غوښتنه وشوه ترڅو د ډیسپلین او ښوونځي حاضری اړوند ستونزو په اړه بحث تر سره شي.
- په کور کې وسلې په خوندی ډول سمبال کړئ.
- یو بیان لاسلیک کړئ چې دا په ډاګه کړی چې هغوی په خپلو مسؤلیت ونو پوهیږي. دا څرګندونه یا بیان په ParentVUE کی "بیرته ښوونځي ته د ستنېدو" په کلنی پاکټ کی شتون لري.
- هر کال د ښوونځي کال له پیل کیدو وړاندې یا د ښوونځي په لومړیو اونیو کې بیرته ښوونځی ته د ستنیدو په پاکټ کی د چلند کوډ او نور اړین قانوني تصدیقونی ولولي.
- ډاډ ترلاسه کړي چې زده کوونکی د ښوونځي لپاره مناسبې جامې اغوندي لکه څرنګ چې د جامو کوډ یا قانون کی مشخص شوي دی او کوم چې په سیمه ییزه ښوونځیو کې د زده کوونکو، والدینو او د کارکوونکو لخوا په ګډه سره جوړیږي.
- د ښوونځي په پروګرامونو کې په اغیزمنه توګه د ګډون کولو لپاره اړین کتابونه، توکي، وسایل، یونیفورم او تجهیزات چمتو کړئ.
- د مینځني او عالي ښوونځی زده کوونکو لپاره د ارتقا او فراغت شرایطو باندی ځان پوه کړئ کوم چی هر کال په ثانوی کورس نوملړ یا کټلاګ کې خپریږي.
- بیرته ښوونځی ته د ستنیدو کلنی پاکټ له لاری ښوونځي ته د ټلیفون شمیرو په شمول په بیړنی حالت کی د اړیکی ټینګولو تازه معلومات ورکړی ترڅو دا ډاډ ترلاسه شي چې په بیړنی حالت کی ښوونځی وکولی شي د والدینو سره اړیکه ټینګه کړی.
- ښوونځي کی په لومړني ځل د شاملیدو پرمهال، ښوونځی ته د زده کوونکي د زیږون کارت تصدیق شوی کاپي، او/یا د کډوالی اسناد، فزیکي معاینات، د واکسینو بشپړ شوی ریکارډ ورکړی.
- په یاد ولری، لکه څرنګ چې په COB کوډ کې تشریح شوي دي، د ښوونځي بوړډ په ملکیت کی، په ښوونځي فعالیتونو کې، د ښوونځي او بس تم ځایونو ته تګ راتګ په وخت کی، د ښوونځي په بسونو کې، بس تم ځایونو کې، او په هغه حالاتو کې چې د ښوونځي څخه بهر د ښوونځي لخوا سپانسر شوي فعالیتونو لکه د سیمه ییزه سفرونه، سپورتی پیښو، او د لوبغاړی فعالیتونو کی مخدره توکي کارول او له ځانه سره وسلې لرل به د زغملو وړ نه وي، او دا چې سرغړونکي به د اصلاحي اقدام سره مخ کیږي چه په هغی کی د ښوونځی څخه شړل هم شامل دي.

والدين حق لري چې د ښوونځي يا ښوونځي ډيويژن د پاليسيو يا پريکړو سره مخالفت وکړي. والدين کولی شي د خپل زده کونکي په اړه د هغو طرزالعملونو په کارولو سره چې د PWCS په پاليسيو او مقرراتو کې بيان شوي، د پريکړو په وړاندې استيناف غوښتنه وکړي.

# د زده کوونکو توقعات

## د زده کوونکو مسؤوليتونه

زده کوونکی، د ښوونځی کارکوونکی او والدين د منظم او خوندي ښوونځي چاپيريال لپاره په ګډه مسؤوليت په غاړه لري. د نشه يی توکو، وسلو، يا نور فکتورونه چې ممکن د نورو زده کوونکو يا د ښوونځي چاپيريال لپاره زيانمن وي، بايد په اړه يی راپور ورکړل شي. د COB سرغړونو راپور ورکولو له امله که د غچ اخيستلو کوښښ يا عمل تر سره کيږی، بايد په اړه يی د اصلاحي عمل له لاری اقدام تر سره شی چی په هغی کی د ښوونځی څخه ويستل هم شامل دي.

هغه زده کوونکي چې د نشه يی توکو، وسلو، تاوتريخوالي، يا نورو ناوړه کړنو په اړه معلومات لري کوم چې ممکن نورو زده کوونکو يا د ښوونځي چاپيريال ته زيان رسوي، که چيرته د ښوونځی چارواکو ته يی په اړه راپور ورکولو کی پاتی راشي، ممکن د انضباطی اقدام سره مخ شي.

هغه زده کوونکي چې په خپل ملکيت کې داسې کوم څيز ومومي چې په ښوونځي کې منع وي، بايد په اړه يی ژر تر ژره د ښوونځی اداره کوونکی يا د ښوونځی کوم بل کارکوونکی ته راپور ورکړی. د ښوونځي کارکوونکی څوک چې وروسته د دی دوسيی تعقيبولو مسئوليت په غاړه لری بايد دا خبره په پام کې ونيسي چې زده کوونکی په داوطلبانه ډول دا د ښوونځی کارکوونکی په پام کې راوړی وه. زده کوونکي بايد زر تر زره پازوال/اداره کوونکی، ښوونکي، سلاکار يا کوم بل باوري بالغ کس خبر کړی که چيرته هغوی معلومات لری يا په دی باور دی چې هغوی د ناوړه چلند قربانيان دي کوم چی د COB څخه سرغړونه ده.

## د حاضری پاليسی

د ويرجينيا آيالت قانون پر اساس، کله چی ښوونځی خلاص وي، زده کوونکي هره ورځ ښوونځي ته د حاضريدو مسؤوليت په غاړه لري. غير حاضری، او په ځنډ سره حاضريدل او / يا له وخت مخکی رخصت کيدل بايد د والدينو او/ يا د ښوونځي کارکوونکو لخوا مستنده تاييدی ولري. له ښوونځي څخه د غير حاضری په نتيجه کی د غير حاضری عذر کولو لپاره والدين بايد په پنځه ورځو کی دننه د ښوونځي مناسب کارکوونکو ته اسناد په لاس ورکړی. د عذر شوي غيرحاضريو لپاره د ټولګي دنده د PWCS پاليسيو او مقرراتو سره سم تر سره کيدی شي.

زده کوونکی يا والدين د کورنی دندی ترلاسه کولو مسؤوليت په غاړه لري. هغه زده کوونکي چی ښوونځي ته ناوخته راځي بايد ښوونځي ته د ننوتلو لپاره د ښوونځي طرزالعمل تعقيب کړي.

# د زده کوونکی چلند لپاره ملاتړی اقدامات

## اصلاحي یا رغوونکی اقدامات

اصلاحي یا رغوونکی اقدامات یو داسې راپورته کېدونکي ټولنیز ساینس دی چې په دی باندی ځېرنه کوي چی په ټولنو کې د خلکو تر مینځ د اړیکو سره سره ټولنیزی اړیکی باید څرنګه پیاوړې شي. ځېړنې دا ډول ښیې چې د اصلاحي یا رغوونکی اقداماتو کارول د ښوونځي اقلیم ښه کوي او د زده کوونکو د ځنډونی او ډیسپلین ناخوالی یا فرق کموي. ځېړنې په ډاګه کړي ده چې د ښوونځي خوندیتوب ته د ښوونځي څخه بهر ځنډونی، د صفر زغم پالیسی، او "سختېدل" چلندونه غیر موثر دي او د منفي ټولنیزو او اکاډمیکی پایلو خطر زیاتوي، په ځانګړې توګه د تاریخي پلوه زیانمنونکي ډلو ماشومانو لپاره.

د اصلاحي یا رغوونکی اقداماتو سره د ښوونې او روزنې د مخنیوي کوونکی موقف څخه د ښوونځي ډیسپلین ته عکس العمل ښودل د ښوونځي مثبت چاپېریال کې مرسته کوي او مساوات، انصاف، او دوامداره پرمختګ تضمینوي. PWCS په ټول ډیویژن کې د رغوونکی اقداماتو او د رغوونکی اقداماتو ټیمونو په برخه کی روزل شوي د ښوونځي کارکوونکو شمیر زیاتولو ته دوام ورکوي. د اړیکو د جوړولو له لاری رغوونکی اقدامات د ښوونځیو خوندي ساتلو اړتیا لپاره عملی شوي دي چې د ښوونځي ټولنیز جوړښت پیاوړی کوي. رغوونکی اقدامات د غلطو کارونو د حل لارې په موخه د ښوونځي ټولنې د ښکیلتیا لپاره فرصتونه برابروي پداسې حال کې چې زده کوونکي او  کارکوونکی پیاوړی کوي تر څو د ټول ښوونځي ټولنې د هوساینې لپاره په شخصي توګه مسؤولیت  په غاړه واخلي.

رغوونکی اقدامات د هغه زده کوونکو لپاره په مستقیم ډول فرصتونه وړاندی کوي چې نورو ته یې زیان رسولی ترڅو د ځان او کورنی په ګډون د هغو کسانو لپاره حساب ورکوونکي اوسی چې دوی زیانمن کړي. رغوونکی اقدامات د زیانمنونکي چلند د اغیزو په اړه د زیانمنونکي او همدارنګه د ښوونځي ټولنی په اړه هغه زده کوونکو ته پوهه ورکولو اړتیا باندی ټینګار کوي چې نورو ته یې زیان رسولی اوسی. په اصلاحي یا رغوونکی ډیسپلین پروسه کې، برخه اخیستونکي د هغه اصلي عواملو په اړه زده کوي چې د کمزوری پریکړو کولو لامل کیږي. هغوي ټولنیز مهارتونه عملی کوي او د ځان د ښه کولو ستراتیژۍ زده کوي کوم چې په راتلونکي کې غوره پریکړه کول هڅوي. اصلاحي کړنې د ډیسپلین ځای نه نیسي مګر د اړیکو په جوړولو او شخصي مسؤولیت  باندې په تمرکز کولو سره د هغې تکمیل کوي.  دا مهارتونه نه یوازې په ښوونځي کې بلکې زمونږ د ټولنې د غړو په توګه د زده کوونکو بریا ته لاره هواروي.

## د ملاتړ څو پوړیز یا درجه ییز سیستم

د ملاتړ څو پوړیز سیستم (MTSS) یو څېړلوونکی یا تطبیقی او څواب ویونکی کاری چوکاټ دی چې له ښوونځیو سره د هغه زده کوونکو لپاره د موخه ییزه ملاتړ په پیژندلو او وړاندی کولو  کی مرسته کوي څوک چی له اکاډمیکی او/یا د چلند کولو پلوه د ستونزی سره مخ دي.

تمرکز په دی خبره دئ چې زده کوونکي په نامه، وړتیا او د اړتیا له مخی وپیژندل شي، پداسی حال کی چی د ټولو ښوونځیو او د ټولو زده کوونکو لپاره د توپیری لارښوونو او اړین اکاډمیکی، چلند او ټولنیز-احساساتی هوساینې وړاندی کیږي. په PWCS کې، MTSS د پیاوړي او ګډی همکاری پر بنسټ جوړ شوی دی، په دې باور سره پراخه شوي چې ټول زده کوونکي کولی شي په لوړه کچه زده کړی تر سره کړي.

د انګلیسي ژبی زده کوونکو او معلولیت لرونکو زده کوونکو د اکاډمیکی پرمختګ په ښه کولو باندی تمرکز کولو سره، PWCS به په ټولو ټولګیو او محتوی برخو کې همغږي، بیان شوي، تنظیم شوي، کلتوري او ژبني ځواب ویونکی د لارښوونې اقدامات او د زده کړې لارې عملی کړي.

لاندی ذکر شوي د MTSS کلیدي برخې دي:

- د یو پیژندل شوي مشر سره د زده کوونکو د ملاتړ ټیم (SST) تر څو د MTSS د پلي کولو لارښوونه وکړي.
- د ټولو زده کوونکو لپاره په ګډه سره د مسٔولیت پیژندلو رواج/کلتور.
- د اکاډمیکو زده کړو، چلند، او د زده کوونکو ټولنیز - احساساتي هوساینې لپاره لوړ کیفیت لرونکی بنسټیزی لارښوونی.
- موخی ټاکل او د زده کوونکو پرمختګ څارل.
- په ټولو برخو کې د معلوماتو پر اساس باخبری پریکړې.
- د شواهدو پر بنسټ د مداخلو په وخت سره تطبیقول.
- د زده کوونکو د بریالیتوب څخه د ملاتړ په موخه کورنی د مستند شریکانو په توګه.

## د چلند لپاره مثبتی مداخلې او ملاتړ

د چلند مثبتی مداخلې او ملاتړ (PBIS) د شواهدو پر اساس یو داسی کاری چوکاټ دی چې په ښوونځیو کې مثبت چلند هڅولو او د ننګونکی چلند څخه د مخنیوی لپاره کارول کیږی. دا پر مخنیوي، د ټولنیزو مهارتونو پر ښوولو او د ملاتړ کونکي ښوونځي فضا رامینځته کولو ټینګار کوي. موخه یی دا ده چې د زده کوونکو هوسایني او اکاډمیک بریالیتوب ته وده ورکړی پداسې حال کې چې ګډوډی او انضباطی اقدامات کموي.

## د چلند لپاره مثبتی مداخلې او ملاتړ (PBIS) او رغوونکې اقداماتو ترمنځ اړیکه

PBIS او رغوونکې اقدامات (RP) کولی شی په ښوونځیو کې د مثبت اقلیم او کلتور رامینځته کولو لپاره په ګډه کار وکړي، پداسې حال کې چې په اخراجونکی انضباطي اقداماتو باندی تکیه کونه کموی. د PBIS او اصلاحي یا رغوونکی اقدامات ادغام یا یوځای کیدنه د هغو پایلو ځاي نه نیسی چی د PWCS د چلند کوډ سره په مطابق دي. د PBIS او رغوونکې اقداماتو په یو ځائ کولو سره، د ښوونځی کارکوونکی کولی شی د چلند مدیریت لپاره جامع تګلاره رامینځته کړی چې په مخنیوی، مثبتو اړیکو، او د زیان په رغولو باندې ټینګار کوی.

## پوړیز یا درجه وار ملاتړ

MTSS یو داسی کاری چوکاټ دی چې د زده کوونکو بیلابیل چلند او اکاډمیکی اړتیاوي پوره کولو لپاره څو پوړیزه یا درجه وار تګلاره وړاندی کوی. PBIS او رغوونکې اقدامات د MTSS په چوکاټ کې دننه د ملاتړ مختلف پوړونو یا سلسلو کې مدغم کیدی شی. د ټولو زده کوونکو لپاره د ښوونځی په کچه د چلند توقعات رامنځته کولو او د فعاله ستراتیژیو په وړاندی کولو سره، PBIS د نړیوال لومړي پوړ یا درجی ملاتړ په توګه پلی کیدی شی. رغوونکې اقدامات د ټولو زده کوونکو ترمنځ د ټولنې احساس رامینځته کولو لپاره په لومړی پوړ یا درجه کی هم کارول کیدی شي. سربیره پردې، رغوونکی اقدامات کولی شی د زده کوونکو د چلند مشخصی اندیښنې حل کولو او انفرادی مداخلې وړاندی کولو په موخه د 2 پوړ یا 3 پوړ ملاتړ لپاره چوکاټ یا جوړښت وړاندی کړی. هغه زده کوونکي چې چلندي وړتیاوو کی مهارت ترلاسه کولو لپاره اضافي ملاتړ ته اړتیا لري، هغوي ته به داسی مداخلې وړاندی شي چې مطلوب چلند ور زده کوي او تقویه کوي.

## په مثبت چلند باندې ګډ تمرکز

PBIS د ټولو زده کوونکو لپاره د مثبت چلند په هڅولو او د ملاتړ چاپیریال رامینځته کولو په اهمیت ټینګار کوی. رغوونکې اقدامات مثبتې اړیکې هم هڅوي او د ټولنې احساس رامینځته کوی. دواړه تګلاری د مثبت چلند پراختیا او پیاوړتیا ته لومړیتوب ورکوی، کوم چې د ښوونځی مثبت اقلیم/چاپیریال ته وده ورکولو کې مرسته کوی.

## مخنیوی او په وخت مداخله

د PBIS موخه دا ده چی د فعال ستراتیژیو له لارې د ننګونکی چلند مخه ونیسی، لکه په څرګند ډول تدریس، پیاوړی کول، او د زده کوونکو د توقع وړ چلند هڅول. د رغوونکې اقداماتو موخی د دغو ګرد چاپیره څرخیږي، لکه په وخت مداخله کول، د خبرو اترو لپاره د فرصتونو برابرول، انعکاس او ستونزی حل کول له دی مخکی چی شخړی زیاتی شي. په سره د چلند ستونزی حل کولو سره، دواړه تګلارې کولی شی د اخراج کولو ډیسپلین اقداماتو پورته کولو لپاره د اړتیا په کمولو کې مرسته وکړی.

## روښانه او دوامداره توقعات

PBIS په ښوونځی کې په سراسري ډول د چلند روښانه توقعات رامینځته کوی، د چلند مدیریت کولو کې دوام لرنه هڅوي. رغوونکې اقدامات د چلند او اړیکو لپاره په روښانه توقعاتو تکیه کوی، زده کوونکي او کارکوونکي ور کوي چې پدی پوه شی چې څرنګ په مؤثره توګه په رغوونکې خبرو اترو (او جوړښتونو) کې ښکیل شی. د دغو توقعاتو برابرولو سره، دواړه تګلارې د زده کوونکو او کارکوونکو ترمینځ ګډه ژبه او پوهه رامینځته کوی.

## رغوونکی / اصلاحي پایلې

PBIS د چلند سرغړونو لپاره، د منطقی او رغوونکې پایلو کارول هڅوی، یوازې د مجازاتو په اقداماتو باندی د تکیه کولو پرځای، په ښوونه او د سم چلند په عملی کولو باندی تمرکز کوی. رغوونکې اقدامات د زده کوونکي د چلند له امله رامینځته شوي زیانونو سمولو لپاره د خبرو اترو، خواخوری، او احتساب له لارې کاری چوکاټ وړاندی کوي. د رغوونکې پایلو په شاملولو سره، دواړه تګلارې پرمختګ هڅوي، زده کوونکو سره په قضاوت کولو کې د تیروتنو څخه زده کولو کې مرسته کوی، او د سرغړونو بیا تکراریدنه کموی. رغوونکې کړنې د چلند کوډ د سرغړونو لپاره د انضباطي پایلو ځای نه نیسي مګر ورسره یوځای کیږي.

## د اړیکو جوړول او خواخوری زیاتول

رغوونکې اقدامات د زده کوونکو او کارکوونکو ترمینځ په مثبت اړیکو، خواخوری، او تفاهم رامینځته کولو باندې ټینګار کوی. PBIS د ملاتړی ښوونځی چاپیریال ته وده ورکولو لپاره د مثبتو اړیکو اهمیت پیژنی. د خواخوری هڅولو او اړیکو رامینځته کولو سره، دواړه تګلارې د لا زیات جامع او ټرل شوی ښوونځی ټولنې په رامنځته کولو کې مرسته کوی.

### د ډاټا معلوماتو پر اساس باخبره پریکړې تر سره کول

د چلند مداخلو او ملاتړ سره په تړاو، PBIS د باخبره پریکړې پروسو لپاره ډاټا کاروي. رغوونکې اقدامات په ډاټا باندې هم تکیه کوی ترڅو د رغوونکی پروسو اغیزمنتوب وو ارزوی او د پرمختګ برخې په ګوته کړي. د معلوماتو / ډاټا په کارولو سره، دواړه تګلارې کولی شی د چلند رحجانات په ګوته کړي، د مداخلو اغیزې معلومې کړی، او د اخراج ډیسپلین اقدامات په مؤثره توګه کمولو لپاره ستراتیژیکې پریکړې وکړی.

# د زده کوونکی چلند ته درجه وار یا پوړیز ځوابونه

د زده کوونکی چلند ته درجه وار یا پوړیز ځوابونه د ملاتړ څو پوړیز سیسټم (MTSS) کاری چوکاټ یوه برخه ده په کوم کی چې لارښوونې، مخنیوي، او فعالې ستراتیژۍ شاملې دي. کله چې زده کوونکي د چلند توقعات نه پوریه کوي، هغوي د چلند اصلي لاملونو په اړه خبری کولو او د منلو وړ بدیل چلند زده کولو لپاره مداخلې او ملاتړ ترلاسه کوي. د رغوونکې یا اصلاحي اقداماتو کارولو له لارې، زده کوونکی به د یو ښه اتباع جوړیدو په موخه ځان او نورو ته درناوی کول زده کړي او مهارتونو به تر لاسه کړي. هغه مداخلې او غبرګونونه/ځوابونه چې د رغوونکې اقداماتو کارونه پکې شامل وي، د چلند د قانون څخه سرغړونو لپاره د **پایلو ځائ نه نیسی**. کله چې د یو مشخص زده کوونکي چلند د مداخلې وروسته بدلون نه مومی یا د چلند تکرار، شدت، یا موده زیاتیږي؛ د ستونزې د حل کولو طریقه بدیلی مداخلې او ځوابونه په ګوته کوي. لاندې "مداخلې" او "انضباطي غبرګونونه" لارښوونه ورانډی کوي مګر د هر لیست پورې محدود ندي.

## د ۱ درجی یا کچی ځوابونه/غبرګونونه

د 1 درجی غبرګونونه د چلند د لا زیات ستونزو مخنیوی په موخه دی، پداسې حال کې چې زده کوونکی په ښوونځی کې ساتی.

**د ښوونځي/ټولګي مداخلو بیلګی او انضباطي ځوابونه:**

**د ۱ درجی یا کچی مداخلي**

- د والدینو/سرپرست سره اړیکه.
- د زده کوونکو سره کنفرانس/خبری اتری
- د ټولګي غونډه.
- د حلل اچووونکی مخابراتی او ساتیرۍ وسیلو ضبط کول.
- د تمباکو او چهلم کارولو مخنیوي باندې تمرکز کول.
- د خوښی یا مطلوب چلند بیاځلی ښوونه او نندارہ کونه.
- د مناسب چلند پیژندل یا ستایل او انعام ورکول.
- د ښوونکي/زده کوونکي یا د ښوونکو/زده کوونکي/والدینو غونډه یا ناسته.
- د اداره کوونکی او زده کوونکی کنفرانس او/یا د اداره کوونکی/زده کوونکی/ښوونکی کنفرانس.
- لیکل شوی انعکاس یا ځان ارزونه او یا د ښښنې غوښتلو لیک.
- د ملګرو منځګړیتوب یا د شخړو حل.
- د چلند د پرمختګ چارټ.
- د ټولنی خدمات (چی د چلند سمولو لپاره مناسب وي).
- د اداره کوونکی, ښوونکی, والدینو/سرپرست کنفرانس.

**د ۱ درجی یا کچی انضباطی ځوابونه/غبرګونونه**

- جبران کول یا تاوان ورکول.
- د څوکی بدلول.
- د ښوونځی د امتیازاتو له لاسه ورکول یا په لنډمهاله ډول ځندول/تعلیق.
- ضبطول.
- توقیف (له ښوونځي مخکې، د غرمې ډوډۍ په وخت کی، له ښوونځي څخه وروسته).

## د ۲ درجی یا کچی ځوابونه/غبرګونونه

په دې درجه/کچه کی اداری غبرګونونه او مداخلې د دې لپاره ډیزاین شوی چې د چلند د لا زیاتو ستونزو مخه ونیسی او زده کوونکی په ښوونځی کې وساتی. د چلند شدت پورې اړه لرلو سره، د ټولګی څخه د زده کوونکی لنډی مودی لپاره لیرې کول ممکن مناسب وی.

**د ښوونځي/ټولګي مداخلو بیلګی او انضباطي ځوابونه:**

**د ۲ درجی یا کچی مداخلي**

- د زده کوونکو سره کنفرانس/خبری اتری
- د اصلاحي یا رغوونکی اقداماتو کنفرانس او/یا حلقه (رسمي).
- د اداره کوونکی، ښوونکی، سلاکار یا کونسلر، زده کوونکو کنفرانس (د متوقع چلند بیاځلی ښوونه پکی شامله ده).
- د اداره کوونکی, ښوونکی, والدینو/سرپرست کنفرانس.
- د راتګ او بیرته تګ وخت ځارل
- د یو لارښود ګمارل.
- د ملګرو منځګړیتوب یا د شخړو حل.
- ملاتړی خدماتو ته راجع کول (د بیلګې په توګه، د ښوونځي سلاکار، د چلند متخصص، د لارښوونی پروګرام، او د زده کوونکی د ملاتړ ټیم (د بیلګې په توګه، MTSS)، د نشه یی توکو د کارولو او مداخلې پروګرام).
- د انفرادي زده کړی پروګرام (IEP) یا ۵۰۴ ټیم لخوا بیاکتنه (که د پلي کیدو وړ وي).
- د ګواښ ارزونې ټیم ته راجع کول.
- د ټولنی خدمات (د چلند سمولو لپاره مناسب).
- د ټولنې اړوند خدماتو ته راجع کول.

**د ۲ درجی انضباطی ځوابونه**

- د ټولګی په مهالویش کی بدلون.
- توقیف (له ښوونځي څخه مخکې، د غرمې ډوډی، په وخت کی، د ښوونځي څخه وروسته).
- د شنبې ورځ توقیف/ښوونځی
- جبران.
- ضبط کول.
- د ښوونځی د امتیازاتو له لاسه ورکول یا په لنډمهاله ډول ځنډیدل.
- د چلند مداخلو او/یا اصلاحي یا رغوونکی اقداماتو سره په ښوونځي کې تعلیق یا ځنډونه (۱ څخه تر ۳ ورځو پوری).

## د ۳ درجی یا کچی ځوابونه/غبرګونونه

د چلند شدت، تکراري بڼې، او/یا امنیتي اندیښنو ته په کتو سره، د دریمی کچی چلند کیدای شي له ښوونځي څخه د زده کونکي د لنډمهاله ایستلو لامل شي

**د ښوونځي/ټولګي مداخلو بیلګی او انضباطي ځوابونه:**

**د ۳ درجی یا کچی مداخلي**

- د اداره کوونکی/ښوونکی/والدینو/سرپرست کنفرانس.
- د چلند تړون (چې د زده کوونکي، مور او پلار او د ښوونځي د چارواکو لخوا رامینځته شوی او لاسلیک شوی وي).
- د فعالیت وړ چلند ارزونه (FBA) او د چلند د مداخلې پلان (BIP).
- د ګواښ ارزونې ټیم ته راجع کول.
- د ټولنې اړونده اداري ته راجع کول، د رواني روغتیا خدمات، د نشه یی توکو څخه د ناوړه ګټه اخیستنې مشورتي خدمات، او نور وغیره.

**د ۳ درجی یا کچی انضباطی غبرګونونه**

- توقیف (توقیفونه)
- د رغوونکې اقداماتو سره په ښوونځی کې دننه ځنډونه (دری یا زیاتی ورځی، باید د پنځه ورځو څخه زیات نشي).
- د امتیازاتو بیرته اخیستل یا منسوخول.
- جبران کول یا تاوان ورکول.
- د زده کړي بدیلو پروګرامونو ته راجع کول.
- بیرته را ستنېدو پرمهال د اصلاحي حلقې یا غونډې سره له ښوونځي څخه بهر لنډمهاله تعلیق (۱ تر ۳ ورځو پوری د ابتدایه ښوونځي زده کوونکو لپاره، ۱ تر ۵ ورځو پوری د منځنیو او عالي ښوونځي زده کوونکو لپاره)
- د هغو سرغړونو لپاره قانون پلي کونکو ته راجع کول چې د اجباري راپور په توګه په "هغه کړنی چې زده کوونکی پرې ډیسپلین کیدی شي" برخه کی په ډاګه شوي دي.

## د ۴ درجی یا کچی ځوابونه/غبرګونونه

د ۴ درجی یا کچې ځینې چلندونه د سوپرانټینډنټ یا د زده کوونکو د اوریدنی ځانګی ته راپور ورکولو ته اړتیا لری لکه څرنګ چې د ویرجینیا کوډ ۲۲.۱-۲۷۹.۳:۱ کې په ډاګه شوی دي. په مقابل کې، سوپرانټینډنټ باید د دا ډول ټولو پیښې په اړه په کلنی توګه د ویرجینیا د زده کړې وزارت ته راپور ورکړي. ځینې څلورمه درجه یا کچه چلندونه د ښوونځي مدیر ته اجازه ورکوي یا یی اړ کوي چې زده کوونکی د لا زیاتو انضباطي اقداماتو (FDA) په موخه SHD ته راجع کړي. FDA ته راجع کونه په اتوماتیک ډول د اوږدمهاله ځنډونی، بل دودیز ښوونځي یا غیر دودیز تعلیمي پروګرام ته د لیږلو، یا اخراج لامل نه کیږي.

هر هغه زده کوونکي چې FDA ته راجع کیږي، د هرې پریکړې څخه دمخه به ورته د اوریدنې فرصت ورکړل شي او د پریکړې د استیناف غوښتنې حق به ولري. د اوریدنې افسر کولی شي انضباطي پایلې وضع کړي، په شمول د اخراج لپاره د سپارښتنی کولو پورې، مګر واک لري چې دا پریکړه هم وکړي چې هیڅ ډیسپلین باید پلي نشي او د پیښې او زده کوونکي د حقایقو او شرایطو په پام کې نیولو سره زده کوونکی باید خپل ښوونځي ته بیرته واستول شي.

**د ۴ کچې/درجی مداخلې (د هغو سربیره چې د ۱ څخه تر ۳ پوری درجو کې لیست شوی)**

- د والدینو - اداره کوونکی/پازوال- ښوونکی - زده کوونکی تر مینځ د چلند تړون.
- د ټولنې اړوند خدماتو ته راجع کول.
- د خطر ارزونه، لکه څرنګ چې د چلند څخه په ډاګه کیږي.
- د مهالویش بدلون.
- د لیکلی تړون له لارې بیرته جبرانول یا تاوان ورکول.

**د ۴ درجی یا کچی انضباطی غبرګونونه**

- د هغه چلندونو لپاره د قانون پلی کونکی ته راجع کول چې ممکن سرغړونه/جرم رامینځته کړی یا دا چې د ځایی پولیسو لخوا اړین وی.
- د امتیازاتو د اوږدی مودی لپاره بیرته اخیستل یا منسوخول.
- له ښوونځي څخه بهر لنډمهاله تعلیق (۱تر ۳ ورځو پوری د پری سکول څخه تر دریم ټولګي پورې زده کوونکو لپاره، ۴ تر ۱۰ ورځو پوری له څلورم څخه تر شپږم ټولګي پورې زده کوونکو لپاره، یا ۵ تر ۱۰ ورځو پوری له اووم څخه تر ۱۲ ټولګي پورې زده کوونکو لپاره).
- د اوږدمهاله تعلیق سپارښتنه لکه څنګه چې د سیمه ییزې پالیسۍ یا د ویرجینیا قانون لخوا مشخص شوی دی (له ۱۱ څخه تر ۴۵ ورځو پورې لکه څنګه چې [د ویرجینیا قانون ۲۲.۱-۲۷۶.۰۱] کی تعریف شوي دي).
- پرته له هغو مواردو چې د ویرجینیا قانون [۲۲.۱-۲۷۷ (B)]، [۲۲.۱-۲۷۷.۰۷]، یا [۲۲.۱-۲۷۷.۰۸] مادو کې بیان شوي، له وړکتون څخه تر دریم ټولګي پورې هیڅ زده کوونکی باید له دریو تعلیمي ورځو څخه ډیر ونه ځنډول شي مګر دا چې: ۱) سرغړونه کې فزیکي زیان یا نورو ته د فزیکي زیان معتبر ګواښ شامل وي، یا ۲) سیمه ییز ښوونځي بورډ یا سوپرانټینډنټ یا د هغه استازی ومومي چې تشدیدی شرایط شتون لري، لکه څرنګه چې د ویرجینیا د زده کړې وزارت لخوا تعریف شوي دي.

## د ۵ درجی یا کچی ځوابونه/غبرګونونه

- د پنځمی کچی غبرګونونه د هغو چلندونو لپاره ساتل شوي چې د سوپرانټینډنټ استازي ته د احتمالي اوږدمهاله تعلیق، بیا ګمارنې، یا اخراج لپاره راجع کولو ته اړتیا لري. د پری سکول څخه تر دریم ټولګي پورې زده کوونکو لپاره، دا پیښې د ښوونځي اداره کوونکی، د لیول ایسی سویټ سوپرانټینډنټ، د ځانګړي زده کړو ځانګی (که د پلي کیدو وړ وي)، د پری سکول پروګرامونو مدیر (که د پلي کیدو وړ وی)، او نورو اړوندو خواوو سره په همکاری SHD ته راجع کیږي.
- له څلورم څخه تر ۱۲ ټولګي پورې زده کوونکي به SHD ته راجع کیږي، ځوک چې به د موضوع په اړه د پریکړې لپاره د اوریدنې افسر ګماري.

**۵ درجې یا کچی چلند ته ښوونځی میشته اداری ځوابونه/غبرګونونه**

- چلند ته په کتو سره د ګواښ ارزونه
- د هغو کړنو یا چلند لپاره قانون پلي کونکو ته راجع کول چې په "هغه کړنی چې زده کوونکی پرې ډیسپلین کیدی شي" برخه کی د اجباری راپور ورکولو په توګه مشخص شوي دي.
- د پری سکول څخه تر دریم ټولګي پورې زده کوونکو لپاره SHD ته راجع کونه. SHD باید دا ومومي چې په پیښه کې کړکیچن حالات، فزیکي زیان، یا د فزیکي زیان معتبر ګواښ شتون درلود ترڅو د دریو تعلیمي ورځو څخه ډیر وخت لپاره تعلیق یا ځنډونه وضع کړي. په غیر معمولي حالت کې چیرته چې یوه پیښه له ۱۰ تعلیمي ورځو څخه ډیر وخت لپاره ډیسپلین کونی ته اړتیا په ګوته کوي، د بیلګې په توګه، د ځینو وسلو یا ځینو منع شویو توکو درلودل د کوم لپاره چی د ایالتي او فدرالي قانون له مخی اخراج کونه اړینه وي، مګر دا چې ځانګړي حالت وموندل شي، SHD به د ښوونځي اداره کوونکي، لیول ایسی سویټ سوپرانټینډنټ، د ځانګړي زده کړو ځانګی (که د پلي کیدو وړ وي)، د پری سکول پروګرامونو رئیس (که د پلي کیدو وړ وي)، او نورو اړوندو شریکانو سره په همکاری پیښه وڅیړي. SHD به ډاډ ترلاسه کړي چې زده کونکي ته د اوریدنې او استیناف غوښتنې حقونه ورکړل شوي، لکه څنګه چې د غټو زده کوونکو په قضیه کې ترسره کیږي.
- د 4 څخه تر 12 ټولګی پوری زده کوونکو لپاره SHD ته راجع کونه. هر هغه زده کوونکي چې FDA ته راجع کیږي، د هرې پریکړې څخه دمخه به ورته د اوریدنې فرصت ورکړل شي او د پریکړې د استیناف غوښتنې حق به ولري. د اوریدنې افسر کولی شي د اخراج لپاره د سپارښتنی په شمول انضباطي پایلې وضع کړي، مګر دا واک هم لري چې پریکړه وکړي چې هیڅ ډیسپلین باید عملي نشي او د پیښی د حقایقو او شرایطو او زده کوونکي پوری اړه لرلو سره زده کوونکی باید خپل ښوونځي ته بیرته واستول شي. هر هغه زده کوونکي چې د ښوونځي له عادي چاپیریال څخه لیرې کیږي، ورته به مناسب د چلند مداخلې او تعلیمي ملاتړ وړاندی شي. د لیرې کولو لپاره، د لسمې ورځې څخه وروسته، معلولیت لرونکي زده کوونکي باید د خپل IEP ټیم لخوا ټاکل شوي ځانګړي تعلیمي خدمات ترلاسه کړي.

دا ډول مداخلې او ځوابونه د مناسب او بدیل چلند ښوونی په موخه دي تر څو زده کوونکي وکولی شي خوندي او د درناوي کوونکی چلند زده او څرګند کړي. پورته ذکر شوي بیلګو کی ټول حالتونه شامل نه دي او اړتیا نشته چی ټول حالتونه ذکر شي. په هره قضیه کې، کارکوونکی باید د هغو پلانونو بیاځلی کتنه په پام کې ونیسي چې د انفرادي اړتیاوو لرونکو زده کوونکو ملاتړ کوي (د بیلګې په توګه، د زده کونکي ملاتړ پلان، IEP، Child Find، یا ۵۰۴).

# د زده کوونکو د چلند پاليلې او احتمالي غبرګونونه

## انضباطي سزاګانې

### انضباطي اقدامات

د ښوونځي مدير يا د هغه استازی کولی شي د ښوونځي په چاپيريال کې د نظم او ډيسپلين ساتلو لپاره لاندې هر ډول سزاګانې يا جريمې وکاروي. د ښوونځي په موقعيتونو او د ټولو زده کوونکو په ډلو کې بايد د قواعدو او مقرراتو مساوي او دوام داره پلی کيدنه رامنځ ته شي.

1. **خبرداری او سلا مشوری** – خبرداری او سلا مشوری بايد په هغه ځای کې وکارول شي چيرې چې مناسب وي ترڅو زده کوونکو سره په دی اړه پوهيدو کی مرسته وشي چې د هغوي چلند د هغوي په تعليمي بهير کی حلل رامينځته کوي، د نورو حقونه ګواښي، يا د ښوونځي د پاليسۍ يا مقرراتو خلاف دی او دا چی سمولو ته يی اړتيا لري.
2. **د غرمې ډوډۍ وخت کی توقيف** – زده کوونکي ته به لارښوونه وشي چې د غرمې ډوډۍ په جلا ځای کې وخوري، کوم ځای چې ورته د ښوونځي کارکوونکی لخوا مشخص کيږي.
3. **د ښوونځی وروسته توقيف** – زده کوونکی کيدای شي د مهالويش شويو ټولګيو څخه دمخه يا وروسته د مناسب وخت لپاره توقيف شي او کيدای شي په دغه موده کې په داسې فعاليتونو کې برخه اخيستلو ته اړ شي چې ممکن په معقولی ډول د غوره چلند کولو په برخه کی مرسته وکړي. هغه زده کوونکي چی توقيف کيږي، بايد د ښوونځي لخوا يی مور / پلار ته خبر ورکړل شي. هغه زده کوونکی چې ورته توقيف ټاکل شوی وي، بايد سمدستي خپل مور/پلار خبر کړي. مور/پلار به د زده کوونکي د ټرانسپورټ مسؤوليت په غاړه ولري. پرته له ځانګړو شرايطو، زده کوونکي ته به لږترلږه يوه ورځ دمخه خبر ورکړل کيږي که چيرې ورته د توقيف موده ټاکل شوی وي.
4. **ځانګړی دندې** – زده کوونکی ته د اصلاحي اقدام په توګه ځانګړی دندې ورکول کېدای شی. پدې کې کيدای شي په ښوونځی کې د ټولنې د خدمت معقولې دندې شاملې وي، مګر په دې پورې محدود نه دي.
5. **د ټولګی محدوديت** – يو زده کوونکی ممکن له خپل عادي ټولګی څخه ليرې شی او بل ځای ته واستول شی.
6. **له غير نصابي فعاليتونو څخه تعليق يا ځنډونه** – په ټولو يا ځينو ځانګړو غير نصابي فعاليتونو کې د ګډون امتياز د يوې ټاکلې مودې لپاره يا تر هغه وخته پورې چې ځينې مشخص شوي شرايط پوره نشي، وځنډول شي. له غير نصابي فعاليتونو څخه تعليق کيدای شي له نورو جريمو سره يوځای وضع شي. هغه زده کوونکي چې په جنايي جرم تورن شوي، کيدای شي د يوې ټاکلې مودې لپاره يا تر هغه وخته پورې چې ځينې شرايط پوره نشي، له ګډون څخه وځنډول شي. هر ډول او ټول بنديزونه د ښوونځي د مدير په اختيار کې دي.
7. **انضباطي ازموينښتی دوره يا انضباطي خار –** د انضباطي خارنې لاندې نيول دا خبرتيا ده چې د زده کوونکي چلند د منلو وړ نه دي او بايد اصلاح شي. د زده کوونکي له والدينو سره د يوې غونډې وروسته، په کوم کې چې د خارنې شرايط او مقررات تشريح کيږي، يو زده کوونکی د مدير لخوا د ۴۵ تعليمي ورځو څخه د نه زياتې مودې لپاره د انضباطي خارنې لاندې نيول کيدی شي. د ښوونځي مدير بايد والدينو ته په ليکلي ډول هم خبر ورکړي کله چې انضباطي خارنه يا ازموينښتی دوره وضع کيږي، په شمول د خارنې دلايل او د هغې د پای ته رسيدو نيټه.
8. **په ښوونځی کې دننه تعليق يا ځنډونه** – په ښوونځي کې تعليق يو انضباطي اقدام دی چې زده کوونکي د عادي ټولګي پر ځای په ښوونځي کې ميشت يو محدود او خورا کنټرول شوي چاپيريال ته ليږل کيږي چيرته چې زده کوونکی يوازې وي او بايد ټول سپارل شوي کارونه بشپړ کړي.

9. **لنډمهاله تعليق يا ځنډونه (۱۰ ورځې يا لږ)** – يو زده کوونکی کيدی شي د چلند کوډ د ځينو سرغړونو له امله له ښوونځی څخه وځنډول شی. ځنډونه د ښوونځي له عادي حاضرۍ او فعاليتونو څخه د زده کوونکي لنډمهاله ايستل دي چی د ښوونځي مدير يا د هغه د استازي لخوا د يوې مودې لپاره چې له ۱۰ ورځو څخه زيات نه وي، تر سره کيږي. پداسې حال کې چې تعليق يا ځنډونه په عمل کې وي، زده کوونکی د PWCS په ټولو پروګرامونو کې له ګډون څخه محروم وي. له پرې سکول څخه تر دريم ټولګي پورې هيڅ زده کوونکی د ښوونځي د مدير يا د هغه د استازي لخوا له دريو تعليمي ورځو څخه ډيرې مودی لپاره نشي ځنډول کيدی. د دريو ورځو څخه د زياتی ځنډونی لپاره، د ښوونځی مدير بايد موضوع SHD ته د بياکتنې لپاره راجع کړي. SHD به د اړتيا په صورت کې د ښوونځي مدير، ليول ايسی سويټ سوپرانټينډنټ، د ځانګړي زده کړو ځانګي (که د پلي کيدو وړ وي)، د پرې سکول پروګرامونو رئيس (که د پلي کيدو وړ وي)، او نورو اړوندو شريکانو سره په ګډه کار وکړي.
10. **قانون پلی کوونکو چارواکو ته راپور ورکول** – د ښوونځي مديران بايد د هغو سرغړونو لپاره قانون پلي کونکو ته راپور ورکړي چې په هغه کړنی چی لپاره يی زده کوونکی ډيسپلين کيدی شي په برخه کی د اجباری راپور ورکولو په توګه مشخص شوي دي.
11. **له ټولګی څخه ايستل** – يو ګوډي رامينځته کوونکی زده کوونکی کيدی شی د ويرجينيا کوډ § ۲۲.۱-۲۷۶.۲ له مخی د ټولګی څخه و ايستل شي.

نور انضباطي اقدامات

د ښوونځی مدیر کولی شي یو زده کوونکی د زده کوونکو د اوریدنې خانګې (SHD) ته راجع کړي. SHD به د اوریدنې یو افسر وټاکي چې د انضباطي مسایلو لپاره د سوپرانټینډنټ د استازي په توګه کار کوي. که چیرته د اوریدنې وروسته، د اوریدنې افسر وومي چې د چلند له کوډ څخه سرغړونه شوې ده، د اوریدنې افسر کولی شي انضباطي پایلې وضع کړي، په شمول:

1. **انضباطي ازمویښتی دوره یا انضباطي خار –** د انضباطي خارنې لاندې نیول دا خبرتیا ده چې د زده کوونکي چلند د منلو وړ نه دي او باید اصلاح شي. د زده کوونکي له والدینو سره د یوې غونډې وروسته، په کوم کې چې د خارنې شرایط او مقررات تشریح کیږي، یو زده کوونکی د یو تعلیمی کال لپاره د اوریدنی افسر لخوا چی د SHD لخوا مقرر کیږي، د خارنې لاندې نیول کیدی شي. د مناسب دلیل له مخې، کیدای شي له زده کوونکي څخه وغوښتل شي چې د ښوونځي د چارواکو په غوښتنه پرته له کوم لګښت څخه د الکول یا نشه یي توکو معاینه ترسره کړي. سوپرانټینډنټ یا د هغه/هغې استازی باید والدینو یا قانونی سرپرست ته په لیکلي ډول هم خبر ورکړي کله چې انضباطي خارنه یا ازمویښتی دوره وضع کیږي، په شمول د خارنې د دلایلو او د هغې د پای ته رسیدو نیټی.
2. **اوږدمهاله تعلیق یا ځنډونه** – اوږدمهاله تعلیق د سوپرانټینډنټ یا د هغه د استازي لخوا له ۱۱ څخه تر ۴۵ تعلیمي ورځو پورې له عادي ښوونځي حاضرۍ او فعالیتونو څخه د زده کوونکي ایستل دي. پداسې حال کې چې تعلیق یا ځنډونه په عمل کې وي، زده کوونکی ته د PWCS ټولو پروګرامونو ته ننوتلو ته اجازه نه ورکول کیږي. هغه زده کوونکی چې په اوږدمهاله تعلیق کې وي، کیدای شي د تعلیق له بشپړیدو وروسته د مشروطی داخلې پر اساس (د مقرراتو سره سم) ښوونځي کی بیرته د داخلیدو اجازه ورکړل شي.

اوږدمهاله تعلیق ممکن له ۴۵ ښوونځي ورځو څخه زیات وخت لپاره وغځېږي، مګر باید له ۳۶۵ تقویمی ورځو څخه زیات نه وی، که چیرته: ۱) سرغړونه یو له هغو څخه وي چی د ویرجینیا کوډ ۲۲.۱-۲۷۷.۰۷ یا ۲۲.۱-۲۷۷.۰۸ §§ مادو کی بیان شوي یا جدي فزیکي ټپي کیدل پکې شامل وي، یا د ښوونځي بورډ یوه کمیټه یا سوپرانټینډنټ یا د هغه استازی وومي چې شدید یا کړکیچن شرایط شتون لري، لکه څرنګه چې د ویرجینیا د زده کړې وزارت لخوا تعریف شوي. د ویرجینیا قانون، ۲۲.۱-۲۷۷ او ۲۲.۱-۲۷۷.۰۵ مادو موخو لپاره، د ویرجینیا د زده کړې وزارت "شدید یا کړکیچن شرایط" په لاندی ډول معنی کړي دي:

A. هغه زده کوونکی چې په ناوړه چلند کې ښکیل و چې له امله یی بل شخص ته جدي زیان رسیدلی وي (د فزیکي، احساساتي، او رواني زیان په شمول مګر دغو پوری محدود نه دي) یا کوم بل شخص ته یی د زیان رسولو په موخه جدي ګواښ وړاندی کړئ اوسی، لکه څرنګ چې د ګواښ ارزونی خانګې لخوا مشخص شوي وي.
B. په ښوونځي کې د زده کوونکي شتون ښوونځي ته، د ښوونځی زده کوونکو، کارکوونکو، یا په ښوونځي کې د نورو خوندیتوب ته دوامداره او غیر معقول خطر وړاندی کوي.
C. زده کوونکی په یو داسی جدي سرغړونه کې ښکیل وو چې:
   1. دوامداره وي (دغه ډول تکراری چلند د زده کوونکي په انضباطي ریکارډ کی مستند کیږي).
   2. موخیزه مداخلو لپاره غیر ځواب ویونکي وي کله چی د یو ټاکلی شوي مداخلې پروسې له لارې مستند کیږي.

پرته له هغو مواردو چې د ویرجینیا قانون §§ ۲۲.۱-۲۷۷(B)، ۲۲.۱-۲۷۷.۰۷، یا ۲۲.۱-۲۲.۰۸ مادو کې بیان شوي، له پری سکول څخه تر دریم ټولګي پورې هیڅ زده کوونکی باید له دریو تعلیمي ورځو څخه ډیر لپاره ونه ځنډول شي مګر دا چې: ۱) سرغړونه کې فزیکي زیان یا نورو ته د فزیکي زیان معتبر ګواښ شامل وي، یا ۲) سیمه ییز ښوونځي بورډ یا سوپرانټینډنټ یا د هغه استازی وومي چې شدید یا کړکیچن شرایط شتون لري، لکه څنګه چې د ویرجینیا د زده کړې وزارت لخوا تعریف شوي دي. .

3. **غیر دودیز تعلیمي پروګرام ته ګمارنه** - د ښوونځي بورډ کولای شي هر هغه زده کوونکی مکلف کړي چې په لاندې مواردو کې ښکیل وي، ترځو په یو غیر دودیز تعلیمي پروګرام کې برخه واخلي: (۱) د ایالت له قوانینو سره سم په کوم جرم تورن شوی وي، یا یې د وسلو، الکولو یا مخدره توکو په اړه د ښوونځي بورډ پالیسۍ نقص کړې وي، او یا یې بل چا ته قصدي جسماني زیان اړولی وي؛ (۲) د وسلو، الکولو یا مخدره توکو په اړه د ایالتي قوانینو له مخې مجرم پېژندل شوی وي، یا یې داسې جرم کړی وي چې نورو ته د زیان رسېدو سبب شوی وي یا سبب کیدی شوی، او یا داسې قضیه وي چې د محکمې د حکم له مخې باید د ویرجینیا د کوډ ۱۶.۱-۳۰۵.۱ برخې سره سم د ښوونځي ډیویژن سوپرانټینډنټ ته په ډاګه شي؛ (۳) ثابته شوې وي چې د ښوونځي بورډ د پالیسیو پر خلاف یې جدي جرم یا تکراري سرغړونې کړې دي؛ (۴) د ویرجینیا د کوډ ۲۲.۱.۲۷۷.۰۵ برخې له مخې تعلیق شوی وي؛ یا (۵) د ویرجینیا کوډ ۲۲.۱-۲۷۷.۰۶, ۲۲.۱-۲۷۷.۰۷, یا ۲۲.۱-۲۷۷.۰۸, برخو یا ۲۲.۱-۲۷۷ برخې د (B) فرعې برخې له مخې له ښوونځي څخه ایستل شوی وي. د ښوونځي بورډ دا ډول زده کوونکي اړ کړي چی په دغه ډول پروګرامونو کې ګډون وکړي، پرته له دې چې جرم چېرته ترسره شوی وي." (د ویرجینیا کوډ ۲۲.۱-۲۷۷-۲:۱) د ښوونځي د بورډ د انضباطي واک سره سم، سوپرانټینډنټ یا د هغه استازی کولی شي له زده کوونکو څخه وغواړي چې د ویرجینیا قانون ۲۲.۱-۲۷۷.۲:۱ احکامو سره سم په یو غیر دودیز تعلیمي پروګرام کې برخه واخلي او دا ډول پریکړه به وروستۍ وي پرته له دی چې په وخت سره د لیکلی غوښتنی پر اساس د ښوونځي بورډ لخوا بدله شي.
4. **د اخراج لپاره سپارښتنه** – د اوریدنې افسر کولی شي د ښوونځي بورډ ته د زده کوونکي د جدي ناسم چلند له امله د هغه د اخراج سپارښتنه وکړي. اخراج د ښوونځی بورډ لخوا یو اقدام دی، چې له مخې یې زده کوونکي ته په ډیویژن کې د ښوونځي د ګډون اجازه نه ورکول کیږي او د اخراج له نیټې څخه راپدیخوا د ۳۶۵ تقویمي ورځو لپاره د بیاځلی شاملیدو لپاره وړ نه وي. وروسته له دې چې ۳۶۵ ورځې تیرې شي، زده کوونکی کولی شي د بیا شاملیدو غوښتنه وکړي. اخراج، د PWCS په هر ډول او ټولو پروګرامونو کې ګډون کونه منع کوي.

. اخراج د ښوونځي د بورډ لخوا یو عمل دی چې د ۳۶۵ تقویمي ورځو یا ډیر وخت لپاره د ښوونځي له عادي حاضری څخه د زده کوونکي د ګډون کولو مخه نیسي. هغه زده کوونکي چې اخراج شوی اوسی، اجازه ورکول کیدی شي چې د اخراج د مودې په جریان کې په یو غیر دودیز تعلیمي پروګرام کې ګډون وکړي.

پرته له هغو مواردو چې د ویرجینیا قانون §§ [۲۲.۱-۲۷۷](#) [(B)](#)، [۲۲.۱-۲۷۷.۰۷](#)، یا [۲۲.۱-۲۷۷.۰۸](#) مادو کې بیان شوي، له پری سکول څخه تر دریم ټولګي پورې هیڅ زده کوونکی باید له ښوونځي څخه اخراج نشي مګر دا چې: ۱) سرغړونه کې فزیکي زیان یا نورو ته د فزیکي زیان معتبر ګواښ شامل وي، یا ۲) سیمه ییز ښوونځي بورډ یا سوپرانټینډنټ یا د هغه استازی ومومي چې کړکیچن یا تشدیدی شرایط شتون لري، لکه څنګه چې د ویرجینیا د زده کړې وزارت لخوا تعریف شوي دي.

د انضباطي غبرګونونو په اړه نور معلومات په ضمیمه کې موندل کیدی شي. د نورو انضباطي اقداماتو لپاره د راجع کولو په اړه اضافي معلومات د PWCS ویب پاڼې د نورو انضباطي اقداماتو [نورو انضباطي اقداماتو](#) د اوریدنې پروسې په پاڼه کې موندل کیدی شي.

# هغه عملونه د کوم لپاره چی زده کوونکی ډیسپلین کیدئ شي

د ناوړه چلند د مؤثره مخنیوي یو بنیادي عنصر دا دی چی د ډیویژن په کچه د ښوونځي قواعد جوړ شي او په دوام داره ډول پلي شي. زده کوونکي ممکن د هغه کړنو لپاره ډیسپلین شي چی د پری سکول څخه تر ۱۲ ټولګي پوری د تعلیمي چاپیریال سره مطابقت نه لري، په ځانګړي توګه د پرنس ویلیم کاونټي ښوونځي بورډ پالیسیو او مقرراتو څخه د سرغړونو لپاره، د آیالت او فدرال قانون د ځینو احکامو لپاره، هغه سرغړونو لپاره چې لاندې لنډیز شوي دي، یا هغه نورو کړنو لپاره چی د ښوونځي په چارو، روغتیا، خوندیتوب، یا د زده کوونکو، کارکوونکو، یا د ښوونځي ملکیت، یا د نورو زده کوونکو د زده کړې په فرصتونو باندی منفی اغیزه لري. د ښوونځي په موقعیتونو او د ټولو زده کوونکو په ډلو کې باید د قواعدو او مقرراتو مساوي او دوام داره پلی کیدنه رامنځ ته شي.

د ښوونځی مدیر واک لري چې د سرغړونو لپاره مناسبه سزا وټاکي، د سرغړونې شدت کچی ته په کتو سره د زده کوونکو د اوریدنی ځانګی لخوا یا د ښوونځی بورډ لخوا د سلا مشوری ورکولو څخه نیولی تر لا زیات انضباطي اقدام پوری (اوږد مهاله مودې لپاره ځنډونه، په غیر دودیز ښوونځی کی ځای پر ځای کونه، یا د اخراج کولو لپاره یی په اړه سفارش کول) شامل دي. د زده کوونکي عمر او د ټولګی کچه، د سرغړونې نتایج، او نور اړوند فکتورونه په پام کې نیول کیږي کله چې د اصلاح کولو لپاره مناسب اقدام مشخص کیږي.

د ځینو انضباطي پریکړو په کولو کې، PWCS د کړکیچن حالاتو شتون په پام کې نیسي. لکه څرنګ چې د VDOE لخوا تعریف شوی دي، په ناوړه حالاتو کی لاندی ذکر شوي شامل دی:

- داسی ناوړه چلند چې له امله یی بل شخص ته جدي زیان رسیدلی وي (د فزیکي، احساساتي، او رواني زیان په شمول مګر دغو پوری محدود نه دي) یا کوم بل شخص ته یی د زیان رسولو په موخه جدي معتبر ګواښ وړاندی کړئ اوسی، لکه څرنګ چې د چلند د ګواښ ارزونی له لاری مشخص شوي وي.
- په ښوونځي کې د زده کوونکي شتون ښوونځي ته، د ښوونځی زده کوونکو، کارکوونکو، یا په ښوونځي کې د نورو خوندیتوب ته دوامداره او غیر معقول خطر رامنځته کوي.
- زده کوونکی په جدی سرغړونه کې ښکیل و چې موخه ییزه مداخلو ته دوامداره او غیر ځواب ویونکی وو، لکه څرنګ چې د جوړ شوی مداخلې پروسې له لارې مستند شوی. د ویرجینیا کوډ دا غوښتنه کوي چې پورته ذکر شویو کی باید د زده کوونکي انضباطي تاریخچه په پام کې ونیول شي.

مهرباني وکړئ د چلند کوډ څخه د سرغړونې لپاره د احتمالي مداخلو او انضباطي پایلو په اړه د لارښوونی لپاره د [زده کوونکي ناوړه چلند ته درجه وار یا پوړیز ځوابونه](#) وګوری.

**د زده کوونکو چلند او د اداری غبرګون (SBAR) کوډونه**

د [ویرجینیا د پوهنې او روزنی وزارت](#) (VDOE) د زده کوونکو ځینې ناسمو چلندونو ته د ښوونځي ډیویژن د غبرګونونو او هغو کوډونو لپاره لارښوونې وړاندې کوي چې د ناسمو چلندونو راپور ورکولو ته اجازه ورکوي. دا لارښوونې یا تګلاری رضاکارانه دی , او PWCS عموما د VDOE لارښوونې تعقیبوی. په جدولونو کې، "X" نښه هغه اختیارونه په نښه کوي چې د انضباطي پایلو په توګه په پام کې نیول کیدی شي. خو بیا هم، په ځینو مواردو کې PWCS ممکن د ځینې جرمونو/سرغړونو لپاره خورا جدی پایلې وضع کړی چې په ځانګړی توګه جدی ګڼل کیږی. په لاندې ذکر شویو کټګوریو کې، د چلند کوډ هر ډول سرغړونه چی په ستوری (*) نښان سره په نښه شوی، دا په ډاګه کوي چې موجود انضباطی غبرګونونه د VDOE د لړ تر لړه سپارښتني څخه لوړ دي. د بیلګی په توګه، د چلند د جدیت له امله، PWCS لاندې سرغړونی په ځانګړی توګه د اندیښنې وړ ګڼي، او له همدې امله د اخراج په پام کې نیونه (۵ درجه) لازمی ده:

1. د کنټرول شویو موادو، تقلیدی کنټرول شویو موادو، یا د چرس درلود، لکه څرنګه چی په [۷۳۵.۱ مقرره "منع شوی مواد"](#) کی ذکر شوي دي؛

2. د وسلو یا نورو قانوني وسلو درلودل او د هرې داسې وسلې یا عادي څیز کارول چې د وسلې په توګه د زده کوونکي یا کارکوونکي د ټپي کولو، ګواښلو یا ډارولو لپاره کارول کیږي، لکه څرنګه چې په ۱-۷۷۵ مقرره "وسلې او نور منع شوی توکي" کې راغلي دي؛
3. د ښوونځی کارکوونکی وهل او زور زیاتی ; او
4. ډله ییزه بریدونه.

# د چلند د توضیحاتو او غبرګونونو کټګورۍ

لاندې ذکر شوي لیستونه د زده کوونکو د چلند تشریح کوونکی کټګورۍ او د اداری ځوابونو کچې یوځای کوی ترڅو د زده کوونکو د چلند د معیارونو په مساوي، او ځواب ویونکی ډول پلی کونه اسانه کړی. د ښوونځی بورډونه هڅول کیږی چې د ابتدایه او ثانوي زده کوونکو لپاره چلند ته غبرګون ښکاره کونه له یو بل څخه جلا کړي. SBAR د "student behavior, administrative response" لنډ حالت دی او معنی یی د "زده کوونکو چلند، اداری غبرګونونه" ده. د SBAR کوډونه د ویرجینیا د زده کړې بورډ لخوا رامینځته شوي او د هڅوی په "د زده کوونکو د چلند مثبت او مخنیوي کونکي کوډ پالیسي او د څنډونی بدیلونو لارښود" کې شامل شوي دي، چې باید عامه ښوونځي ورڅخه پیروي وکړي. د چلند کټګورۍ د دې لپاره ډیزاین شوې چې د ښوونځي په چاپیریال او زده کړې باندې د زده کونکي د چلند اغیزه وپیژني. دا پازوالان یا اداره کوونکي، ښوونکي، والدین او سلاکاران هڅوي چی د زده کوونکو ټولنیز-احساساتي پرمختګ څخه خان خبر کړي او زده کوونکو سره د مرستی کولو په اهمیت ټینګار کوي تر څو له اکاډمیکی پلوه لاسته راوړنی ولري او ټولنیز-احساساتي زده کړې ورتیاوو ته وده ورکړي.

A کټګوري: هغه چلند چې د اکاډمیکی پرمختګ مخه نیسی (BAP)

په دی کټګوری کی چلند د زده کوونکي یا زده کوونکو اکاډمیک پرمختګ له خنډ سره مخ کوي. دا عموما د زده کوونکي د خان مدیریت یا څان پوهاوي نشتوالي په ګوته کوي. ځینې وختونه، زده کوونکی ممکن په دې پوهیدو کې مرستې ته اړتیا ولري چې څنګه د هغوي چلند پر نورو باندی اغیزه کوي، تر څو په ټولنیز پوهاوي کې روزنه هم په ګوته شي. د ابتدایه ښوونځیو زده کوونکو لپاره، د ۱ کچی ځوابونو /غبرګونو د ذکر شویو کړنو یا چلند لپاره سپارښتنه کیږی. د ثانوی ښوونځیو زده کوونکو لپاره ، د ۱ کچی یا ۲ کچی ځوابونو یا غبرګونونو سپارښتنه کیږی. دی ډول چلند/کړنو کی باید قانون پلی کوونکی چارواکی ښکیل نشی یا په اړه یی ورته راپور ور نه کړل شي.

B کټګوري: د ښوونځي چارو اړوند چلند/کړنی (BSO)

دا ډول چلند د ښوونځي تګلارو په ورځني چارو کې مداخله کوي. هغه زده کوونکي چې دا ډول چلند ښکاره کوي ممکن د څان اداره کولو، څان پوهاوي، یا ټولنیز پوهاوي مهارتونو ته د وده ورکولو لپاره اړتیا ولري. د ابتدایه او ثانوی ښوونځیو زده کوونکو لپاره دې ډول چلند ته تجویز شوي ځوابونه، له لومړی کچی څخه تر دریمې کچې پورې دی. د دی ډول چلند په قانون پلی کوونکی چارواکو ته د راپور ورکولو اړتیا نشته.

C کټګوري: د اړیکو/ارتباطاتو چلند (RB)

په دې کټګورۍ کې چلند د ښوونځی ټولنې د دوو یا ډیرو غړو ترمینځ منفی اړیکې رامینځته کوی (هیڅ فزیکی زیان نه تر سره کیږي.) د اړیکو چلند د ښوونځي ټوله ټولنه اغیزمنه کوي په دې کې چې د ښوونځي اقلیم اکثرا د دې ښکارندوي وي چې خلک څنګه یو له بله سره چلند کوي. هغه زده کوونکي چې د اړیکې چلند سره ستونزه څرګندوي ممکن د نورو ټولنیز-احساساتي ورتیاوو سره هم ستونزه ولري. د ابتدایه او ثانوی ښوونځیو زده کوونکو لپاره، دی ډول چلند ته غبرګون ښوولو لپاره تجویز شوی ځوابونه له لومړی کچی څخه تر دریمې کچې پورې دی. د دی ډول چلند په قانون پلی کوونکی چارواکو ته د راپور ورکولو اړتیا نشته.

D کټګوري: د خوندیتوب اندیښنی رامینځته کوونکي چلند (BSC)

په دی کټګوری کی دا ډول چلند زده کوونکو، کارکوونکو او/یا ښوونځي ته راغلی ملاقات کوونکو لپاره ناخوندي حالات رامنځته کوي. د ابتدایه او ثانوی ښوونځیو زده کوونکو لپاره د تجویز شوي ځوابونو اندازه باید د زده کوونکی د عمر او نشونما او د چلند له امله رامینځته شوی زیان پر اساس وی. د دې ډول چلند لپاره بنسټیزه لاملونه ممکن د دغه ټولنیز-احساساتي ورتیاوو څخه په یو کی موجود وي، نو اداره کوونکی باید د زده کوونکي چلند لپاره بنسټیزه انګیزه وڅیړي. په ټولنیز پوهاوي کی روزنه او پریکړې کول معمولا په هر هغه چلند کی لیدل کیږي یا په ګوته کیږي چې د خوندیتوب اندیښنه رامینځته کوي. هغه چلند/کړنی چې جنایی سرغړونی/جرمونه دی، د قانون پلی کوونکو چارواکو ته یی په اړه راپور ورکول اړین دي.

E کټګوري: هغه چلند چې ځان یا نور په خطر کې اچوي (BESO)

په دی کټګوری کی دا ډول چلند د زده کوونکي یا د ښوونځي په ټولنه کې د نورو روغتیا، خوندیتوب یا هوساینه له خطر سره مخ کوي. دا ډول چلند چې د شدت دې ډول کچې ته لوړیږي، ډیری وختونه ستونزمن وي. پداسې حال کې چې دوی د پریکړې کولو کمزوري مهارتونه په ګوته کوي، هغه زده کوونکي چې دا ډول چلند ښکاره کوي ممکن په نورو ټولنیز-احساساتي ورتیاوو کی د ودې کولو لپاره هم اړتیاوې ولري.

. د ټولو زده کوونکو لپاره وړانديز شوی غبرګونونه د زده کونکي عمر او پرمختګ او د چلند له امله رامینځته شوي خطر ته په کتو له لومړی کچې څخه تر پنځمې کچې پورې دي.  هغه چلند/کړنی چې جنایی سرغړونی/جرمونه دی، د قانون پلی کوونکو چارواکو ته یی په اړه راپور ورکول اړین دي.

F کټګوري: په دوام داره توګه خطرناک چلند یا کړنی (PD)

دا ډول چلند په محاسبه کې کارول کیږي ترڅو یو ښوونځي په دوامداره توګه خطرناکه څرګند کړی. "هغه پیښې چې د دوامداره خطرناکه عامه ښوونځیو په ګوته کولو لپاره د تګلاری په توګه کارول کیږي، د یو شخص پر ضد د تاوتریخوالی جرمونه او تیروتنی دي او د ویشلو یا پلورلو په اراده د نشه یی توکو لرل دي، دا ټول د ویرجینیا قانون د (تاٸټل ۱۸.۲) په جنایي برخه کې د جرمونو په توګه ټاکل شوي دی." دا ډول چلند د دی اړتیا رامینځته کوي چی د سوپرانټینډنټ دفتر او قانون پلي کوونکو ته یی په اړه راپور ورکړل شي او باید په داسی ډول ورته ځواب وویل شي چی د ۵ درجی ځواب سره په مطابقت وي.

# د ناسم چلند مشخصې کړنې او احتمالي انضباطي پایلې

**د الکول یا شرابو کارول او درلودل**

منع شوي توکي وګورئ.

**اور اچول یا لګول**

د اور اچولو هڅه کول، په اور اچولو کې له نورو سره مرسته کول، یا اور ور اچول،که اور ولګېږي یا نه، یا د ښوونځي ملکیت یا د کارکوونکو یا زده کوونکو ملکیت ته هر ډول زیان رسول. زده کوونکي کیدای شي د اور وژنې یا نورو ناورینونو د الارم په درواغو فعالولو یا د هغو توکو د درلودو له امله هم ډیسپلین شي چې د اور اچولو یا د اور رامینځته کولو یا د زیات لوګي تولید لپاره کارول کیدی شي. د ښوونځي د ودانۍ په اړه د اور لګېدو د درواغو راپور ورکول هم منع دي. د خوندیتوب لاملونو لپاره، د اور وژنې او پولیسو څانګې په ښوونځي کې اور لګېدنې او د الارمونو فعالیدو ته ځواب ورکوي او پلټنه یې کوي.  زده کوونکي باید په دې پوه وي چې د پولیسو یا د اور وژنې د ادارې هره هغه څېړنه چې دا ثابته کړي چې یو زده کوونکی په قصدي اور اچونه، د ښوونځي په ودانۍ کې د اور لګېدنې په اړه په ناسم راپور ورکولو، او یا په دروغو د خطر د زنګ په فعالولو کې ښکېل دی، کیدای شي د ویرجینیا قانون  §۱۸.۲-۷۹ "د غونډو د ځای سوځول یا ویجاړول، او داسې نور"، یا نورو جنایي قوانینو له مخې د جنایي تورونو سره مخ شي.

| SBAR کوډ | سرغړونې | ټولګی | 1 کچه | 2 کچه | 3 کچه | 4 کچه | 5 کچه | قانون پلي کوونکو چارواکو ته اجباری راپور ورکونه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| BSC11 | د اور لګیدو ټالی یا الارم: په دروغو د اور یا نورو ناورینونو الارم فعالول | PK-2 | X | X | X | | | |
| | | 3-5 | X | X | X | | | نه |
| | | 6-12 | | X | X | X* | | |
| BESO9 | اور: د اور اچولو هڅه، په اور اچولو کې مرسته، یا د اور اچول | PK-2 | | X | X | X | | |
| | | 3-5 | | | X | X | | نه |
| | | 6-12 | | | X | X | | |
| BSC12 | د اور اړوند: د داسې توکو درلودل چې د اور اچولو یا د زیات لوګي تولید لپاره کارول یا لامل کیدی شي | PK-2 | X | X | X | | | |
| | | 3-5 | | X | X | | | نه |
| | | 6-12 | | X | X | | | |

## برید او وهل ټکول

د بل شخص، په شمول د زده کونکي، کارکوونکي یا رضاکار  وهل، پرې برید کول، وهل ټکول، یا ورسره په قصدي ډول تیري کوونکی فزیکي تماس کول په کلکه منع دی.  د جنګ کولو برخلاف، دا سرغړونې دوه اړخیزه، قصدي ګډون کونه نه لري.  نوټ: هغه چلند چې د زده کوونکي له تمه شوي پرمختګ سره سمون لري، د برید یا وهلو ټکولو په توګه به ډیسپلین نشي، خو بیا هم دا موضوع ممکن د نورو لارو چارو خواره شي.

برید یو قصدي عمل دی، لکه اشارې کول یا بدې کلمې کارول، کوم چې په معقولې ډول دا توقعات رامینځته کوي چې بل کس د فزیکي زیان یا سپکاوي خطر ته ډیر نږدې دی، مګر فزیکي برخورد نه پیښیږي.  د بیلګې په توګه، یو څوک ممکن د بحث پرمهال سوک جوړ کړي او د سوک وهلو اشارې وکړي حتی که هیڅ فیزیکی لمس یا تماس هم رامینځته نشي.

برید او وهل ټکول هغه څه ته وایی کله چې زده کوونکی په قصدي ډول د بل شخص سره زیان رسوونکی یا سپکاوی کوونکی فزیکي تماس وکړي، چې په فزیکي ډول د  ټپي کیدو لامل شي.  په وهل ټکولو کې ذکر شوي شامل دي مګر دغو پورې محدود نه دي، غاښ لګول یا چیچل، وار کول، لغته وهل، سوک وهل، یا د فزیکي تیري هر بل ډول بڼه شامل دی، په شمول د داسی لمس یا تماس چې د ټپي کیدو لامل کیږي.

بل ډول قصدي تیري کوونکی فزیکي تماس لکه ټیل وهل، ټیله کول، ګزار کول، غاښ لګول یا چیچل، یا د څواک په بل ډول استعمال چې د لیدو وړ فزیکي ټپي کیدو نه لامل کیږي، دغه ډول چلند به هم د انضباطي پایلو لامل شي.

د دی خبری ډاډ ترلاسه شي چې په ښوونځیو کې نظم ساتل کیږي، د ښوونځي په هر کارکوونکی، پشمول په بدیل کارکوونکو یا رضاکارانو باندی برید کول، برید کول او وهل ټکول یا حمله کول، ځانګړې اندېښنه ده.  له همدې امله، د هر کارکوونکي یا رضاکار وهل ټکول یا پرې حمله کول، د اخراج په پام کې نیولو سره SHD ته په اجباري ډول د راجع کونی اړتیا رامینځته کوي.

| SBAR کوډ | سرغړونې | ټولګی | 1 کچه | 2 کچه | 3 کچه | 4 کچه | 5 کچه | قانون پلې کوونکو چارواکو ته اجباری راپور ورکونه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| BESO1 | برید کول: په قصدي ډول بل کس ته د فزیکي زیان رسولو نیت درلودل. | PK-2 | | X | X | X* | | |
| | | 3-5 | | | X | X* | | نه |
| | | 6-12 | | | X | X* | X* | |
| BESO2 | برید او وهل ټکول: بل کس ته فزیکي زیان رسول. | PK-2 | | | X | X | X | |
| | | 3-5 | | | X | X | X | هو |
| | | 6-12 | | | | X | X | |
| BESO4 | په کارکوونکی حمله کول یا وهل: د ښوونځي کارکوونکی پر زد د خواک کارول کله چې کوم زیان نه وي رامنځ ته شوی. | PK-2 | | X | X | X | X* | |
| | | 3-5 | | | X | X | X* | نه |
| | | 6-12 | | | | | X* | |
| BSC17 | بل زده کونکي ټیل وهل، ټیله کول، وهل، چیچل چی کوم ښکاره ټپ یا زخم ونلري. | PK-2 | X | X | X | | | |
| | | 3-5 | | X | X | | | نه |
| | | 6-12 | | X | X | | | |

**حاضري - ښوونځی ته ناوخته تګ، له ښوونځی څخه په نیمه کی تښتېدل یا غیر حاضریدل، او ځنډنی غیر حاضري**

د حاضرۍ په اړه د ایالت قانون او د ښوونځي ډیویژن پالیسۍ څخه سرغړونه منع ده. پرته له قانوني یا مشروع عذر (لکه ناروغي، د ډاکټر لیدنه، په نږدې کورنۍ کې جنازه، د اداري لخوا تصویب)، ښوونځي ته نه تلل یا پرته له قانوني عذر څخه په وخت ښوونځي/ټولګي ته نه حاضرېدل یا د ورځې د یوې برخې لپاره نه حاضرېدل منع دي.

لاندې ذکر شوي د SBAR سرغړونې نشي کولی په ښوونځي کې د تعلیق، له ښوونځي څخه بهر تعلیق، یا د انضباطي پایلې په توګه د ټولګي محدودیت لپاره وګمارل شي: BAP4, BAP5, BSC24, او BSO15.

| SBAR کوډ | سرغړونې | ټولګی | 1 کچه | 2 کچه | 3 کچه | 4 کچه | 5 کچه | قانونی نوټونه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| BAP4 | ټولګی ته بی عذره ناوخته راتګ | PK-2 | X | | | | | د دې سرغړونې لپاره ISA، OSS، یا د ټولګي محدودیت نشي ورکول کیدی. |
| | | 3-5 | X | | | | | |
| | | 6-12 | X | X | | | | |
| BAP5 | ټولګی ته بی عذره ناوخته راتګ | PK-2 | X | | | | | د دې سرغړونې لپاره ISA، OSS، یا د ټولګي محدودیت نشي ورکول کیدی. |
| | | 3-5 | X | | | | | |
| | | 6-12 | X | X | | | | |
| BSC24 | ښوونځي ته بی عذره ناوخته راتګ | PK-2 | X | | | | | د دې سرغړونې لپاره ISA، OSS، یا د ټولګي محدودیت نشي ورکول کیدی. |
| | | 3-5 | | X* | X* | | | |
| | | 6-12 | | X | X* | | | |
| BSO5 | ګمارل شوی انضباطی ځای ته حاضریدلو کی پاتی راتلل. | PK-2 | X | X | X | | | نه |
| | | 3-5 | X | X | X | | | |
| | | 6-12 | | X | X | | | |
| BSO15 | زده کوونکی ګمارل شوي ټولګی ته نه ځی. | PK-2 | X | X | | | | د دې سرغړونې لپاره ISA، OSS، یا د ټولګي محدودیت نشي ورکول کیدی. |
| | | 3-5 | | X | | | | |
| | | 6-12 | | X | | | | |
| BSO16 | زده کوونکی د کیمپس په غیر مجاز ځای یا برخه کې دی. | PK-2 | X | X | X | | | نه |
| | | 3-5 | | X | X | | | |
| | | 6-12 | | X | X | | | |

## د موټر اړوند سرغړونې، له موټر څخه ناوړه ګټه اخیستنه، د موټر امتیازات

زده کوونکي کولی شي یوازې د ښوونځي اداري په اجازه ښوونځي ته موټرونه او نور وسایط راولي. موټرونه او نور نقلیه وسایط باید د ښوونځي د اصولو او د ایالت او سیمه ییزو قوانینو سره سم په خوندي ډول وچلول شي. په ممنوع ځایونو کې موټر چلول یا پارک کول ممکن د انضباطي اقدام لامل شي، په شمول د پارکینګ امتیازاتو له لاسه ورکول. د

هر هغه موټر یا بلې نقلیه وسیلې مالک او/یا چلوونکی، چې موټر یا نقلیه وسیله یې د ښوونځي په ملکیت کې شتون لري یا پکی چلول کیږي، د ښوونځي په ساحه کې د دغه موټر د چلولو یا ځای پر ځای کولو له امله، د یادې وسیلې له تلاشۍ سره خپل رضایت ځرګندوي؛ دا په هغه صورت کې چې د معقول شک پر بنسټ داسې وګڼل شي چې په وسیله کې د PWCS په پالیسۍ او مقرراتو کې منع شوي توکي شتون لري. هغه زده کوونکي چې له دې اصولو سرغړونه کوي د انضباطي سزاګانو سره مخ کیږي، چې کېدای شي د ښوونځي په انګړ کې د موټر چلولو یا پارک کولو د امتیاز اخیستل، له ښوونځي څخه تعلیق، او نور انضباطي اقدامات پکې شامل وي.

| SBAR کوډ | سرغړونې | ټولګی | 1 کچه | 2 کچه | 3 کچه | 4 کچه | 5 کچه | قانون پلې کوونکو چارواکو ته اجباری راپور ورکونه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| BSC13 | په بې پروا چلند کې ښکیل کیدل چې د ځان یا نورو د ټپي کیدو خطر رامینځته کوي | 9-12 | | X | X | X* | | ه |

## بم او نور چاودیدونکي یا سوځونکي وسایل - ګواښ

لاندې اعمال یا کړنې په کلکه منع دي او د اخراج د سپارښتنې په پام کې نیولو سره به SHD ته د اجباري راجع کیدو لامل شي:

- د ښوونځي ودانۍ یا تاسیساتو ته د بم ایښودلو، سوځولو، یا بل ډول زیان رسولو لپاره له هرې لارې ګواښ ورانډی کول، په شمول د هر هغه ګواښ چې چاودیدونکي توکي، سوځونکي وسایل، د جعلی بم وسایل، یا کیمیاوي بمونه پکې شامل وي.
- له هرې لارې چې وی، او زده کوونکی ته معلوم وي چې دروغ دي، دا راپور ورکول چې په یو ښوونځي، د ښوونځي ملکیت، یا د ښوونځي په یو فعالیت یا پیښه کې بم، چاودیدونکي توکي، سوځونکي وسایل، جعلی بم، یا کیمیاوي بم شتون لري، پرته له دې چې ځای یې چیرته وي.

د پیښې او د زده کوونکي په اړه حقایقو او شرایطو ته په کتو سره، د اوریدنې افسر ممکن پرځای یې کم انضباطي یا هیڅ انضباطي اقدام پورته نکړي، څرنګه چې مناسب وي.

| SBAR کوډ | سرغړونې | ټولګی | 1 کچه | 2 کچه | 3 کچه | 4 کچه | 5 کچه | قانون پلې کوونکو چارواکو ته اجباری راپور ورکونه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| BESO17 | د بم ګواښ – د بم ګواښ کول. | PK-2 | | X | X | X | X* | هو |
| | | 3-5 | | | X | X | X* | |
| | | 6-12 | | | X | X | X* | |

## ځورونه یا تنګول او سایبري ځورونه (د انټرنیټ له لارې ځورونه).

بې ځایه تنګول یا ځورول او د بې ځایه تنګولو په اړه د راپور ورکولو له امله غچ اخیسته په PWCS کې نه زغمل کیږي.

"ځورونه یا تنګول" د هر ډول سر زوری او ناغوښتل شوي چلند په معنی ده چې قربانی ته د زیان رسولو، تهدیدولو یا سپکاوي کولو لپاره وي. د برید کوونکي یا برید کوونکو او قرباني تر مینځ د ریښتیني یا پوهیدونکي ځواک نا برابروالی شامل وي؛ او د وخت په تیریدو سره تکرار کیږي یا د شدید احساساتي صدماتو لامل کیږي. سایبري ځورونه د ټیکنالوژۍ کارولو له لارې د بې ځایه تنګولو په معنی ده، په شمول د ګرځنده ټیلیفونونو او نورو بریښنایی وسایلو یا ټیکنالوژۍ له لارې چې انټرنیټ ته د لاسرسي وړتیا ولري. عادي ټوکې، لوبې، بحث، یا د همزولو ترمینځ اختلاف بې ځایه تنګول یا سایبري ځورونه نه ګڼل کیږي. (د ویرجینیا قانون (§ ۲۲.۱-۲۷۶.۰۱)

هغه زده کوونکي چې ځورونی (بې ځایه تنګول) یا سایبري ځورونې تجربه کوي یا یې شاهدان وي، باید د پیښو په اړه په سمدستي ډول د ښوونځي پازوال/اداره کوونکی ته راپور ورکړي. د هغو زده کوونکو والدینو، چې د ځورول کیدو راپور ورکوي او د هغو زده کوونکو والدینو، چې د بې ځایه تنګولو تور پرې لګیدلی وي، ته به خبر ورکول کیږي. د بې ځایه تنګول کیدو یا ځورول کیدو ټولې ادعاوې به مستند شي او وڅېړل شي. پایلې به یې په ټولو هغو زده کوونکو پلې شي چې د بې ځایه تنګولو یا سایبري ځورونې په ثابت شویو کړنو کې ښکیل دي. که چیرته ځورونه یا سایبري ځورونه د فزیکي زیان لامل شي، زده کوونکي به پدې برخه کې د شاملې سرغړونې پرځای د برید او وهلو ټکولو لپاره ډیسپلین شي.

بې ځایه تنګول یا سایبري ځورونه چې یو زده کوونکی د هغه د غړیتوب یا په یوه خوندي طبقه کې د هغه د تصور شوي غړیتوب پر بنسټ په نښه کوي، د ځورونې په توګه به وڅېړل شي او ورته به عکس العمل وښودل شي. د سپکاوي کلمو یا سمبولونو کارول چې یو فرد یا ډله سپکوي یا ډاروي، کېدای شي د بې ځایه تنګولو پرځای د ځورونې په توګه وپیژندل شي که چیرې هغوی د کرکې وینا وي یا یوه خوندي شوي طبقه په نښه کړي.

| SBAR کوډ | سرغړونې | ټولګی | 1 کچه | 2 کچه | 3 کچه | 4 کچه | 5 کچه | قانون پلې کوونکو چارواکو ته اجباری راپور ورکونه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| RB1 | بې خایه تنګول پرته له کوم فزیکي زیان | PK-2 | X | X | X | | | نه |
| | | 3-5 | | X | X | X* | | |
| | | 6-12 | | | X | X* | | |
| RB2 | سایبری خورونه | PK-2 | X | X | X | | | نه |
| | | 3-5 | | X | X | X* | | |
| | | 6-12 | | X | X | X* | | |
| BSC6 | له فزیکي زیان پرته بې خایه تنګوونکی چلند چې له مداخلې وروسته هم دوام ومومي<br>هغه بې خایه تنګونه چې د فزیکي زیان لامل کیږي باید د برید او وهلو ټکولو په توګه طبقه بندي شي. | PK-2 | | X | X | X | | نه |
| | | 3-5 | | X | X | X | | |
| | | 6-12 | | X | X | X | | |
| BSC7 | سایبری خورونه چې له مداخلې وروسته هم دوام ومومي<br>هغه سایبري خورونه چې د زده کوونکو او کارکوونکو خوندیتوب ته ګواښ وراندی کوي، باید په لوړه کچه د مداخلو بنسولو او پایلې لرلو سره حل شي. | PK-2 | | | X | X | X | نه |
| | | 3-5 | | | X | X | X | |
| | | 6-12 | | | X | X | X | |
| RB9 | د اصلي یا خپل کړی نسل، توکم، رنګ، ملي اصل، تابعیت/کډوالی وضعیت، وزن، جنړر، جنړر پیژندنه، د جنړر څرګندونه، جنسي تمایل، معلولیت، یا کوم بل اساس پر بنسټ سپکاوي کول کوم چې د قانون لخوا منع شوي. د PWCS د تبعیض نه کولو بیان په دې کوډ باندی تطبیق کیږی. | PK-2 | X | X | X | | | نه |
| | | 3-5 | | X | X | X* | | |
| | | 6-12 | | | X | X* | | |

## ګرځنده ټلیفونونه

د ګرځنده ټلیفونونو په غیر قانوني ډول درلودل یا کارول وګورئ.

## نقل، په شمول د بل چا افکار یا لیکنې غلا کول

زده کوونکي باید نقل ونه کړي، په هیڅ ډول غلا کی برخه وانخلي (پشمول د ځان غلا، د مصنوعی څیرکتیا (AI)، په غیر مجاز ډول کارولو، یا د خپل پخواني کار بیاځلی کارولو، مګر دغو پورې محدود نه دی)، د نورو سره پدې کار کې مرسته ونه کړي یا ونه هڅوي، یا په قصدي ډول د دندو یا ازموینو په اړه د زده کوونکو توقعات له پامه ونه غورځوي. هغه زده کوونکي چې د چاپ حق څخه په سرغړونه او غلا کې ښکیل دي، ورسره به خبری اتری تر سره شي، کیدای شي د دندې کریډیټ له لاسه ورکړي، او کیدای شي د انضباطي اقدام لپاره د ښوونځي پازوال یا اداره کوونکي ته راجع شي. د ښوونځي پازوال به د پیښې او هر ډول ډیسپلین په اړه د زده کوونکي مور او پلار/قانوني سرپرست خبر کړي.

| SBAR کوډ | سرغړونې | ټولګی | 1 کچه | 2 کچه | 3 کچه | 4 کچه | 5 کچه | قانون پلې کوونکو چارواکو ته اجباری راپور ورکونه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| BAP3 | تعلیمی بی ایمانی یا خیانت (نقل کول، د بل چا افکار او لیکنې په خپل نوم کول) | PK-2 | X | | | | | نه |
| | | 3-5 | X | X* | X* | | | |
| | | 6-12 | | X | X* | | | |

## ګډوډونکی چلند (نافرمانی او بې احترامی)

هر ډول فزیکي یا شفاهي ګډوډي چې ښوونې او د ښوونځي د فعالیتونو منظم جریان ګډوډوي یا پکې مداخله کوي، منع ده.

زده کوونکي اړ دي چې د ښوونځي له قواعدو څخه پیروي وکړي او په محترمانه توګه د ښوونکو او د ښوونځي د نورو کارکوونکو واک او لارښوونو ته غاړه کیږدي. هیڅ زده کوونکی نشي کولی د ښوونځي د قاعدې په ماتولو کې له بل زده کوونکي سره مرسته وکړي. هغه عملونه دي چې په پام وړ توګه د زده کړې منظم چاپیریال ګډوډوي، پکی لاندی ذکر شوي شامل دي، مګر دغو پورې محدود نه دي:

- د چارواکو لارښوونو ته غاړه نه ایښودل یا معقولې غوښتنې ته ځواب نه ورکول.
- کنځل کول یا سپکه ژبه کارول، پشمول د هغو څرګندونو چې موخه یې د یو شخص د نژاد/نسل، مذهب، جنسیت، ملي اصل، معلولیت لرونکي حالت، فکري ورتیا، یا په یوه خوندي طبقه کې د غړیتوب سپکاوی وي. پدې کې فحش بڼه لرونکی کړنې یا څرګندونې، د داسې جامو یا زیوراتو اغوستل چې پخپله جنسي پاروونکي پیغامونه لیږدوي، یا هر هغه مواد یا توکی چې فحش یا له جنسي پلوه پاروونکي وي، شامل دي.

- د بل زده کوونکي او/یا د ښوونځي کارکوونکی په وړاندې د کنځلو، تاوتریخوالي لرونکې، او/یا سپکاوي کونکي ژبه کارول.
- زده کوونکي باید په داسې چلند کې ښکیل نشي چې موخه یې د ښوونځي د هر ډول فعالیت، کار، یا پروسې ګډوډول وي، د زده کوونکو یا نورو روغتیا یا خوندیتوب ته خطرناک وي، یا د ملکیت د ویجاړولو لامل شي. بې اندازې او ګډوډې رامنځته کوونکی شورماشور، فعالیت، یا د هغو توکو ساتل چې د ښوونځي ارامه او نورماله کاري فضا ګډوډوي او یا د زده کوونکي خپل خوندیتوب او د نورو خوندیتوب او فعالیتونو ته ګواښ پېښوي، منع دي. په دغو توکو کې شامل دي خو یوازې تر دې پورې محدود نه دي: د لوبو توکي، لایزرونه چې په نښه کول کوي، سکیټ بورډونه، راډیوګانې، او بې اجازې اخیستل شوي عکسونه او ویډیوګانې.
- زده کوونکي ممکن د مچولو، لاس لګولو، غېږه کې نیولو او په عام محضر کې د نورو عاطفي خرګندونو له امله تر انضباطي سزا لاندې راشي.

| SBAR کوډ | سرغړونې | ټولګی | 1 کچه | 2 کچه | 3 کچه | 4 کچه | 5 کچه | قانون پلی کوونکو چارواکو ته اجباري راپور ورکونه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| BAP1 | په ټولګي کې د زده کړې بهیر کې مداخله کول (خبري کول، ډېر شور کول، له دندې لیرې کیدل، له څوکۍ څخه پاڅېدل، د هغو توکو درلودل چې پام غلطوي). | PK-2 | X | | | | | نه |
| | | 3-5 | X | | | | | |
| | | 6-12 | | X | | | | |
| BAP2 | له ټولګي څخه بهر د زده کړې په بهیر کې مداخله کول (ډېر شور کول، د ټولګي ګډوډول، او داسې نور وغیره). | PK-2 | X | | | | | نه |
| | | 3-5 | X | X* | | | | |
| | | 6-12 | | X | | | | |
| BSO1 | یو رسمي سند یا ریکارډ بدلول | PK-2 | X | X | X | | | نه |
| | | 3-5 | | X | X | X* | | |
| | | 6-12 | | X | X | X* | | |
| BSO2 | ناسم معلوماتونه ورکول، ناسم استازیتوب کول | PK-2 | X | X | X | | | نه |
| | | 3-5 | | X | X | X* | | |
| | | 6-12 | | X | X | X* | | |
| BSO3 | د کارکوونکو له غوښتنو څخه پداسې شکل انکار کول چې د ښوونځي په چارو کې مداخله وکړي. | PK-2 | X | X | X | | | نه |
| | | 3-5 | X | X | X | | | |
| | | 6-12 | | X | X | | | |
| BSO6 | ښوونځي ته د غیر مجاز اشخاصو راوستل یا غیر مجاز اشخاصو ته د ښوونځي ودانۍ ته د ننوتلو اجازه ورکول. | PK-2 | X | X | X | | | نه |
| | | 3-5 | X | X | X | | | |
| | | 6-12 | X | X | X | | | |
| BSO9 | د داسې توکو درلودل چې د ښوونځي لپاره نامناسب وي (د بیلګې په توګه د لوبو توکي، مجلې، بریښنایي وسایل). | PK-2 | X | X | X | | | نه |
| | | 3-5 | X | X | X | | | |
| | | 6-12 | X | X | X | | | |
| RB6 | یو له بله سره په ناوړه، ګنده ډول خبرې کول. | PK-2 | X | X | X | | | نه |
| | | 3-5 | X | X | X | | | |
| | | 6-12 | X | X | X | | | |
| RB8 | ناوړه یا فحش ژبه کارول یا ګنده اشاري کارول (ګنده ژبه کارول، کنځل کول، د نفرت انګیزه وینا، د ګینګ یا بدی ډلی لوحی یا اشاری). | PK-2 | X | X | X | | | نه |
| | | 3-5 | | X | X | X* | | |
| | | 6-12 | | X | X | X* | | |
| RB10 | د ښوونځی کارکوونکو لخوا پوښتنو یا غوښتنو ته ځواب ویلو کې پاتې راتلل. | PK-2 | X | X | X | | | نه |
| | | 3-5 | X | X | X | | | |
| | | 6-12 | X | X | X | | | |
| RB11 | ناغوښتل شوی یا نامناسب فزیکی لمس. | PK-2 | X | X | X | | | نه |
| | | 3-5 | X | X | X | | | |
| | | 6-12 | | X | X | | | |
| BSC13 | په بې پروا چلند کې ښکیل کیدل چې د ځان یا نورو د ټپي کیدو خطر رامینځته کوي | PK-2 | X | X | X | | | نه |
| | | 3-5 | | X | X | X* | | |
| | | 6-12 | | X | X | X* | | |
| BSC15 | د ښوونځي په چارو کی یا د کارکوونکو او/یا زده کوونکو خوندیتوب ته د پام وړ خنډ رامینځته کول یا لامل کیدل. | PK-2 | X | X | X | X* | | نه |
| | | 3-5 | | X | X | X* | | |
| | | 6-12 | | X | X | X | X | |
| BSC16 | یو داسې خیز توغول چې د ګډوډي رامنځ ته کولو، ټپي کولو یا ملکیت ته د زیان رسولو ورتیا لري | PK-2 | X | X | X* | | | نه |
| | | 3-5 | X | X | X* | | | |
| | | 6-12 | | X | X | | | |
| BSC17 | د کوم ښکاره نښې نښانی پرته، بل زده کوونکی ټیل وهل، ټیله کول، ور باندی وار کول یا چیچل | PK-2 | X | X | X | | | نه |
| | | 3-5 | | X | X | | | |
| | | 6-12 | | X | X | | | |

## لباس او سینګار (زده کوونکي)

له زده کوونکو څخه په کلکه غوښتنه کیږي چې په داسې ډول جامې واغوندي چې د درناوي وړ او له ګډوډۍ پاک چاپیریال سره په مطابق وي، ترڅو ټولو زده کوونکو سره د زده کړې پر بهیر باندې تمرکز کونه کې مرسته وکړي. پداسې حال کې چې په ښوونځي کې وی او که په مجازی ډول، د زده کوونکو عمومي ظاهری بڼه باید د ټول شموله ښوونځي ټولنې روغتیا او خوندیتوب پر اساس وي. دا ښکاره ده چې د زده کوونکي لباس ممکن د ښوونځي په جریان کې د بهر هوا حالت پورې اړه ولري، په هر صورت، زده کوونکي باید د داسې لباس اغوستلو څخه ډډه وکړي کوم چې ممکن د تعلیمي پروسې لپاره د خنډ یا ګډوډۍ لامل شي یا د زده کوونکو یا د نورو د فزیکي او احساساتي روغتیا او خوندیتوب له خطر سره مخ کړی. هغه زده کوونکي چې ظاهری بڼه یې په زده کړه کې خلل رامنځ ته کوي، ممکن ورڅخه د لباس بدلولو غوښتنه وشي.

د PWCS د زده کوونکي د لباس او ظاهری بڼې لارښوونې د دې لپاره جوړې شوي تر څو د زده کوونکي په څرګندونو او د کارکوونکو د قانون پلی کونو کې د مساواتو ډاډ رامینځته کړي، او د نسل، رنګ، مذهب، ملي اصل، جنس، جنډر هویت، جنسي تمایل عمر، معلولیت، جنیټیکی معلومات، یا کوم بل څیز پر اساس د تبعیض کولو لپاره ندي رامینځته شوي کوم چې د قانون لخوا منع شوی دي. د جامو یا لباس او سینګار یا ظاهری بڼې معیارونه د جنسیت، جنسیت پیژندنې، یا جنسیت بیان په پام کې نیولو پرته په ټولو زده کوونکو باندې مساوي تطبیق کیږي.

زده کوونکو ته اجازه ورکړل شوې چې هر ډول مذهبي او کلتوری مشخص یا اړین د سر پوښاک یا وېښتانو سټایل جوړ کړی.

**د سر پټولو او وېښتانو سټایل په موخه په اجازه لرونکي څیزونو کی لاندی ذکر شوي شامل دی مګر دغو پوری محدود نه دي:**

- چوټې شوي وېښتان
- چوټې ګانو سټایل
- د سر پټولو دسمال
- حجاب
- اضافه وېښتان
- د یهودیانو د سر خولی

**په منع شوي لباس کی داسی لباس شامل دي چې:**

- د لباس لاندی توکي ورڅخه ښکاري (لکه سینه بند یا نیکر).
- بدن سره په داسی ډول چسپ وي چی د لباس لاندي توکی ورڅخه ښکاره کیږي.
- هغه لباس چی فحاش، تبعیضی، ناوړه چلند او ناوړه ژبه یا عکسونه لري.
- ګواښونه یا د بدمعاشانه ډلې سمبولونه ولري.
- د وسلو کارولو او تاوتریخوالی، یا د الکول، تمباکو یا غیر قانوني مخدره توکو کارولو او/ یا اړوند څیزونو ته هڅوي.
- یا داسی لوازم وي چې د وسلې په توګه ګڼړل کیدای شي یا وکارول شي.
- د سر پوښاک کوم چې ټول سر یا مخ پټوي مګر پرته له دی چی که د سر پوښاک د لاندینو په توګه کارول کیږي:
    - د یو چا د مذهب برخې په توګه اغوستل کیږي.
    - د طبي یا روغتیایی لاملونو له امله اغوستل کیږي.
    - د ځان ساتنی لپاره اغوستل کیږي لکه د ساړي ناروغیو خپریدو په صورت کې.
    - د منظوری شوي ښوونځي غونډی لپاره واغوستل شی.
    - د یو چا د کلتوري یا قومي تاریخ د څرګندونې په توګه واغوستل شي.

د PWCS هیڅ کارکوونکی نشي کولی چی د لباس او د سینګار قانون پلی کولو په موخه د زده کوونکي یا د زده کوونکي لباس سره په مستقیم ډول فزیکي تماس یا لمس ولري. د دې احکامو د تعمیل یا ورسره ځان د برابرولو په موخه هیڅ زده کوونکی اړ نه دی چې د کوم بل فرد پر وړاندې جامې وباسی.

| SBAR کوډ | سرغړونی | ټولګی | 1 کچه | 2 کچه | 3 کچه | 4 کچه | 5 کچه | قانون پلی کوونکو چارواکو ته اجباری راپور ورکونه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| BSO7 | د لباس اغوستلو کوډ/اصولو څخه سرغړونه | PK-2 | X | X | | | | نه |
| | | 3-5 | X | X | | | | |
| | | 6-12 | X | X | | | | |

## جنګ

د برید یا فزیکي تېري برعکس، د دوو یا ډېرو کسانو ترمنځ په فزیکي نښته کې د دواړو لورو قصدي او فعال ګډون ته ویل کیږي، چیرته چې دواړه اړخونه په عملي ډول پکې ښکېل وي.

جګړه کول، تنګول (آزار رسول)، پېغور ورکول، یا په لفظي شخړه کې ښکېل کېدل منع دي او د انضباطي سزا لامل ګرځي، پرته له دې خبرې په پام کې نیولو چې جګړه چا پیل کړې ده.

د نورو هڅول، د جګړې لپاره زمینه برابرول، او یا د جګړې پر مهال د چغو وهلو له لارې د نورو پارول هم منع دي او د سزا لامل کیږي. په دې کې د څارونکي (پیره دار) په توګه کار کول یا د هغه ښوونکي یا چارواکي په وړاندې خنډ جوړول هم شامل دي چې غواړي د جګړې د درولو لپاره مداخله وکړي. یو ښوونکی یا د ښوونځي بل چارواکی د جګړې د درولو یا نورو کسانو او ملکیتونو ته د زیان رسولو د مخنیوي لپاره ممکن له معقول او د اړتیا وړ فزیکي ځواک یا قوت څخه کار واخلي. هر هغه زده کوونکی چې د ښوونکي یا د ښوونځي بل چارواکي په وړاندې خنډ جوړېږي ځوک چې د جګړې د درولو او نظم د بېرته ټینګولو هڅه کوي، سزا به ورکړل شي.

د انضباطي پروسې په جریان کې، د ځان د دفاع په اړه د زده کوونکي ادعا باید د هغو معیارونو سره برابره وي چې په (C) ضمیمه کې تعریف شوي دي.

### د پری سکول څخه تر ۵ ټولګي پورې

د زده کوونکی د لومړي ځل جګړې وروسته، چې ځوک پکې نه وي ټپي شوي، اخطاریه یا د څنډونی لیک به یې مور او پلار یا قانوني سرپرست ته واستول شي. که چیرته زده کوونکی بیاځلی په بله جګړه کې ښکېل شي، زده کوونکی کیدای شي په ښوونځي کې دننه وځنډول شي او یا له ښوونځي څخه بهر د څنډونی سزا ترلاسه کړي.

| SBAR کوډ | سرغړونې | ټولګی | 1 کچه | 2 کچه | 3 کچه | 4 کچه | 5 کچه | قانون پلی کوونکو چارواکو ته اجباری راپور ورکونه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| RB7 | تنګول، ټکول، په لفظي شخړه کې ښکیل کیدل، په لفظي ډول جګړې ته هڅول | PK-2 | X | X | X | | | نه |
| | | 3-5 | | X | X | | | |
| BSC14 | هغه جګړه چې د هیڅ زیان نه لرلو پایله لري، لکه څرنګ چې د ښوونځی اداري لخوا مشخص شوي دي. | PK-2 | X | X | X | X* | | نه |
| | | 3-5 | | X | X | X* | | |
| BESO1 | برید کول: په قصدي ډول بل کس ته د فزیکي زیان رسولو نیت درلودل | PK-2 | | X | X | X* | | نه |
| | | 3-5 | | X | X | X* | | |
| BESO2 | برید او وهل ټکول: بل کس ته فزیکي زیان رسول. | PK-2 | | | X | X | X | هو |
| | | 3-5 | | | X | X | X | |
| BESO3 | جنګ کول: د زده کوونکو یا بل چا ترمینځ د فزیکی تاوتریخوالی استعمال کله چې کومه ټپی کیدنه شتون نلري، لکه څرنګ چې د ښوونځی اداري لخوا مشخص شوي دي. | PK-2 | | X | X | X* | | هو |
| | | 3-5 | | X | X | X* | | |

### د ۶ څخه تر ۱۲ ټولګي پورې

که یو زده کوونکی په ورته ۱۲ میاشتنی موده کې د جنګ ګڼ شمیر سرغړونې ولري، زده کوونکی کیدای شي د لا زیات انضباطي اقداماتو، احتمالي اوږدمهاله تعلیق یا بدیل تعلیمي پروګرام ته د بیا ګمارنې لپاره راجع شي. د هغو زده کوونکو لپاره چې د ورته تحصیلي کال په جریان کې یې ګڼ شمیر جنګونه کړي وي یا هغه زده کوونکي چې په جنګونو کې یې ډلی ټپلی، وسلې، یا جدي ټپي کیدل شامل وي، د اوږدېدنې افسر کولی شي چې ښوونځي بورډ ته یی د اخراج سپارښتنه وکړي.

| SBAR کوډ | سرغړونې | ټولګی | 1 کچه | 2 کچه | 3 کچه | 4 کچه | 5 کچه | قانون پلی کوونکو چارواکو ته اجباری راپور ورکونه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| RB7 | تنګول، ټکول، په لفظي شخړه کې ښکیل کیدل، په لفظي ډول جګړې ته هڅول | 6-12 | | X | X | | | نه |
| BSC14 | هغه جګړه چې د هیڅ زیان نه لرلو پایله لري، لکه څرنګ چې د ښوونځی اداري لخوا مشخص شوي دي. | -12 | | | X | X | | نه |
| BESO1 | برید کول: په قصدي ډول بل کس ته د فزیکي زیان رسولو نیت درلودل | 6-12 | | | X | X* | X* | نه |
| BESO2 | برید او وهل ټکول: بل کس ته فزیکي زیان رسول. | 6-12 | | | | X | X | هو |
| BESO3 | جګړه کول: د زده کوونکو یا بل چا ترمینځ د فزیکی تاوتریخوالی استعمال کله چې کومه ټپی کیدنه شتون نلري، لکه څرنګ چې د ښوونځی اداري لخوا مشخص شوي دي. | 6-12 | | | X | X* | X* | هو |

## قمار/جواری

یو زده کوونکی باید د ښوونځي په ملکیت کې، د ښوونځي په بسونو کې، یا د ښوونځي لخوا د تمویل شوي هر ډول فعالیت په جریان کې د پیسو یا نور ارزښت لرونکي شیان شرط ونه تړي یا په پوهی سره په هیڅ لوبه کې برخه وانخلي، چې شرط پکې شامل وي.

| SBAR کوډ | سرغړونې | ټولګی | 1 کچه | 2 کچه | 3 کچه | 4 کچه | 5 کچه | قانون پلی کوونکو چارواکو ته اجباری راپور ورکونه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| BSO8 | قمار کول (د پیسو یا ګټې لپاره چانسی لوبې کول) | PK-2 | X | X | X | | | نه |
| | | 3-5 | | X | X | | | |
| | | 6-12 | | X | X | X* | | |

## باندې (د بدمعاشانو ډله ټپله) یا د باند اړوند فعالیت

د بدمعاشانو ډلی فعالیت، جلب و جذب او د بدمعاشانو ډلی غړیتوب خرګندونه به د زغملو وړ نه وي. د باند یا بدمعاشانو د ډلی اړوند کارونه، وینا، اشارې، جامې، سمبولونه، یا د بدمعاشانو ډلی غړیتوب یا د بدمعاشانو ډلی فعالیتونه په ښوونځي کی او د ښوونځي اړوند چارو کې منع دي. هر هغه زده کوونکی چې په ښوونځي کې د ډله ټپلو اړوند کړنو کی ښکیل وي، د انضباطي اقدام تابع دی، په لا زیات انضباطي اقدام کی SHD ته راجع کونه شامل دي.

باند د دریو یا ډیرو کسانو د هرې هغې ډلې په توګه تعریف شوی چې په موخه کی یې لاندې موارد شامل وي:

- د غیر قانوني اعمالو ترسره کول.
- په هغو فعالیتونو کې ګډون چې د یو شخص یا ملکیت خوندیتوب تهدیدوي.
- د ښوونځی چاپیریال ګډوډول.
- د ویرې او ډار فضا رامینځته کول.

د ګینګ (بدمعاشانو ډله) فعالیت په لاندی ډول تعریف شوی:

- هر هغه لباس، زیوراتو، نښې نښانو، سمبول، نښی یا بل ځیز اغوستل، کارول، ویشل، نندارہ کول، یا پلورل چې هغه په کوم باند کې د غړیتوب یا تړاو لرلو ثبوت وي.
- په یو باند کې د غړیتوب یا تړاو ښودلو په موخه د هر ډول عمل یا قصور ترسره کول، یا د هر ډول وینا کول، که شفاهي وي یا غیر شفاهي (لکه اشارې یا د لاس ورکول).
- د کوم باند د ګټو په پام کې نیولو سره د هر ډول وینا کول یا د هر ډول عمل یا قصور ترسره کول، په شمول د: (الف) په کوم باند کې د غړیتوب لپاره د نورو هڅول، ځورول، او پیلول، (ب) له کوم شخص څخه د ساتنې لپاره د پیسو غوښتنه کول یا په بل ډول کوم شخص تهدیدول یا ډارول، یا (ج) د ښوونځي د پالیسی هر بل غیر قانوني عمل یا بله سرغړونه ترسره کول او نور زده کونکي فزیکي تاوتریخوالي ته هڅول.
- نامناسبه راټولېدنه، بې ځایه تنګول، سایبري ځورونه، ځورونه، ډارول، سپکاوی، بې عزتي او/یا اړونده فعالیتونه چې احتمال لري زده کوونکو، کارکوونکو، یا لیدونکو ته فزیکي یا ذهني زیان ورسوي.

| SBAR کوډ | سرغړونې | ټولګی | 1 کچه | 2 کچه | 3 کچه | 4 کچه | 5 کچه | قانون پلی کوونکو چارواکو ته اجباری راپور ورکونه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| RB8 | ناوړه یا فحش ژبه کارول یا کنده اشارې کارول (کنده ژبه کارول، کنځل کول، د نفرت انګیزه وینا، د ګینګ یا بدی ډلی لوحی یا اشاری). | PK-2 | X | X | X | | | نه |
| | | 3-5 | | X | X | X* | | |
| | | 6-12 | | X | X | X* | | |
| BESO10 | د باند یا بدمعاشانو ډلی پورې تړلی چلند په ګواښوونکي یا خطرناک چلند کې ښکیل کیدل<br>چې د باند پورې تړلی وي لکه څنګه چې [د ورجینیا قانون ۴۶.۱-۱۸.۱ §](#) ماده کی تعریف شوي دي. | PK-2 | X | X | X | X | | نه |
| | | 3-5 | | X | X | X | | |
| | | 6-12 | | | X | X | | |

## ځورونه، په شمول د جنسیت پر بنسټ ځورونې

په مکرر ډول په زده کوونکی یا د زده کوونکو ګروپ، یا پرسونل باندې برید کول، د هر دلیل لپاره ډارونکی یا دښمنانه تعلیمی یا کاری چاپیریال رامینځته کول. ځورونه، یو فرد یا یوه ډله په داسې طریقه سپکوي، ګواښي، ډاروي یا ورته زیان رسوي چې له امله یې د هغه د خوندیتوب اندیښنه یا ویره رامینځته کیږي. هغه ځورونه چې قرباني د نژاد، رنګ، مذهب، ملي اصل (د شریک نسب او قومي ځانګړتیاو په شمول)، جنسیت، جنسیتي هویت، جنسي تمایل، حمل، زیږون، یا اړوندو طبي شرایطو په شمول د شیدو ورکول، عمر، ازدواجي حالت یا والدیني حالت، د پخوانی عسکری حالت، معلولیت، جنیټکی معلوماتو، یا د قانون لخوا منع شوي هر ډول بل اساس (خوندي شوې طبقه) له امله په نښه کوي، د هغو پلی کیدو ور تګلارو له مخی به وڅیړل شي چی د PWCS پالیسیو او مقرراتو په چوکاټ کې ذکر شوي دي.

مهرباني وکړئ په یاد ولرئ چې د سپکاوي کلمو یا سمبولونو کارول چې د یوې خوندي شوې طبقې د غړیتوب یا په هغه کې د تصور شوي غړیتوب پر بنسټ د یو فرد یا ډلې سپکاوی یا ډارول کوي، د ځورونې په توګه به وڅیړل شي.

په یاد ولرئ چې د هغه چلند لپاره د ډیسپلین پلي کول چې د ټایټل IX جنسي ځورونه تشکیلوي، په چلند کوډ کې د بیان شوي طرزالعملونو پرځای به د PWCS په پالیسیو او مقرراتو کې بیان شوي طرزالعملونه تعقیب کړي.

د ځورونې یا جنسي ځورونې هر ډول شکایت باید د PWCS د پالیسۍ او مقرراتو سره سم راپور شي.

د ځورونې/جنسي ځورونې شکایتونو د راپور ورکولو، پلټنې، او حل کولو پروسو لپاره د PWCS وب پاڼه وګورئ.

| SBAR کوډ | سرغړونې | ټولګی | 1 کچه | 2 کچه | 3 کچه | 4 کچه | 5 کچه | قانون پلی کوونکو چارواکو ته اجباری راپور ورکونه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| RB1 | بې خایه تنګول پرته له کوم فزیکي زیان | PK-2 | X | X | X | | | نه |
| | | 3-5 | | X | X | X* | | |
| | | 6-12 | | | X | X* | | |
| RB2 | سایبری ځورونه | PK-2 | X | X | X | | | نه |
| | | 3-5 | | X | X | X* | | |
| | | 6-12 | | X | X | X* | | |
| RB3 | د نامناسبو موادو یا مجلو خپرول، ویشل، ښودل، یا شریکول، په شمول د بریښنایی وسیلو کارول. | PK-2 | X | X | X | | | نه |
| | | 3-5 | | X | X | X* | | |
| | | 6-12 | | X | X | X* | | |
| RB4 | په مستقیم ډول یا د بریښنایی مخابراتو له لارې د جنسي پارونکو تبصرو، کنایو، وړاندیزونو، یا د جنسي بڼی نورو تبصرو ځرګندونی یا لیکل. | PK-2 | X | X | X | | | نه |
| | | 3-5 | | X | X | X* | | |
| | | 6-12 | | X | X | X* | | |
| RB7 | تنګول، ټکول، په لفظي شخړه کې ښکیل کیدل، په لفظي ډول جګړې ته هڅول | PK-2 | X | X | X | | | نه |
| | | 3-5 | | X | X | | | |
| | | 6-12 | | X | X | | | |
| RB8 | د فحش یا سپکاوي ژبې یا اشارو کارول (کنځل کول، د کرکې وینا، د باندونو لوحی، یا اشاري). | PK-2 | X | X | X | | | نه |
| | | 3-5 | | X | X | X* | | |
| | | 6-12 | | X | X | X* | | |
| RB9 | د اصلي یا خپل کړی نسل، توکم، رنګ، ملي اصل، تابعیت/کډوالی وضعیت، وزن، جنډر، جنډر پیژندنه، د جنډر ځرګندونه، جنسي تمایل، معلولیت، یا کوم بل اساس پر بنسټ سپکاوي کول کوم چی د قانون لخوا منع شوي. | PK-2 | X | X | X | | | نه |
| | | 3-5 | | X | X | X* | | |
| | | 6-12 | | | X | X* | | |
| BSC8 | ځورونه: په پرله پسې ډول د زده کوونکي یا د زده کوونکو د یوې ډلې، یا کارکوونکو تنګول یا پر هغوی برید کول، چې د ډار او دښمنانه یا تند تعلیمي یا کاري چاپیریال رامینځته کوي. | PK-2 | | X | X | | | نه |
| | | 3-5 | | X | X | X* | | |
| | | 6-12 | | | | X* | | |
| BSC18 | د بدن د غړو ښکاره کول، بې حیا یا نامناسبه عامه کړنه | PK-2 | X | X | X | | | نه |
| | | 3-5 | | X | X | | | |
| | | 6-12 | | X | X | X | | |
| BSC19 | د جنسي بڼی فزیکي تماس – د بدن د غړو لمس کول، مچول، د جامو کشول | PK-2 | X | X | X | | | نه |
| | | 3-5 | | X | X | X* | | |
| | | 6-12 | | X | X | X | | |

## هیزینګ یا زیان رسول

زده کوونکی باید یا کس ته زیان رسولو کې ښکیل نشي. "هیزنګ" د داسې عمل په توګه تعریف شوی چې په بې پروا یا قصدي ډول د یو زده کوونکي یا زده کوونکو روغتیا یا خوندیتوب له خطر سره مخ کوي یا یو زده کوونکي یا زده کوونکو ته فزیکي زیان رسوي.

زده کوونکي باید په بې پروایۍ سره یا په قصدي ډول په یو داسې چلند کې ښکیل نه شي چې د نورو روغتیا یا خوندیتوب له خطر سره مخ کړي یا د یو کلب، تنظیم یا د زده کوونکو ټولنې کې د ګډون یا ورسره د تړاو له امله د یو زده کوونکی بدن ته زیان ورسوي. سرغړونکي د انضباطي اقدام او احتمالي جنايي پایلو تابع دي. [د ویرجینیا قانون §۱۸.۲-۵۶](#) ماده د هیزینګ سرغړونو لپاره د 1 درجې سرغړونې جزا ټاکي، چې معنی یې تر ۱۲ میاشتو پورې زندان او تر ۲۵۰۰ ډالرو پورې جریمه، یا دواړه دي.

| SBAR کوډ | سرغړونې | ټولګی | 1 کچه | 2 کچه | 3 کچه | 4 کچه | 5 کچه | قانون پلی کوونکو چارواکو ته اجباری راپور ورکونه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| BESO11 | هیزینګ لکه څنګه چې د ویرجینیا قانون § ۱۸.۲-۵۶ ماده کې تعریف شوی او د ویرجینیا قانون § ۲۲.۱-۲۷۹.۶ ماده کې یادونه شوي ده. | PK-2 | | | | | X | هو (که ټپی کیدل پکی وی) |
| | | 3-5 | | | | | X | |
| | | 6-12 | | | | | X | |

## په پرله پیسې توګه خطرناک چلند یا کړنی (PD)

دا ډول چلند یا کړنی په هغو محاسبو کې کارول کیږي چې یو ښوونځي د پرله پیسې ډول خطرناک ښوونځي په توګه په ګوته کوي. "هغه پیښې چې د پرله پسې ډول خطرناکو دولتي ښوونځیو د ټاکلو لپاره د معیار په توګه کارول کیږي، د تاوتریخوالي هغه جرمونه او سرغړونه دي چې د یو شخص په وړاندې ترسره کیږي او د پلورلو یا ویشلو په نیت د مخدره توکو درلودل دي، چې ټول د ویرجینیا قانون ([ټائټل ۱۸.۲](#))، په جنايي برخه کې د جنایت په توګه پیژندل شوي." دا چلندونه یا کړنی د سوپرانټینډنټ دفتر او قانون پلي کوونکو ته راپور ورکولو اړتیا رامینځته کوي او باید د ټولو تعلیمي کچو، له وړکتون څخه تر ۱۲ پورې، د پنځمې کچې غبرګون سره سم ورته پاملرنه وشي.

**هغه چلندونه چې د ویرجینیا د "بې خطره ښوونځي انتخاب اختیار پالیسۍ" کې بیان شوي چې د فدرال یا مرکزي حکومت د " ۲۰۱۵ کال قانون، هر زده کوونکی بریالی کیږي"، له مخی اړین دي.**

### لومړی جزوي یا فرعي کټګوری

| SBAR کوډ | سرغړونی | 1 کچه | 2 کچه | 3 کچه | 4 کچه | 5 کچه | قانون پلی کوونکو چارواکو ته اجباری راپور ورکونه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| PD1 | د ویشتونکی وسلې په واسطه قتل یا وژنه<br>قتل کې هر هغه مړینه شامله ده چې له طبیعي، تصادفي، یا ځان وژنې پرته د نورو دلایلو له امله وي. | | | | | X | هو |
| PD2 | د بل ډول وسلې په واسطه قتل یا وژنه<br>قتل کې هر هغه مړینه شامله ده چې له طبیعي، تصادفي، یا ځان وژنې پرته د نورو دلایلو له امله وي. | | | | | X | هو |
| PD3 | جنسی تیری<br>د جنسي تیري سرغړونه د رضایت پرته د جنسی نږدېوالی تر سره کولو په توګه تعریف شوي او په دی کی قانوني عمر ته له رسیدو پرته جنسي تیري او د نا بالغ سره جنسي عمل شامل دي. | | | | | X | هو |
| PD4 | د جنسی تیری هڅه<br>د جنسي تیري سرغړونه د رضایت پرته د جنسی نږدېوالی تر سره کولو په توګه تعریف شوي او په دی کی قانوني عمر ته له رسیدو پرته جنسي تیري او د نا بالغ سره جنسي عمل شامل دي. | | | | | X | هو |
| PD5 | د بم کارول<br>بم کارولو کی هر ډول چاودیدونکي توکی شامل دي. | | | | | X | هو |

### دویمه جزوي یا فرعي کټګوری

| SBAR کوډ | سرغړونی | 1 کچه | 2 کچه | 3 کچه | 4 کچه | 5 کچه | قانون پلی کوونکو چارواکو ته اجباری راپور ورکونه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| PD6 | د وسلې یا وسله ډوله توکی سره برید<br>د وسلې په واسطه برید کې یو فرد ته د وسلې په واسطه د قصدي فزیکي زیان رسول شامل دي. | | | | | X | هو |
| PD7 | حقیقي غلا یا د غلا هڅه | | | | | X | هو |
| PD8 | اختطاف/برمته کول | | | | | X | هو |
| PD9 | پرته له وسلې په ناوړه توګه ټپي کول<br>پرته له وسلې په ناوړه توګه ټپي کول پدې معنی چې په قصدي ډول بل کس ته د دې نیت سره فزیکي زیان ورسول شي چې هغه شل او ګډ کړي، مخ یې خراب کړي، معیوب کړي، یا یې ووژني | | | | | X | هو |
| PD10 | په زده کوونکي باندې شدید جنسي برید یا تیری<br>ناوړه جنسي تیری کې د پنځلس کالو څخه کم عمر لرونکي ماشوم پر وړاندې جنسي تیری او ناوړه ګټه اخیستنه شامله ده. | | | | | X | هو |

**دریمه جزوي یا فرعي کټګوري**

| SBAR کوډ | سرغړونې | 1 کچه | 2 کچه | 3 کچه | 4 کچه | 5 کچه | قانون پلی کوونکو چارواکو ته اجباری راپور ورکونه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| PD11 | د لاسي وسلې په غیر قانوني ډول درلودل | | | | | X | هو |
| PD12 | د ټوپک یا شاټګن (چره بیز) په غیر قانونی ډول درلودل | | | | | X | هو |
| PD13 | د هر بل ډول توغوونکي وسلې په غیر قانوني ډول درلودل | | | | | X | هو |
| PD14 | د بم په غیر قانونی ډول درلودل | | | | | X | هو |
| PD15 | د ۱۸.۲-۸۵ مادی له مخی د نورو وسلو په غیر قانوني توګه درلودل: چاودیدونکي بمونه، چاودیدونکي توکي یا وسایل، د ټوکو بمی توکی، یا سوځونکي وسایل لکه څنګه چې په ۱۸.۲-۴۳۳.۱ ماده کې تعریف شوي، یا کیمیاوي بمونه لکه څنګه چې په ۱۸.۲-۱۸.۱ ماده کې راغلي دي. | | | | | X | هو |
| PD16 | د خرڅلاو یا ویشلو په نیت د کنټرول شویو نشه یي توکو او موادو په غیر قانوني توګه درلودل<br>*د نشه یی توکو په تعریف کې هغه توکی شامل دي چې د نشه یی توکو د کنټرول قانون (۵۴.۱-۳۴۰۰ §) او وروسته مادو) د لومړي، دویم او دریم جدولونو (Schedules I, II, and III) لاندې طبقه بندي شوي دي، او همدارنګه چرس (ماریجوانا ) هم پکې شامل دي.* | | | | | X | هو |

## بداخلاقي/سپکاوی

هیڅ زده کوونکی باید فحاش، ناروا، سپک یا ناوړه ژبه یا اشارې ونه کاروي.

| SBAR کوډ | سرغړونې | ټولګی | 1 کچه | 2 کچه | 3 کچه | 4 کچه | 5 کچه | قانون پلی کوونکو چارواکو ته اجباری راپور ورکونه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| RB8 | ناوړه یا فحش ژبه کارول یا کنده اشارې کارول (ګنده ژبه کارول، کنځل کول، د نفرت انګیزه وینا، د ګینګ یا بدی ډلی لوحی یا اشاری) | PK-2 | X | X | X | | | نه |
| | | 3-5 | | X | X | X* | | |
| | | 6-12 | | X | X | X* | | |

## منع شوي توکي

دا چې د ښوونځي په ملکیت یا د ښوونځي په فعالیتونو کې د زده کوونکو، کارکوونکو او د نورو کسانو د خوندیتوب او هوساینې ډاډ رامنځ ته شي، د هر ډول ښوونځي په ملکیت کې، د ښوونځي په بس تمځایونو کې، د ښوونځي په بسونو کې، د ښوونځي اړوند فعالیت کې، پرته له دې په پام کی نیولو چی هغه فعالیت په کوم ځای کی تر سره کیږي، او ښوونځي ته د تګ راتګ په وخت کی، یا د ښوونځي اړوند په هر یو فعالیت کې ځینی مشخص توکی منع دي.

هغه زده کوونکي چې د ښوونځي په ملکیت کې یا د ښوونځي اړوند فعالیتونو کې د نشه یی توکو (غیر قانوني، نسخه یی او/یا د نسخی پرته)، الکول یا شراب، تنفسی نشه یی توکو، نقلی درمل، پلیسبوس (د درملو په څیر مواد) یا نشه یی لوازمو په لرلو، کارولو، ترلاسه کولو یا د ترلاسه کولو هڅه کولو، اخیستلو، یا د اخیستلو هڅه کولو، ویشلو یا د ویشلو هڅه کولو کی ښکیل وي یا څوک چې ښوونځي ته د ورته نشه یی توکو په حالت کی راشي، د ځنډولو او/یا له ښوونځي څخه د شړلو تابع دي. د ښوونځي ملکیت د هر هغه حقیقي ملکیت په معنی دی چې د ښوونځي بورډ ملکیت وي یا لخوا اجاره شوی وي، یا هر هغه موټر چې د ښوونځي بورډ ملکیت یا لخوا اجاره شوی اوسی، یا هر هغه موټر چې د ښوونځي بورډ ملکیت وی، لخوا په اجاره نیول شوی، یا د ښوونځی بورډ لخوا یا په استازی توب کارول کیږي. په ویشلو کی د منع شوي توکو یا اړوند توکو وړل، لیږدول، خرڅول، تبادله کول، معامله کول، ډالی ورکول یا بل کس سره شریکول شامل دي.

زده کوونکي ممکن د هغه کړنو لپاره هم د انضباطي اقدام تابع شی چی منع شوي توکی پکی شامل وي او چې د ښوونځي د ملکیت څخه بهر رامنځ ته کیږي، که چیرته اقدام د ښوونځي په چارو کی په پام وړ توګه بده اغیزه یا د زیان پایله ولري، که چیرته چلند یا اقدام په ښوونځي کې پلان شوی وي، که چیرته کړنه د ښوونځي لخوا د سپانسر شوئ فعالیت پر مهال رامنځ ته شي، که چیرته کړنه د زده کوونکو، کارکوونکو، یا د ښوونځی ملکیت خوندیتوب او هوساینه ګواښی یا که اقدام یا کړنه په بل ډول د ښوونځي سره تړلی وي.

**د منع شويو توکو يا موادو بيلګې**

لکه څرنګه چې د  [ويرجينيا قانون ۱۸.۲-۳۷۱.۲ §](#) ماده کې تشريح شوي دي، د منع شويو توکو او اړوند توکو په بيلګو کې لاندې ذکر شوي شامل دي، مګر دغو پورې محدود نه دي، الکول يا شراب، غير الکولي مشروبات، الکولي محصولات، يا د الکولو لوښی (ظرفونه)؛ غير قانوني درمل او توکي؛ نسخه يي او غير نسخه يي درمل؛ نشه تنفسي توکي يا بل ډول توکي چې د نشې په موخه تنفس کيږي؛ انابوليک سټرايډونه؛ يا د پورته ذکر شويو توکو سره ورته والی يا پليسبوس؛ نشه يي توکي يا الکول پارفيرناليا، او د تمباکو يا نيکوتين بخار محصولات.

**د درملو سره چلند**

هغه زده کوونکي چې په ښوونځي کې يا د ښوونځي اړوند فعاليتونو کې درملو ته اړتيا لري، بايد د والدينو يا (سرپرست) لخوا  د ښوونځي نرس يا د ښوونځي نورو چارواکو ته د دغه درملو د اړتيا او استعمال په اړه په ليکلي بڼه اسناد وړاندي کړي. دا ډول ټول درمل بايد سمدستي د ښوونځي نرس يا د ښوونځي اړوند پرسونل ته وسپارل شي او يوازې د زده کوونکو لخوا کارول کيدي شي، يا د ښوونځي نرس يا د ښوونځي اړوند پرسونل په تصويب سره به د زده کوونکو په ملکيت کې وي. د درملو د تطبيقولو طرزالعملونه په [۷۵۷-۴ مقرره](#), "په ښوونځيو کې د درملو د تطبيقولو مديريت" کې تشريح شوي دي."

هر هغه زده کوونکی چې د [ويرجينيا قانون د ۱۶۰۱-۴.۱](#) § مادی سره سم د کيناباډيول (CBD) تېلو يا THC-A تېلو د لرلو يا کارولو لپاره قانوني ليکلی تصديق ولري، او د دغو تېلو ساتنه او کارول يې د زده کوونکي له انفرادي روغتيايي پلان او ۷۵۷-۷ مقررې سره سم وي، د دغې نسخه يي توکو لرلو يا کارولو له امله به تر انضباطي سزا لاندې رانه شي.

هغه زده کوونکي چې په ښوونځي کې درمل ولري، وکاروي، ترلاسه يې کړي يا د ترلاسه کولو هڅه يې وکړي، وې پېري يا د پېرلو هڅه يې وکړي، وې وېشي يا د وېشلو هڅه يې وکړي، او يا د کارکوونکو او نورو زده کوونکو اړوند نسخې شوي درمل غلا کړي، تر انضباطي سزا لاندې راځي؛ په دغه سزا کې اورد مهاله تعليق، بل تعليمي چاپيريال ته لېږل، يا له ښوونځي څخه اخراج شامل کيدی شي.

**انضباطي پايلې**

- **د کنټرول شويو موادو، جعلی کنټرول شويو موادو، يا چرسو (ماريجوانا) لپاره جبري اخراج**

[د ويرجينيا کوډ، ۲۲.۱-۲۷۷.۰۸ §](#) ماده د ښوونځي بورډ مکلفوي چې هر هغه زده کوونکی له ښوونځي څخه وباسي چې بورډ تشخيص کړې وي چې د ښوونځي ملکيت يا د ښوونځي لخوا تنظيم شوي هر ډول فعاليت ته يې کنټرول شوي مواد، جعلی کنټرول شوي مواد، يا چرس راوړي وي. په هر صورت، د ښوونځی مدير، د زده کوونکو د اورېدنې د څانګې لخوا ټاکل شوی د اورېدنې افسر، د ښوونځي بورډ انضباطي کميټه، يا د ښوونځي بشپړ بورډ دا واک لري چې د يوې ځانګړې قضيې د حقايقو پر بنسټ، که چيرته ځانګړي شرايط شتون ولري، کمه سزا ورکړي او يا بيخي سزا ورنکړي. په ځانګړو شرايطو کې شامل دی، مګر دغو پورې محدود نه دي، هغه قانوني معيارونه چی [د ويرجينيا قانون، ۲۲.۱-۲۷۷.۰۶(C) §](#) برخه کې په ډاګه شوي دي، او لکه څرنګه چې په [۷۴۵-۱ مقرره](#), "د زده کوونکو اوږد مهاله ځنډونه يا اخراج" کی تشريح شوي دي.
- **د نورو منع شويو موادو لپاره انضباطي پايلې**

لکه څنګه چې په [۷۳۵-۱ مقرره](#), "منع شوي توکی/مواد" کې بيان شوي، د هغو موادو او اړوندو وسايلو لسټ چې په کلکه منع دي او زده کوونکي پرې سزا کېدای شي، د هغو موادو له لسټ څخه خورا پراخ دی چې د ويرجينيا په قانون کې غير قانوني ګڼل شوي يا د هغو په خاطر ايالتي قانون جبري اخراج لازمي بولي.  زده کوونکي ممکن د هغو موادو يا وسايلو د لرلو، کارولو، ترلاسه کولو، پېرلو يا وېشلو (يا د دغو کارونو د هڅې) په خاطر چې د PWCS د مقرراتو لخوا منع شوي وي، تر اوږد مهاله تعليق، بل تعليمي چاپيريال ته د لېږد، يا له ښوونځي څخه د اخراج تر سزا لاندې راشي.

په ځينو مواردو کې، کيدای شي دا پوښتنه موجود وي چې آيا يو توکي يا څيز منع شوي ګڼل کيږي يا څرنګ. د منع شوي توکی يا نشه يی توکو بڼه او ظاهری ډول، د هغی موخه، او  د کارولو څرنګوالی يا د کارولو نيت بايد په پام کې ونيول شي کله چې دا پريکړه تر سره کيږي چی آيا دغه منع شوی يا نشه يی توکی د انضباطي اقدام سپارښتنه کوي يا تر د اخراجولو په شمول.

**د منع شويو موادو د راپور ورکولو دنده**

د PWCS ټول کارکوونکی او زده کوونکي اړ دي چې د ښوونځی مدير، د مدير مرستيال او د ښوونځی امنيتي افسر، امنيتي پرسونل، ښوونکی، يا د ښوونځي کوم بل کارکوونکی ته ژر تر ژره خبر ورکړي که چيرته دوی په دې باور وي چی په ښوونځي کې، د ښوونځي په ملکيت کې، د ښوونځي بسونو کې، د بس تمځايونو کې، ښوونځي ته د تګ يا راتګ په لاره کې، يا د ښوونځي اړوند چارو کی منع شوي توکي يا نشه يی توکي شتون لري يا د موجوديت احتمال يی موجود وي. هغه زده کوونکي چې د منع شوي توکو يا اړوندو څيزونو شتون يا اټکل شوي شتون په اړه معلومات لري او په راپور ورکولو کې يی پاتې راشي ممکن پخپله د انضباطي اقدام سره مخ شی.

**د منع شوی موادو د سرغړونې لپاره اضافي پالیسۍ**

- ټول ثانوي زده کوونکي چې د لومړي ځل لپاره د منع شویو موادو له امله انضباطي پالیلو سره مخ کیږي، هغوی باید د PWCS د مخدره توکو په اړه تعلیمي پروګرام بشپړ کړي. زده‌کوونکي بنسایې د انضباطي ځارنې لاندې هم ونیول شي. د دې مودې په جریان کې، د ښوونځي مدیران کولای شي له زده‌کوونکي څخه وغواړي چې د نشه‌یي توکو د مخنیوي له کارکوونکو سره بیا د تعقیبي مرستې او لیدنې لپاره وګوري.
- په ټولو کچو باندی د ښوونځي مدیران هڅول کیږي چې د ټولو هغو زده کوونکو والدینو ته چې د منع شویو موادو په سرغړونه کې ښکیل دي، د ټولنې د سرچینو په اړه معلومات ورکړي. د نشه یي توکو د ناوړه ګټې اخیستنې او د شته ټولنیزو سرچینو په اړه معلومات د [PWCS په ویب پاڼه](#) کې خپاره شوی دی.
- د نشه یي توکو د ناوړه ګټې اخیستنې له امله له ښوونځي څخه بهر تعلیق به د لږترلږه ۴۵ تعلیمي ورځو لپاره د ښوونځي له ټولو فعالیتونو (ټیمونو، کلبونو، او د ښوونځي لخوا تمویل شوي نورو ټولو فعالیتونو) څخه د سمدستي تعلیق لامل شي، په شمول په دغه ډول فعالیتونو کې د تمرینونو او ګډون کولو. روزونکي او/یا سپانسران کولی شي د ښوونځي د اداري په تأیید زده کوونکي د منع شویو موادو سره په تړاو د ټیم، کلب، یا فعالیت د قواعدو د سرغړونې له امله له ګډون کولو څخه وځنډوي پرته د دی خبری په پام کی نیولو چې زده کوونکي ته د څومره مودې لپاره تعلیق ورکړل شوی وي.
- هغه زده کوونکی چې له ښوونځي څخه د 45 ورځو څخه زیاتې مودې لپاره ځنډول شوی وي یا د نشه یی توکو د ناوړه ګټه اخیستنې جرم له امله له ښوونځي څخه شړل شوی وي، اجازه نه لري چې په داسې فعالیتونو کې برخه واخلي یا د تعلیق یا اخراج په جریان کې د SHD له لیکلې اجازې پرته د ښوونځي په ملکیت کې شتون ولري.

- د اوریدنې افسر کولی شي له زده کوونکي څخه وغواړي چې د تعلیمي ډیویژن لخوا وړاندیز شوي د مخدره توکو د مخنیوي یا مداخلې په هر ډول فعالیتونو کې برخه واخلي. د اوریدنې افسر کولی شي له هغه زده کوونکي څخه هم وغواړي چې د منع شوي مادې په درلودلو، یا تر اغیزی لاندې و، ترڅو د مخدره توکو او/یا الکولو د ناوړه ګټې اخیستنې ارزونه وکړي، او که د ارزوونکي لخوا وړاندیز وشي، او د زده کونکي د والدینو په رضایت سره، په یوه درملنه کې برخه واخلي که چیرې کورنی ته په وړیا توګه چمتو وي، د دوديز ښوونځي ته د بیرته راستنیدو د شرط په توګه یا د کیمپس څخه بهر کمپیوټري لارښوونې یا په حضوري غیر دوديز تعلیمي پروګرام کې بیا ګمارنه ترلاسه کړي.

**الکول، کنټرول شوي مواد، تقلیدی کنټرول شوي مواد، ماریجوانا (چرس)، نسخه لرونکی او غیر نسخه لرونکی درمل**

| SBAR کوډ | سرغړونې | ټولګی | 1 کچه | 2 کچه | 3 کچه | 4 کچه | 5 کچه | قانون پلی کوونکو چارواکو ته اجباری راپور ورکونه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| BSC4 | نشه یی توکي: د ښوونځي بورډ د غیر نسخه لرونکی درملو پالیسی یا د ورته درملو پالیسی څخه سرغړونه | PK-2 | | X | X | X* | X* | نه |
| | | 3-5 | | X | X | X* | X* | |
| | | 6-12 | | | X | X* | X* | |
| BESO5 | نشه یی توکي: د کنټرول شویو موادو، غیر قانوني مخدره توکو، تنفسي نشه یي توکو، یا مصنوعی نشه یي توکو یا غیر مجاز نسخوي درملو درلودل | PK-2 | | | X | X | X | نه |
| | | 3-5 | | | X | X | X | |
| | | 6-12 | | | X | X | X | |
| BESO7 | نشه یی توکي: د کنټرول شویو موادو کارول یا د غیر قانوني مخدره توکو یا مصنوعی نشه یي توکو یا غیر مجاز نسخوي درملو درلودل | PK-2 | | | X | X | X | نه |
| | | 3-5 | | | X | X | X | |
| | | 6-12 | | | X | X | X | |
| PD16 | د خرڅلاو یا ویشلو په نیت د کنټرول شویو نشه یي توکو او موادو غیر قانوني درلودل. | PK-2 | | | | | X | نه |
| | | 3-5 | | | | | X | |
| | | 6-12 | | | | | X | |
| BSC1 | الکول: د الکولو درلودل، کارول، یا تر اغیزی لاندې کیدل. | PK-2 | | X | X | X* | X* | نه |
| | | 3-5 | | | X | X* | X* | |
| | | 6-12 | | | X | X* | X* | |
| BSC2 | الکول: نورو زده کوونکو ته د الکولو ویشل | PK-2 | | | X | X | X* | نه |
| | | 3-5 | | | X | X | X* | |
| | | 6-12 | | | X | X | X* | |

**د نشه یی توکو وسایل**

| SBAR کوډ | سرغړونې | ټولګی | 1 کچه | 2 کچه | 3 کچه | 4 کچه | 5 کچه | قانون پلی کوونکو چارواکو ته اجباری راپور ورکونه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| BSC3 | نشه یی توکي: د نشه یی توکو وسایلو درلودل | PK-2 | X | X | X | X* | X* | نه |
| | | 3-5 | | X | X | X* | X* | |
| | | 6-12 | | X | X | X* | X* | |

**تمباکو**

| SBAR کوډ | سرغړونې | ټولګی | 1 کچه | 2 کچه | 3 کچه | 4 کچه | 5 کچه | قانون پلی کوونکو چارواکو ته اجباری راپور ورکونه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| BSC5 | تمباکو: د تمباکو محصولاتو درلودل/کارول/ویشل، د تمباکو وسایل درلودل، بریښنایي سګرټ، د ویپینګ تجهیزات یا توکي | PK-2 | | X | X | | | نه |
| | | 3-5 | | X | X | | | |
| | | 6-12 | | X | X | X* | X* | |

**VDOE ته د ځانګړو جنايي تورونو د راپور ورکولو اړتیا، او د هغو جنايي تورونو او محکومیتونو په صورت کې د اقدام کولو صلاحیت یا واک**

د [ویرجینیا قانون د (G) ۱-۲۶۰-§۱۶](#) له مخې، د ځوانانو او کورنیو اړیکو د محکمې د خدماتو څانګه باید سوپرانټینډنټ ته خبر ورکړي کله چې یو زده کوونکی د هغو ځینو جنايي سرغړونو په تور تورن شوی وي چې د ویرجینیا د قانون لخوا پیژندل شوي دي. د [ویرجینیا قانون د ۱:۲۲.۱-۲۷۹.۳ §](#) مادی سره سم، سوپرانټینډنټ باید په کلنۍ توګه د ویرجینیا د زده کړې وزارت ته د ترلاسه شویو تورونو راپور ورکړي ترڅو د خلکو لپاره د داسې پېښو شمیر مستند شي. دا کلنۍ راپور چې د ویرجینیا د زده کړې وزارت ته ورکول کیږي، د تورن شویو زده کوونکو نومونه یا نور پېژندونکي معلومات نه لري.

| SBAR کوډ | سرغړونې | ټولګی | 1 کچه | 2 کچه | 3 کچه | 4 کچه | 5 کچه | قانون پلی کوونکو چارواکو ته اجباری راپور ورکونه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| BESO18 | په ټولنه کې یو جرم چیرته چې یو زده کوونکی د هغه جرم په تور تورن شوی وي چې د مشترک المنافع قوانینو سره ټراو لري، او [د ویرجینیا قانون (G) ۱-۲۶۰-§۱۶](#) مادې سره سم سوپرانټینډنټ ته یې افشا کول اړین دي. | PK-2 | پوری اړه نلری | پوری اړه نلری | پوری اړه نلری | پوری اړه نلری | پوری اړه نلری | قانون پلی کوونکی ډیویژن ته خبر ورکوی |
| | | 3-5 | پوری اړه نلری | پوری اړه نلری | پوری اړه نلری | پوری اړه نلری | پوری اړه نلری | |
| | | 6-12 | پوری اړه نلری | پوری اړه نلری | پوری اړه نلری | پوری اړه نلری | پوری اړه نلری | |

د ښوونځي بورډ او د PWCS کارکوونکی ژمن دي چې ښوونځي د زده کړې لپاره یو خوندي او صحي ځای جوړ کړي، په کوم کې چې د تاو تریخوالی، وسلو، ډلې ټپلو فعالیتونو، نشه یی توکو څخه ناوړه ګټه اخیستنې، او د نورو زیان رسوونکی اغیزو څخه پرته زده کړې تر سره شي. د ویرجینیا قانون PWCS ته واک ورکوي چې د ځینو جنایي تورونو او محکومیتونو په ځواب کې زده کوونکي له ښوونځي څخه لیرې کړي یا یې غیر دودیز تعلیمي پروګرام ته بیا وګماري پرته له دې خبرې په پام کې نیولو چې پیښه په ښوونځي کې شوې وي یا که په ټولنه کې. جنايي تور یا محکومیت ته د ځواب ویلو واک د هغه واک څخه جلا دی چې د چلند کوډ د سرغړونو په ځواب کې ډیسپلین پلي کوي. هغه زده کوونکي چې په داسې ناسم چلند کې ښکیل وي چې د چلند له کوډ څخه سرغړونه کوي او دا د ځینو جنايي قوانینو په تور یا محکومیت پای ته رسیږي، کیدای شي د دواړو پروسو تابع شي.

PWCS واک لري چې [د ویرجینیا قانون ۱:۲۲.۱-۲۷۷.۲ §](#)، او په PWCS پالیسي او مقرراتو کې بیان شوي طرزالعملونو سره سم یو زده کوونکی غیر دودیز تعلیمي پروګرام ته بیا وګماري که چیرته زده کوونکی د وسلو، الکول یا نشه یي توکو، بل کس ته د قصدي زیان رسولو په تور تورن شوی وي، یا د داسې جرم لپاره چې [د ویرجینیا قانون ۱-۲۶۰-§۱۶ (G)](#) مادې سره سم سوپرانټینډنټ ته یې راپور ورکول اړین دي.

PWCS واک لري چې هر هغه زده کوونکی تعلیق یا اخراج کړي چې د [ویرجینیا قانون ۱-۳۰۵-§۱۶](#) مادې سره سم ترلاسه شوي راپور په اساس د مجرم په توګه پیژندل شوی وي یا د هغو جرمونو لپاره محکوم شوی وي چې د [ویرجینیا قانون ۱-۲۶۰-§۱۶ (G)](#) ماده کې د PWCS پالیسۍ او مقرراتو په اساس لیست شوي دي.

## د ښوونځي بس سرغړوني

د [ټرانسپورټ توقعات](#) وګورئ.

## ځورول یا تعقیبول

هغه دوامداره چلند دی چې د یوه ځانګړي شخص پر لور ترسره کېږي او یو معقول شخص به د دې لامل شي چې د خپل ځان یا د نورو د خوندیتوب په اړه وېره احساس کړي، یا دا تمه ولري چې هغه به له جدي احساساتي کړاو سره مخ شي. د ځورولو یا تنګولو/ځورولو چلند کی شامل دی مګر دغو پورې محدود نه دي، د ټلیفونونو، لیکونو، برېښنالیکونو، لیکلی پیغامونو، یا ټولنیزو رسنیو له لارې له کس سره تکراری او نا غوښتونکی اړیکې نیول؛ د قرباني تعقیبول؛ په مستقیم یا غیر مستقیم ډول قرباني ته ګواښونه کول؛ او د قرباني ملکیت ته زیان رسول یا ملکیت ته د زیان رسولو ګواښونه کول. PWCS کیدای شي په دې برخه کې د بیان شوي چلند لپاره انضباطي اقدام وضع کړي حتی که دا چلند [د ویرجینیا قانون ۱۸.۲-۶۰.۳ §](#) مادې تر لاندې د سټاکینګ جنایي عمل نه وي، کوم ته چی د SBAR په کوډ BSC21 کې اشاره شوې ده.

| SBAR کوډ | سرغړونی | ټولګی | 1 کچه | 2 کچه | 3 کچه | 4 کچه | 5 کچه | قانون پلی کوونکو چارواکو ته اجباری راپور ورکونه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| BSC21 | سټاکینګ، لکه څنګه چې د [ویرجینیا قانون ۱۸.۲-۶۰.۳ §](#) ماده کې بیان شوی دی. | PK-2 | | | X | X | X | هو |
| | | 3-5 | | | X | X | X | |
| | | 6-12 | | | X | X | X | |

## ټیکنالوژی - ناوړه ګټه اخیستنه یا په غیر مجاز ډول کارول

د [ټیکنالوژی په غیر مجاز ډول یا په ناوړه توګه کارول](#) وګورئ.

## غلا

له اجازی پرته د ښوونځي د ملکیت یا د نورو د شخصي ملکیت اخیستل یا د اخیستلو هڅه کول منع دي. د هغو ټولو پیښو راپور باید مدیر یا د هغه ټاکل شوي استازي ته ورکړل شي چې د نورو کسانو د نسخې له مخې ورکړل شوي درمل پکې غلا شوي وي یا د غلا کولو هڅه شوې وي، چې په دې کې زده‌کوونکي او د کارکوونکو غړي هم شامل دي، خو یوازې په هغوی پورې محدود نه دي. دغه ډول پیښې به د [منع شوو موادو](#) د لرلو یا د ترلاسه کولو د هڅې له امله د انضباطي اقدام سبب شي. سرغړونکي په ښوونځي کې د اصلاحي عمل تابع کیږي او ممکن د قانوني چلند لپاره مناسب چارواکو ته ور وپیژندل شي.

| SBAR کوډ | سرغړونی | ټولګی | 1 کچه | 2 کچه | 3 کچه | 4 کچه | 5 کچه | قانون پلی کوونکو چارواکو ته اجباری راپور ورکونه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| BSO10 | له ځانه سره غلا شوی توکی لرل. | PK-2 | X | X | X | | | نه |
| | | 3-5 | | X | X | | | |
| | | 6-12 | | X | X | | | |
| RB5 | د فزیکی قوت پرته د پیسو یا ملکیت غلا کول. | PK-2 | X | X | X | | | نه |
| | | 3-5 | | X | X | | | |
| | | 6-12 | | | X | | | |
| BSC22 | د فزیکي خواک په کارولو سره د پیسو یا ملکیت غلا کول (چې وسله پکې شامله نه وي). | PK-2 | X | X | | | | هو (که ټپی کیدنه پکی وی) |
| | | 3-5 | | X | X* | X* | X* | |
| | | 6-12 | | | X | X* | X* | |

## د زده کوونکو او کارکوونکو پر ضد ګواښونه

یو ګواښ چې یو زده کوونکی یې له امله ډیسپلین کیدی شي، یو داسې بیان دی چې په شفاهي ډول، په لیکلي ډول، یا په بصري بڼه رامینځته شوی وي، چې د تاوتریخوالي ترسره کولو، ټپي کولو، یا د نورو زیان رسوونکو کړنو ترسره کولو نیت په ډاګه کوي، یا نور د یو زده کوونکي، کارکوونکي، یا د ښوونځي د نورو چارواکو په وړاندې ځارولو، تاوتریخوالي ترسره کولو، یا ټپي کولو ته هڅوي. یو زده کوونکی کیدای شي د ګواښ کولو له امله ډیسپلین شي (۱) حتی که ګواښ تر سره شوي نه وي یا نه وي څرګنده شوی، او نه هم د هغه شخص لخوا لیدل شوی یا پیژندل شوی وي چې ګواښ ورته شوی وي؛ (۲) پرته له دې چې هغه شخص چې ګواښ ورته شوی وي د ګواښ له امله ډار شوی وي یا د زیان معقوله وېره ولري؛ او (۳) پرته له دې چې ګواښ معتبر وموندل شي یا نه.

د ګواښ ډول، لکه څنګه چې پورته بیان شو، یوازې یو ډول چلند دی چې د ګواښ ارزونې پروسې له لارې کتل کیږي. د ګواښ ارزونې پروسه انضباطي پروسه نه ده، او د هغې موندنې د استیناف غوښتنې تابع ندي. د ګواښ ارزونې ټیم لخوا دا موندنه چې د زده کوونکي لخوا تر سره شوی ګواښ معتبر دی، د انضباطي اقدام د پلي کولو لپاره لازمي شرط ندی.

| SBAR کوډ | سرغړونې | ټولګی | 1 کچه | 2 کچه | 3 کچه | 4 کچه | 5 کچه | قانون پلی کوونکو چارواکو ته اجباری راپور ورکونه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| BESO12 | د ښوونځي کارکوونکي ته ګواښ کول، ډارول، یا یی تاوتریخوالي، ټپي کولو یا زیان رسولو ته هڅول | PK-2 | | X | X | X | X* | نه |
| | | 3-5 | | | X | X | X* | |
| | | 6-12 | | | X | X | X* | |
| BESO13 | ل زده کوونکي (زده کوونکو) یا نورو ته ګواښ کول، ډارول، یا د تاوتریخوالي، ټپي کیدو یا زیان رسولو هڅه کول (د لیکلي ګوابښونو پرته). | PK-2 | | | X | X* | X* | نه |
| | | 3-5 | | | X | X* | X* | |
| | | 6-12 | | | X | X* | X* | |
| BESO13 | بل زده کوونکي (زده کوونکو) یا نورو ته په لیکلي ډول یا په ټولنیزو رسنیو کې په پوستونو کې چې ویډیوګانې/عکسونه هم پکې وي ګواښ کول، ډارول، یا د تاوتریخوالي، ټپي کیدو یا زیان رسولو هڅول | PK-2 | | | X | X* | X* | هو |
| | | 3-5 | | | X | X* | X* | |
| | | 6-12 | | | X | X* | X* | |
| BESO17 | د بم ګواښ – د بم ګواښ کول. | PK-2 | | X | X | X | X* | هو |
| | | 3-5 | | | X | X | X* | |
| | | 6-12 | | | X | X | X* | |

## د ټرانسپورټ توقعات

پداسې حال کې چې د PWCS لخوا برابر شوي ټرانسپورټ کې وي، لکه د ښوونځي بسونه، دا د ټولو زده کوونکو لپاره اړینه ده چې د خوندي او محترمانه چاپیریال په ساتلو کې مرسته وکړي. له زده کوونکو څخه تمه کیږي چې بس ته د ننوتلو، وتلو، او په هغه کې د سفر پرمهال په هر وخت کې په محترمانه او منظم ډول چلند وکړي. پدې کې په داسې طریقو چلند کول شامل دي چې د بس چلوونکی پام غلط نکړي یا په بس کې د نورو خوندیتوب له خطر سره مخ نکړي، لکه د بس چلوونکی یا بس خدمتګار د لارښوونو تعقیب، د بس د حرکت پرمهال په خپله څوکۍ کې ناست پاتې کیدل، او په ټیټ غږ خبرې کول یا غږ کول. زده کوونکو ته به د هغو سرغړونو په صورت کې چې په بس کې ترسره کیږي او د "چلند کوډ" خلاف وي، سزا ورکړل شي؛ په دې کې شامل دي خو یوازې په دې پورې محدود نه دي: د لارښوونو نه منل، د سپکو خبرو (کنځلو) کارول، جګړه، فزیکي برید، څورول، یا د بس تخریب.

د چلند کوډ تر لاندې د ډیسپلین کیدو سربیره، د زده کوونکي ناسم چلند کیدای شي د بس امتیازاتو د تعلیق لامل شي، پرته له هغو معلولیت لرونکو زده کوونکو څخه چې تعلیمي خدمات ترلاسه کوي او د هغوی د IEP یا ۵۰۴ ټیم پریکړه کړې وي چې ټرانسپورټ د دې لپاره اړین دی چې زده کوونکی وکولی شي له تعلیمي پروګرامونو او فرصتونو څخه ګټه پورته کړي.

که یو زده کوونکی د بس له امتیازاتو تر لاسه کولو څخه څنډول شوی وي، مور او پلار مسؤل دي چې زده کوونکی ښوونځي ته یوسي او بیرته یې راولي. د والدینو، بس چلوونکی، مدیر، او په ځینو مواردو کې د ټرانسپورټ څانګې د استازي ترمنځ باید غونډه ترسره شي ترڅو یو حل لاره ومونډل شي مخکې له دې چې زده کوونکي ته اجازه ورکړل شي چې بیرته په بس یا بل وسایط کې سپور شي.

هغه معلولیت لرونکي زده کوونکي چې تعلیمي خدمات ترلاسه کوي او د هغوی د IEP یا ۵۰۴ ټیم پریکړه کړې وي چې ټرانسپورټ د دې لپاره اړین دی چې زده کوونکی وکولی شي له تعلیمي پروګرامونو او فرصتونو څخه ګټه پورته کړي او د چا چلند چې د بس د تعلیق وړ وي، باید د زده کوونکي IEP یا ۵۰۴ ټیم ته د بیاکتنې لپاره راجع شي ترڅو دا په پام کې ونیول شي چې آیا اضافي چلندي ملاتړ او د زده کوونکي په ټرانسپورټي خدماتو کې بدلونونو ته اړتیا شته که نه.

| SBAR کوډ | سرغړونې | ټولګی | 1 کچه | 2 کچه | 3 کچه | 4 کچه | 5 کچه | قانون پلی کوونکو چارواکو ته اجباری راپور ورکونه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| BSC9 | بس: د بس چلوونکی پام ګډوډول. | PK-2 | X | X | X | | | نه |
| | | 3-5 | | X | X | | | |
| | | 6-12 | | X | X | | | |
| BSC10 | بس: په بس کې د نورو خوندیتوب له خطر سره مخ کول. | PK-2 | X | X | X | | | نه |
| | | 3-5 | | X | X | | | |
| | | 6-12 | | X | X | | | |

## تجاوز یا بې اجازې ننوتل

د چلند کوډ له مخې بې اجازې ننوتل پدې معنی دي: له لیکلې اجازې پرته د PWCS ملکیت ته ننوتل یا هلته پاتې کېدل وروسته له هغه چې خبر ورکړل شوی وي چې په ښوونځي یا د ښوونځي په ساحه کې د فرد شتون منع دی؛

د ښوونځي د يو چارواکي لخوا د وتلو له امر وروسته په ښوونځي يا د ښوونځي په ملکيت کې پاتې کېدل؛ د ښوونځي يا د PWCS د بلې ودانۍ هغو برخو ته ننوتل چې د زده کوونکو پر مخ خلاصې نه وي؛ او يا د ښوونځي او ودانۍ له تړل کېدو وروسته ورته ننوتل. پدې کې د ښوونځي بسونه يا د ښوونځي لخوا تنظيم شوي مراسم هم شامل دي، پرته له دې چې ځای يې چېرته دی.

هغه زده کوونکي چې له ۱ څخه تر ۱۰ ورځو پورې له ښوونځي څخه بهر تعليق تيروي، خبر به ورکول کيږي چې دوی نشي کولای د مدير له ليکلې اجازې پرته د ښوونځي ملکيت ته ننوځي. هغه زده کوونکي چې د اوږد مهاله تعليق په حال کې دي، غير دوديز تعليمي پروګرام ته لېږل شوي، اخراج شوي، يا په PWCS کې له ګډون څخه محروم شوي وي، ممکن د اورېدنې د افسر، د ښوونځي بورډ د انضباطي کميټې، يا د ښوونځي بورډ لخوا د ښوونځي بورډ ټولو ملکيتونو يا د هغو ځينو برخو (لکه د دوديزو ښوونځيو ودانۍ يا ساحې) ته له ننوتلو يا هلته له پاتې کېدو څخه منع شي.
زده کوونکي به يو ليکلی خبرتيا ترلاسه کړي چې په هغې کې د بنديز ساحه او د PWCS ملکيت ته د ننوتلو لپاره د SHD څخه د اجازې غوښتنې پروسه تشريح شوې وي.

يو زده کوونکی هغه وخت مخکښنی ليکلې اجازې ته اړتيا نه لري چې له خپل مور او پلار سره يوځای د هغې مخامخ غونډې يا اورېدنې لپاره راځي چې د ښوونځي د چارواکو لخوا د زده کوونکي د انضباطي موضوع يا د انضباطي پرېکړې په اړه د استيناف غوښتنې لپاره ټاکل شوې وي.  د نورو ټولو مواردو لپاره، زده کوونکی بايد د ښوونځي مدير يا SHD څخه، د اړتيا په صورت کې، ليکلې اجازه ترلاسه کړي. اجازه معمولا د دې لپاره ورکول کيږي چې زده کوونکي ته اجازه ورکړل شي چې د ازموينو يا ارزونو لپاره د ښوونځي ملکيت ته راشي چې د زده کونکي شتون ورته اړين دی.  اجازه به د دې لپاره نه ورکول کيږي چې زده کوونکي ته د ښوونځي په پيښو يا غير نصابي فعاليتونو کې د ګډون اجازه ورکړي.

هغه زده کوونکي چې د تجاوز يا نورو اړوندو چلندونو په وړاندې ايالتي جنايي قوانين تر پښو لاندې کوي، کېدای شي د جنايي تعقيب تابع هم شي.

| SBAR کوډ | سرغړونې | ټولګی | 1 کچه | 2 کچه | 3 کچه | 4 کچه | 5 کچه | قانون پلی کوونکو چارواکو ته اجباری راپور ورکونه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| BSC25 | د حريم سرغړونه | PK-2 | | X | X | | | نه |
| | | 3-5 | | X | X | | | |
| | | 6-12 | | X | X | X* | | |
| BSC16 | زده کوونکی د کيمپس په غير مجاز ساحه کې وي. | PK-2 | X | X | X | | | نه |
| | | 3-5 | | X | X | | | |
| | | 6-12 | | X | X | | | |

## غير مجاز لاسرسی - نور په خطر کې اچول

د زده کوونکو داسې چلند چې ممکن نور خلک د خطر سره مخ کړي، ورته به اجازه نه ورکول کيږي. پدې کې شامل دي مګر دغو پورې محدود ندي، د غير مجاز ننوتو ځايونو له لارې نورو ته د ننوتلو اجازه ورکول (د بيلګې په توګه، د تالار دروازه خلاصول، بندول، يا په وهلو سره خلاصول).

زده کوونکی په کلکه منع دي چی د خونديتوب سکرينينګ ټيکنالوژۍ لاری پر ځای د بلی لار ی تير شی شي کوم چی نه نظارت کيږي. دا ډول کړنې د ښوونځی چاپيريال خونديتوب او امنيت ته خطر وړاندی کوی او د چلند کوډ څخه سرغړونه ګڼل کيږی.

| SBAR کوډ | سرغړونې | ټولګی | 1 کچه | 2 کچه | 3 کچه | 4 کچه | 5 کچه | قانون پلی کوونکو چارواکو ته اجباری راپور ورکونه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| BSO16 | زده کوونکی د کيمپس په غير مجاز ساحه کې وي. | PK-2 | X | X | X | | | نه |
| | | 3-5 | | X | X | | | |
| | | 6-12 | | X | X | | | |

## د ګرځنده ټليفونونو يا شخصي بريښنايی مخابراتي وسيلو غير مجاز درلودل يا کارول: "ګرځنده ټليفون" د هغی شخصي وسيلی په معنی ده چې د ټليفون کولو، د انځورونو يا ويډيوګانو لېږدولو، يا د بريښنايی لارو له لارې د پيغامونو ليږلو يا ترلاسه کولو وړتيا لري.

"شخصي بريښنايي وسيله" د هر هغی شخصي وسيلی په معنی ده چې له سمارټ يا عصری ټليفون، انټرنيټ، بی سيم وسيلی يا Wi-Fi شبکې سره د وصل کيدو وړتيا لري، يا په مستقيم ډول له بلې ورته وسيلې سره وصل کيږي. شخصی اليکترونيکی

وسیلو کې ممکن ځینې د اغوستلو وړ وسایل، لکه سمارټ یا عصري ساعتونه، د مصنوعي ځیرکتیا عینکي، همدارنګه شخصي هیډفونونه، لیپټاپونه، ټابلیټونه او نور هغه راتلونکي شخصي بریښنایي وسایل شامل وي چې پورته ذکر شوې ځانګړتیاوې ولري.

**لارښوونې/تګلارې**

A. ابتدايۀ او ګډ ښوونځي:
1. ټول ګرځنده ټلیفونونه او شخصي الیکترونیکي وسیلې باید بندې وي او لیرې کېښودل شي او د سیمه ییزه سفرونو په شمول د ښوونځي په ودانۍ کې یا د ښوونځي په ملکیت یا د ځای په پام کې نیولو پرته د هیڅ درسي ساعت پر مهال به نشي کارول کیدي.
2. زده کوونکو ته اجازه ده چې په ښوونځي بسونو کې، د والدینو/سرپرستانو په موټرو کې، او مخکې له دې چې ښوونځي ته ننوځي یا له ښوونځي څخه ووځي، خپل ګرځنده ټلیفونونه او د اړیکې ټینګولو شخصي بریښنایي وسایل وکاروي.

B. منځني او عالي ښوونځي:
1. ټول ګرځنده ټلیفونونه او شخصي الیکترونیکي وسیلې باید د سهار د ټالي یا زنګ څخه تر رخصتیدو ټالي پورې او د سیمه ییزه سفرونو په شمول د ځای په پام کې نیولو پرته د درسي ساعتونو پر مهال بندې وي او لیرې کېښودل شي.
2. ټول ګرځنده ټلیفونونه او بریښنایي مخابراتي وسیلې په ښوونځي کې دننه او د ښوونځي په کیمپس کې دننه د لومړي زنګ دمخه او د وروستي زنګ وروسته روښانه کیدی شي.

C. دغه قوانین په ټولو ښوونځیو کې او په ټولګیو باندې د پلي کیدو وړ دي:
1. عمر یا د ټولګي کچې په پام کې نیولو پرته، ټول زده کوونکي اړ دي چې په خپل ښوونځي کې ټول د پلي کیدو وړ قوانین پلي کړي. د بیلګې په توګه، که د عالي ښوونځي یو زده کوونکی په یو ابتدايۀ ښوونځۍ کې په یو فعالیت کې ګډون کوي، نو د عالي ښوونځي دغه زده کوونکی باید د ابتدايۀ ښوونځۍ د ګرځنده ټلیفونونو او شخصي بریښنایي وسایلو قوانین پلي کړي، تر څو چې دغه زده کوونکی د ابتدايۀ ښوونځۍ په انګړ یا ودانۍ کې موجود وي.
2. د ګرځنده ټلیفونونو او شخصي بریښنایي وسایلو کارونه د جامو بدلولو په ټولو خونو او تشنابونو کې هر وخت منع دي.
3. ګرځنده ټلیفونونه او بې سیمه مخابراتي وسیلې د ښوونځي په بسونو کې کارول کیدی شي، مګر په دې شرط چې دغه وسیلې د موټر چلوونکي پام ګډوډ نکړي، خوندیتوب د ګواښ سره مخ نه کړي، یا د منع شوي محتوي او د ټولو زده کوونکو لپاره په [۷۲۹ پالیسي](), "د ګرځنده ټلیفون څخه پاک تعلیم یا زده کړې" کې تشریح شوي احکامو څخه سرغړونه ونه کړي.
4. د یوې ټالي څخه تر بلې ټالي پورې د ښوونځي ورځې څخه بهر د غیر نصابي او نصابي فعالیتونو په بهیر کې د ګرځنده ټلیفونونو او شخصي بریښنایي وسیلو استعمال به د کوچ، سپانسر، یا ښوونکي لخوا مشخص کیږي.

D. معلولیت او نورې اسانتیاوې:
1. درسي نصاب، ښوونځي او د ښوونځي لخوا سپانسر شویو فعالیتونو ته د زده کوونکو د لاسرسي ډاډ رامینځته کولو لپاره د 504 یا د انفرادي زده کړو پروګرام (IEPs) له لارې، یا د انګلیسي ژبې د زده کړې په پروګرام کې د زده کوونکو لپاره د معلولیت اسانتیاوو په توګه د دغو تګلارو لپاره استثناوې منل کیدای شي، کله چې ورته اړتیا وي. د زده کوونکي د روغتیا، خوندیتوب، یا د ملاتړ نورو پلانونو برخو په توګه هم استثناوې منل کیدی شي.

د PWCS د ښوونځي بورډ د [۷۲۹ پالیسي](), "د ګرځنده ټلیفونونو څخه پاک تعلیم"، غوره کولو لپاره رایه ورکړه. لا زیات معلومات د PWCS په ویب پاڼه کې د [بېسیم مخابراتي وسایلو د کارونې]() لاندې موندل کېدای شي.

## د ټیکنالوژۍ په غیر مجاز ډول کارول یا ناوړه ګټه اخیستنه

کمپیوټري، د کمپیوټرو شبکې، او نور بریښنایي ټیکنالوژي باید یوازې **د سم تحصیلي موخو لپاره او یوازې د ښوونځي کارکوونکي په هوکړې سره وکارول شي.** کله چې په ښوونځي کې بریښنایي ټیکنالوژي کارول کیږي، زده کوونکي اړ دي چې د چلند کوډ رعایت کړي او د PWCS پالیسي او مقرراتو کې تعریف شوي معیارونو ته غاړه کیږدي. دا پالیسي او مقررات په انلاین ډول د [PWCS پالیسو او مقرراتو]() کې شتون لري. د ټیکنالوژۍ د نه منلو وړ کارونو کې شامل دي، مګر لاندې ذکر شویو پورې محدود نه دي:

- د نورو د محرمیت حقونو څخه سرغړونه کول.
- د ناوړه سپک، فحش او یا داسې توکو کارول، تولید، ویشل یا ترلاسه کول کوم چې نور اشخاص ځوروي، تنګوي، ګواښي او یا یې سپکاوی کوي. په دې کې سایبري ځورونه هم شامله ده، دا د ځورونې یوه داسې بڼه ده چې پکې د بریښنایي پیغامونو او / یا عکسونو لیږد، لاس ته کول، یا خرګندول شامل دي کوم چې ممکن د مصنوعي ځیرکتیا (AI) په مرسته جوړ شوي اوسي. د زده کوونکو د حقونو او توقعاتو برخې لاندې "د بې ځایه تنګول کیدو، تبغیض او ځورونې څخه د خلاصون حق" هم وګورئ.
- د بېسیم مخابراتي وسیلې په کارولو سره د جنسي ډوله یا اړوند عکسونه، پیغامونه، یا نور توکي تولیدول، لیږدول، درلودل، او/یا شریکول
- د کاپي حق قانون څخه د سرغړونې په ترڅ کې د سوداګریز سافټویر کاپي کول.
- د مالي ګټې یا سوداګریز یا غیر قانوني فعالیت لپاره د ټیکنالوژۍ کارول.
- د محصولاتو اعلان یا سیاسي ملاتړ لپاره د ټیکنالوژۍ کارول.
- له وړاندې څخه د لیکوال رضایت تر لاسه کولو پرته د یو چا شخصي معلومات بیا انټرنیټ ته پورته کول.
- د COB د نورو قوانینو او مقرراتو څخه سرغړونې په ترڅ کې د ټیکنالوژۍ کارول.

- د ښوونځي څخه بهر د ټيکنالوژۍ کارول چې د ښوونځي څانګې په چاپېریال کې یا د عمومي هوساینې باندې د توکو له پلوه اغیزه لري، د تعلیمي پروسې بشپړتیا اغیزمنه کوي، د زده کوونکو، ښوونځی کارکوونکو، یا د ښوونځي ملکیت خوندیتوب او هوساینه ګواښي، هغه وخت پیښیږي کله چې یو زده کوونکی د والدینو پرځای د ښوونځي تر واک لاندې وي، یا په بل ډول د زده کوونکو یا کارکوونکو حقونه تر پښو لاندې کوي.

د دې پالیسۍ څخه سرغړونه ښایي د اصلاحي اقدام، د ټيکنالوژۍ څخه د ګټه اخیستلو امتیازات له لاسه ورکولو او د قانون تر لاندې د مجازاتو پایله ولري. په قصدي ډول بې مسؤولیت ي کیدای شي د اصلاحي اقدام لامل شي. د ټيکنالوژۍ د سیستم د فعالیت د خرابولو یا ګډوډولو قصدي هڅې د ایالتي او فدرالي قانون په سرغړونه کې کیدای شي جنایي سزاګانې رامینځته کړي.

| SBAR کوډ | سرغړونې | ټولګی | 1 کچه | 2 کچه | 3 کچه | 4 کچه | 5 کچه | قانون پلی کوونکو چارواکو ته اجباری راپور ورکونه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| BSO11 | د ښوونځي د برېښنايی یا نورو سامانونه په غیر قانونی ډول کارونه. | PK-2 | X | X | X | | | نه |
| | | 3-5 | | X | X | X* | | |
| | | 6-12 | | X | X | X* | | |
| BSO12 | د منلو وړ ټيکنالوژۍ کارونې پالیسۍ / انټرنیټ پالیسۍ څخه سرغړونه. | PK-2 | X | X | X | | | نه |
| | | 3-5 | | X | X | X* | | |
| | | 6-12 | | X | X | X* | | |
| BSO13 | د ګرځنده یا لیرد وړ مخابراتي وسیلو د درلودلو یا کارولو په اړه د ښوونځي بورډ د پالیسۍ څخه سرغړونه. | PK-2 | X | X | X | | | نه |
| | | 3-5 | X | X | X | | | |
| | | 6-12 | X | X | X | | | |

## د ښوونځي یا شخصي ملکیت تخریب کاري یا ورته په بل ډول زیان رسول.

د ښوونځي یا شخصي ملکیت تخریب کاري او یا ورته زیان رسول منع دي.

تخریب د ښوونځي ملکیت یا د ښوونځي ټولنې د بل غړي په شمول د زده کوونکو او کارکوونکو مګر دغو پورې محدود نه دي، د شخصي ملکیت قصدي ویجاړول، خرابول، زیانمن کول، یا لیرې کول دي، د غلا کولو نیت لرلو پرته. د تخریب کارۍ په سرغړونو کې ذکر شوي شامل دي مګر دغو پورې محدود نه دي، اور اچول، ګرافیټي (نقاشي)، د کمپیوټر هارډویر ویجاړول، د نصب شویو سافټویرونو بدلول، د شبکې په ترتیب کې بدلون، او/یا د غیر مجاز سافټویرونو نصبول، په شمول د ویروسونو.

د ویرجینیا قانون ښوونځي بورډ ته اجازه ورکوي چې د مسؤلو والدینو څخه د ښوونځي ملکیت ته د رسیدلي زیان د لګښت بیرته ترلاسه کولو لپاره قانوني اقدام پورته کړي. تخریب کیدای شي د جنایي سزاګانو لامل هم شي. د ویرجینیا قانون ۱۸.۲-۱۳۸ وګورئ. د [ویرجینیا کوډ ۱۸.۲-۱۳۸ §](#) وګورئ.

| SBAR کوډ | سرغړونې | ټولګی | 1 کچه | 2 کچه | 3 کچه | 4 کچه | 5 کچه | قانون پلی کوونکو چارواکو ته اجباری راپور ورکونه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| BSO10 | له څانه سره غلا شوی توکی لرل. | PK-2 | X | X | X | | | نه |
| | | 3-5 | | X | X | | | |
| | | 6-12 | | X | X | | | |
| BSO14 | تخریب کاری، په دیوالونو رسم کول یا د ښوونځي یا شخصي ملکیت ته په بل ډول زیان رسول. | PK-2 | X | X | X | | | نه |
| | | 3-5 | | X | X | | | |
| | | 6-12 | | X | X | | | |
| RB5 | د فزیکی قوت پرته د پیسو یا ملکیت غلا کول. | PK-2 | X | X | X | | | نه |
| | | 3-5 | | X | X | | | |
| | | 6-12 | | | X | | | |

## وسلې

هغه قواعد چې وسلې او نور توکی اداره کوي کوم چې د پرنس ویلیم کاونټۍ عامه ښوونځیو (PWCS) لخوا منع شوی دی، په [۱ -۷۷۵ مقرره](#)، "وسلې او نور منع شوی توکی،" کې تشریح شوی دی او پدې برخه کې لنډیز شوی دي. وسلې او نور منع شوی توکی د ښوونځی په هیڅ ملکیت، د ښوونځی بسونو، ښوونځی ته د تګ راتګ یا ښوونځی پورې اړوند فعالیتونو کې اجازه نلری، پرته دا په پام کی نیول چې دا فعالیت چیرته ترسره کیږی. د ښوونځی ملکیت د هر هغه حقیقی ملکیت په معنی دی چې د ښوونځی بورډ ملکیت وي یا لخوا اجاره شوی وی یا هر هغه نقلیه وسیله (موټر)

چې د ښوونځی بورډ ملکیت وی، لخوا اجاره یا چلول کیږي یا د ښوونځی بورډ په استازیتوب چلول کیږي. زده کوونکي ممکن د وسلو هغه سرغړونو لپاره هم د انضباطي اقدام تابع شی کوم چې د ښوونځي څخه بهر رامینځ ته کیږي، که چیرته سرغړونه د ښوونځي په چارو کی د خنډ پایله ولري، که چیرته سرغړونه په ښوونځي کې یا د ښوونځي په فعالیتونو کې پلان شوی وي، که چیرته سرغړونه د ښوونځی لخوا په سپانسر شوي فعالیت کی رامنځ ته شوي وي، که چیرته سرغړونه د زده کوونکو، کارکوونکو یا د ښوونځي ملکیت خوندیتوب او هوساینه گواښوي، یا که سرغړونه په بل ډول ښوونځي سره تړلی وي یا د جرم د قضاوت پایله وي چې د ډیویژن سوپرانټینډنټ ته د راپور ور وي، لکه څرنګ چی د ویرجینیا کوډ [§ ۱۶.۱-۲۶۰](), [§ ۱۶.۱-۳۰۱](), او د ویرجینیا کوډ [§ ۱۶.۱-۳۰۵.۱]() لخوا اړین دي.

### د سلاح/وسلو او نورو قانونی وسلو درلودل - اجباری اخراج/ایستل

د ښوونځی مدیران باید ټول هغه زده کوونکی د ۱۰ ښوونځی ورځو لپاره وځنډوی چې په تفصیل سره لاندې ذکر شوي وسلې لری او زده کوونکی باید د لا زیات انضباطی اقدام لپاره SHD ته راجع کړی. زده کوونکی به د ۳۶۵ ورځو لپاره ایستل کیری پرته له دې چې د SHD د اوریدنی افسر یا د ښوونځی بورډ د قضیې ځانګړی حقایقو بیاکتنې وروسته دا معلومه کړي چې ځانګړی شرایط هیڅ انضباطی اقدام نه وضع کوي یا د ډیسپلین یا د شړلو بل ډول بڼه د عملی کیدو ور ده. ځانګړي شرایطو کی شامل دی مګر هغو فکتورونو پوری محدود نه دي چی د [ویرجینیا کوډ § ۲۲.۱-۲۷۷.۰۶]() په C برخه کې په ډاګه شوي دي.

- هغه وسلې چی د ۱۹۹۴ کال د فدرال لخوا د امریکا د ښوونځیو اصلاح کولو قانون څخه سرغړونه کوي، (د کال ۱۹۹۴ قانون، له وسلو پاک ښوونځی قانون) او د [ویرجینیا کوډ ۲۲.۱-۲۷۷.۰۷]().
- ډز کوونکی وسله، ویجاړوونکی وسیله، د ډز کوونکی مافلر ، د ډز کوونکی وسلی خپ کن یا سایلنسر، یا بادی ټوپک. هغه وسلې چې د [ویرجینیا د قانون § ۱۸.۲-۳۰۸.۱]() خلاف دی.
  - بریښنایی شاټ ورکولو وسیله.
  - چاقو ، پرته د جیب چاقو څخه چی د ۳ انچ څخه کم بلیډ ولری.
  - هر ډول کارت، داغ دار چاقو، تیره نری چاقو، پن لرونکی چاقو، توره په څیر، ریزر، د لینده/غولک، اوږد دیدونکی لرګی، بوکس پنجه یا بلیک جیک چاقو
  - هر هغه وسیلې چې دوه یا ډیرې سختې یا تیره برخې لري په داسې ډول نښلیږي چې له امله یې کولی شي په آزاده توګه وو چرخیږي، کوم چې کیدای شي د، نون چک، نونچاکو، شوریکین، یا د جنګ زنځیر په نوم پیژندل کیږي.
  - هر ډول ډیسک/کیسټ، چی هر ډول جوړه شوي وي، لږترلږه دوه پاکی یا بلیډونه لري چې د ویشتلو لپاره یا تیتولو لپاره ډیزاین شوی وي او کوم چې ممکن د غورځولو ستوری یا اورینټل ډارټ په نوم پیژندل کیږی.
  - د ټوپک په څیر هر ډول وسله.

### د نورو وسلو یا منع شویو توکو درلودل - انضباطی پایلې

د لاندی ذکر شویو په توکو درلودو سره، د ښوونځی مدیر به دا اختیار ولري چې د ښوونځي څخه د 10 ورځو لپاره د ځنډولو او د لا زیات انضباطي اقدام لپاره د راجع کولو په شمول مناسب انضباطي بندیزونه ولګوي.

- د جېب چاقو ګان (چې له ۳ انچه څخه کم بلیډ یا تیغ ولري)
- د بکس کټر یا پری کوونکی
- تریخ سپری
- مهمات
- د ریزر بلیډونه
- آتش بازی
- غولک یا سلینګ شاټونه
- نور ورته توکی
- ټوپک ډوله یا ټوپک په څیر نور توکی

د ښوونځي مدیران باید د هرې هغې وسلې یا منع شوي توکي د درلودلو لپاره مناسب ډیسپلین پلي کړي چې لاندې لیست شوي دي او په [۱-۷۷۵ مقرره](), "وسلې او نور منع شوي توکي" کې ورته اشاره شوې ده. د زده کوونکي او حالت ځانګړو حقایقو ته په کتو، د ښوونځي مدیران کولی شي ښوونځي میشته پایلې، لنډمهاله تعلیق وضع کړي، یا زده کوونکی د نورو انضباطي اقداماتو لپاره اوږدمهاله تعلیق یا اخراج لپاره SHD ته راجع کړي.

| SBAR کوډ | سرغړونی | ټولګی | 1 کچه | 2 کچه | 3 کچه | 4 کچه | 5 کچه | قانون پلی کوونکو چارواکو ته اجباری راپور ورکونه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| BESO15 | د داسې څیز کارول چې عموما د وسلې په توګه **نه** پیژندل کیږي ترڅو د ښوونځي کارکوونکو ته د زیان رسولو هڅه یا ګواښ وکړي. | PK-2 | | X | X | X | X* | نه |
| | | 3-5 | | | X | X | X* | |
| | | 6-12 | | | X | X | X* | |
| BESO16 | د داسې څیز کارول چې عموما د وسلې په توګه **نه** پیژندل کیږي ترڅو زده کوونکو یا نورو ته د زیان رسولو هڅه یا ګواښ وکړي. | PK-2 | | X | X | X | X* | نه |
| | | 3-5 | | | X | X | X* | |
| | | 6-12 | | | X | X | X* | |

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| BSC26 | د خطرناکو وسایلو/موادو درلودل چې د بل کس د ټپي کولو لپاره کارول کیدی شي. | PK-2 | | X | X | X | X | نه |
| | | 3-5 | | | X | X | X | |
| | | 6-12 | | | X | X | X | |
| BSC27 | وسلې: د هرې هغې وسلې درلودل (له ټوپک پرته) لکه څنګه چې د ویرجینیا قانون د ویرجینا کوډ ۱۸.۲-۳۰۸.۱ ماده کې تعریف شوي. | PK-2 | | | | X | X | هو |
| | | 3-5 | | | | X | X | |
| | | 6-12 | | | | X | X | |
| PD11 | د لاسی ټوپک په غیر قانونی درلودل. | PK-2 | | | | | X | هو |
| | | 3-5 | | | | | X | |
| | | 6-12 | | | | | X | |
| PD12 | د ټوپک یا شاټګن (چره ییز) په غیر قانونی درلودل. | PK-2 | | | | | X | هو |
| | | 3-5 | | | | | X | |
| | | 6-12 | | | | | X | |
| PD13 | د هر بل توغوونکي وسلې په غیر قانوني درلودل | PK-2 | | | | | X | هو |
| | | 3-5 | | | | | X | |
| | | 6-12 | | | | | X | |

# ضمیمه A

## د بی ځایه تنګول کیدو په اړه عمومي پوښتنی (FAQ)

**پوښتنه: ځورونه څه شی دی؟**

ځواب: "ځورونه یا بی ځایه تنګول کیدل" د هر ډول سر زوری او ناغوښتل شوي چلند په معنی ده کوم چې قربانی ته د زیان رسولو، تهدیدولو یا سپکاوي کولو لپاره وي. په دی کی د برید کوونکي یا برید کوونکو او قرباني تر مینځ د رښتیني یا شته ځواک نا برابروالی شامل وي؛ او د وخت په تیریدو سره دغه ډول چلند تکرارېږي یا د شدید احساساتي صدمی لامل کیږي. ځورونه کې سأيبرى ځورونه (د انټرنیټ له لاری ځورونه) هم شامله ده. په ځورونه کې په عادي ډول تنګول، ټونګي وهل، لفظی شخړه، یا ټولګیوالو سره شخړه نه دي شامل.

**پوښتنه: په عادي ډول تنګول، ټونګي وهل، لفظی شخړه، یا ټولګیوالو سره شخړه څه ته وایی؟**

ځواب: په عادي ډول تنګول، ټونګي وهل، لفظی شخړه، یا د ټولګیوالو سره شخړه یو ډول داسی چلند دی چې د ځورونې د تعریف څخه بهر راځی. عادی تنګول د ملګرو ترمینځ ټوکی ټکاری یا د ریشخندی خرګندونی په معنی ده. همدا ډول، ټونګی وهلو کی فیزیکی لوبی ټکاری شاملی دي، ډیری وخت له ناوړی ارادې پرته. بحث مباحثه نا موافق کیدو یا لفظی شخړو ته اشاره کوی، کوم چې په طبعی ډول د افرادو ترمینځ رامنځته کیدی شی. په پایه کې، د ملګری ترمنځ شخړی هغه وخت رامینځته کیری کله چې ملګری په خبرو کی اختلاف لری یا موافق نه وي مګر د یو بل په وړاندې زیان رسوونکی چلند کې نه ښکیل کیږي. په لنډه توګه، پداسې حال کې چې په ځورونه کی زیان رسوونکی اراده او تکرار شامل وي، عادی تنګول، ټونګی وهل، بحث مباحثه، او د ملګری تر منځ شخړه د ځورونې کټګورۍ تر لاندې نه راځی.

**پوښتنه: سایبري ځورونه یا د انټرنیټ له لاری ځورونه څه شئ ده؟**

ځواب: سأيبرى ځورونه د ځورونې یوه داسی بڼه ده چې په دی کی د برېښنا یا انټرنیټ له لاری د پیغامونو او/ یا عکسونو لیږل، ترلاسه کول، یا خرګندول شامل دي. سأيبرى ځورونه کې د یو زده کوونکي لخوا بل زده کوونکی ته هر ډول ګواښ شامل کیدی شي، په ځانګړي ډول د برېښنالیکونو، متنونو یا ویب پاڼو له لارې (د بیلګې په توګه بلاګونه، د ټولنیزو شبکو سایټونه). هغه بریښنایی ارتباطات چې نورو ته زیان رسولو په موخه د قصدي، دښمنانه، زیان رسوونکي پیغامونو ملاتړ کوي، هم د سأيبرى ځورونې بیلګی دي. سأيبرى ځورونه کې دا ډول خیزونه شامل کیدی شي لکه خصیص، فحش، یا ګواښوونکي پیغامونه یا عکسونه؛ د بل شخص په اړه حساس، شخصي معلومات پوسټ کول؛ خراب یا بد ښکاره کولو په موخه د بل چا نوم کارول، او د آنلاین شخصي رایه ورکولو بدنامولو ویب پاڼي کارول.

په ښوونځیو کی، د ښوونځي په ملکیت، کی یا د ښوونځی اړوند فعالیتونو کې د PWCS انټرنیټ، PWCS کمپیوټرونو، یا د بیسیم مخابراتي وسیلو کارولو له لارى سأيبرى ځورونه به د زغملو وړ نه وي. سأيبرى ځورونه چې د ښوونځي ملکیت څخه لیری رامنځ ته کیږي او/ یا د PWCS انټرنیټ یا کمپیوټر کارونه پکی نه وي شامل، ممکن دغه ډول ځورونی هم د انضباطي اقدام پایله ولري که چیرته د ښوونځي یا ښوونځي ډیویژن فعالیت ته په ناوړه توګه ګډوډي رامینځته کړي یا پری بده اغیزه کوي، د زده کوونکو یا کارکوونکو رواني/فزیکي هوساینې خوندیتوب د ګواښ سره مخ کوي، یا د ښوونځي ودانیو یا د ښوونځي ملکیت خوندیتوب له ګواښ سره مخ کوي.

**پوښتنه: تنګول کیدل له ځورونې یا تبعیضی ځورونې سره څه توپیر لري؟**

ځواب: بې ځایه تنګول کیدو کی عموما تکراري چلند شامل وي، چې موخه یی د بل زده کوونکي ډارول، ورته زیان رسول، یا کنټرولول دي او ډیری وخت د ځواک واقعي یا تصور شوې نابرابري پکې شامله وي. ځورونه کیدای شي یوه جدي پیښه وي یا تکراري کړنې وي چې د زده کوونکي په تعلیمي چاپیریال کې مداخله کوي، حتی که د ځواک نابرابري په ښکاره ډول شتون ونلري.

تبعیضي ځورونه هغه ځورونه ده چې د یوې خوندي شوې ځانګړتیا پر بنسټ وي، لکه نژاد، رنګ، ملي اصل، مذهب، جنسیت، جنسیتي هویت، جنسي تمایل، معلولیت، یا بل خوندي شوی حالت. د چلند او اغیزې سربیره، تبعیضي ځورونه یو قانوني عنصر یا برخه هم لري او کیدای شي اضافي قانونی طرزالعملونو یا چارو ته اړتیا ولري.

**پوښتنه: کوم ډول چلند د تنګول کیدو چلند ګڼل کیږي؟**

ځواب: د تنګول کیدونکي چلند په ځینې بیلګو کی ممکن په قصدي ډول د نورو خلکو ویستل، پېغور ورکول، شکنجې، ګواښونه، اشارې، سپکاوی، غیبت، تذلیل کول، سأيبرى ځورونه، فیزیکی زور زیاتی، د ملکیت غلا کول یا له مینځه وړل، کنځل یا بل پوری خندا کول شامل وي. ځورونه ډیری بڼی لري.

د بېلګې په توګه:

- ځينې وختونه په تنګول کيدو کې خلک نور خلک يوازې پرېږدي، نورو وختونو کې تنګول کيدو کې د يو چا وهل ټکول، ځړول يا ګواښول شامل وي.
- د يو چا د غرمې ډوډی يا کتابونو غلا کول يا ورته زيان رسول کيدی شي هم ځورونه وي، همدا شان د خلکو پورې له دې لپاره خندا کول څکه چې هغوی عينکې يا بل ډول جامې اغوندي، يا دا چې دوی په ښه ډول سپورټ نه شي کولی.
- خلکو ته زيان رسولو لپاره د انټرنيټ يا کمپيوټر کارول د ځورونې بله بېله ده.

**پوښتنه: څه به وي که ځورونه تهديدونکې وی او يو زده کوونکی ډاروی؟ د زده کوونکو په خوندي ساتلو کې د ښوونځي چارواکي څه ډول مرسته کولی شي؟**

ځواب: هر زده کوونکی چې ګواښل شوی يا ډارول شوی (يا که پوهيږي چی بل زده کوونکی ګواښل شوی يا ډارول شوی دی) په کلکه هڅول کيږي چې د ناسم چلند په اړه د ښوونځي مدير، سلاکار يا د ښوونځي بل باوري کارکوونکی ته راپور ورکړي. دا تورونه به په سمدستي توګه وڅېړل شي او د ښوونځي د ګواښ تشخيص ډلې ته به راپور ورکړل شي، کوم چې د نورو څيزونو سره سره به د زده کوونکو او د ښوونځي چاپيريال خونديتوب ډاډمن کولو لپاره مناسب اقدامات وکړي.

**پوښتنه: زه څنګه کولی شم د ځورونې په اړه راپور ورکړم؟**

ځواب: هر زده کوونکی کولی شي چی د مدير يا باور لرونکي ښوونځي کارکوونکی سره د خبرې کولو يا د ځورونې شکايت فورمه ډکولو له لارې د ځورونې راپور ورکړي. د ښوونځي هر کارکوونکی چې د ځورونې راپور ترلاسه کړي بايد د ښوونځي ادارې ته يې په اړه خبر ورکړی. زده کوونکی يا والدين کولی شی چی [د تنګول کيدونکی چلند پيښو په اړه په انلاين ډول راپور ورکړی](#).

**پوښتنه: زه بايد څه وکړم که تنګول کيدنه دوام ومومي؟**

ځواب: ژر تر ژره يې په اړه د ښوونځي مدير يا باوري کارکوونکی ته راپور ورکړئ. دا هم اړين دي چې خپل مور او پلار ته وواياست چې تنګول کيدنه دوام لري. که چيرته هغه زده کوونکی چی په تنګونه باندی تورن شوي وي ، هڅه وکړی چی د تنګول کيدونکی چلند په اړه د راپور ورکولو له امله د قرباني شخص پر ضد يو کار تر سره کړي، اداره کوونکی به يی پر ضد انضباطي ګامونه پورته کړي.

# ضميمه B

## هغه تعریفونه چې د چلند کوډ سره تړاو لري

د چلند کوډ پورې اړوند تعریفونه لاندې تعریفونه د هغو مفاهمو او کلمو د ساده بیان په موخه دي چې د چلند په کوډ کې کارول شوي، مګر دا تعریفونه د چلند کوډ د اصلي متن، د انضباطي سزاګانو د مواردو، یا د PWCS د اړوندو پالیسیو او مقرراتو د تعریفونو ځای نه نیسي.

### تشدیدونکي یا جدي کوونکي شرایط

دا یو داسې تشخیص دی چې پکې:

- زده کوونکی په داسې یو ناسم چلند کې ښکېل وي چې بل شخص ته جدي زیان ( په شمول د فزیکي، احساساتي، یا رواني زیان، مګر دغو پورې محدود نه دي) ورسوي؛ یا
- زده کوونکی بل شخص ته د جدي زیان رسولو یو باوري ګواښ رامنځته کړي، لکه څنګه چې د ګواښ په ارزونه کې تشخیص شوی دی؛ یا
- په ښوونځي کې د زده کوونکي شتون ښوونځي ته، د ښوونځی زده کوونکو، کارکوونکو، یا په ښوونځي کې د نورو خوندیتوب ته دوامداره او غیر معقول خطر رامینځته کوي؛ یا
- هغه زده کوونکی چې په داسې یو جدي جرم کې ښکېل وي چې دوامداره وي (ورته تکراري چلندونه یې په انضباطي ریکارډ کې ثبت وي) او د یو ټاکل شوي مداخلې پروسې له لارې هدفمندو مداخلو ته یې مثبت ځواب نه وي ویلی.

### الکول

الکول (Alcohol) هر ډول الکولي مشروبات لکه څنګه چې د ویرجینیا ایالت په قانون کې تعریف شوي، په شمول د بیر، شرابو او نورو تقصیر شویو مشروباتو. الکول د چلند کوډ او [۱-۷۳۵ مقرره] تر لاندې یو منع شوی ماده ده.

همدارنګه [ممنوعه مواد] هم وګورئ.

### د زده کړې بدیل پروګرام

[غیر دودیزو تعلیمی پروګرام] وګورئ. دا دواړه اصطلاحات د PWCS په پالیسیو کې د یو بل پر ځای کارول کیږي.

### اور اچول یا لګول

د اور اچولو هڅه کول، په اور اچولو کې له نورو سره مرسته کول، یا اور اچول،که اور ولګېږي یا نه، یا د ښوونځي ملکیت یا د کارکوونکو یا زده کوونکو ملکیت ته هر ډول زیان رسول. زده کونکي کیدای شي د هغو توکو د درلودلو له امله هم ډیسپلین شي چې د اور اچولو یا د اور رامینځته کولو یا د زیاتې لوګي تولید لپاره کارول کیدی شي، د اور الارم په درواغو فعالول، او په قصدي ډول د اور په اړه درواغجن راپورونه ورکول.

### برید

برید یو قصدي عمل دی، لکه اشارې کول یا بدی کلمې کارول، کوم چې په معقولې ډول دا توقعات رامینځته کوي چې بل کس د فزیکي زیان یا سپکاوي خطر ته ډیر نږدې دی، مګر فزیکي برخورد نه پیښیږي.

### برید او وهل ټکول

برید او وهل ټکول د بل کس سره قصدي زیان رسوونکی یا سپکاوی کونکی فزیکي تماس دی چې د ټپي کیدو لامل کیږي. په برید او وهلو ټکولو کې غاښ لګول یا چیچل، وهل، لغته وهل، سوک وهل، وهل، یا د فزیکي تیري هر بل ډول، یا بل هر ډول قصدي یا سپکاوی کونکی فزیکي تماس چې د ټپي کیدو لامل کیږي، شامل دي.

### ډله ییز برید

هغه کړنې چې د دوو یا ډیرو زده کوونکو لخوا په ګډه ترسره کیږي ترڅو د بل کس سره په برید، برید او وهلو ټکولو، یا قصدي تیري کونکي فزیکي تماس کې ښکیل شي، ډله ییز برید ګڼل کیږي.

## تنګونه

هر ډول تیري کوونکی او ناغوښتل شوی چلند چې قصدي وي، د څواک واقعي یا تصور شوې نا برابروالی پکې شامل وي، او د وخت په تیریدو سره تکرار شي یا د فزیکي ټپي کیدو یا د پام وړ احساساتي زیان لامل شي، تنګونه ګڼل کیږی. بې ځایه تنګولو کې هغه چلند شامل دی چې د زده کوونکي په تعلیمي فرصتونو کې د پام وړ مداخله کوي یا د ډار، تهدید، یا سپکاوي تعلیمي چاپیریال رامینځته کوي. بې ځایه تنګول کیدو کی په عادي ټوکې ټکاری یا تنګونه، دوه اړخیزه شخړه، یا د همزولو ترمنځ د اختلاف پیښې نه دی شامل.

## تقلب یا نقل کول، په شمول د ادبي غلا

هر ډول علمي یا اکاډمیکی بې ایماني یا درغلۍ ، په شمول د لاندی ذکر شویو مګر دغو پورې محدود نه دي: بې اجازې کاپي کول یا شریکول، د بل چا کار د خپل ځان په نوم وړاندې کول، ادبي غلا، بې اجازې همکاري، یا د اکاډمیکی دندو د بشپړولو لپاره د مصنوعی ځیرکتیا (AI) یا د نورو ټیکنالوژیکی وسیلی بې اجازې کارول.

## سأیبری ځورونه

هغه تنګونه یا ځورونه ده چې د بریښنایي ارتباطي وسایلو یا ډیجیټل پلاټفورمونو لکه کمپیوټر، ګرځنده تلیفون، ټولنیزو رسنیو، مصنوعی استخباراتو، یا نورو آنلاین ټیکنالوژی له لارې ترسره کیږي.

## ویش / توزیع

په ویش کی ذکر شوي شامل دی، مګر دغو پورې محدود نه دي، د هر هغه منع شوي مادې سپارل، لیږدول، پلورل، تبادله کول، بارټر، تحفه، یا شریکول چې په ۷۳۵-۱ مقرره، "منع شوي مواد" کې تعریف شوي دي، په شمول د اړونده توکو. هغه زده کوونکي چې د نشه یي توکو (غیر قانوني، نسخه لرونکی، او/یا غیر نسخه لرونکی درمل)، الکول، تنفسي نشه یي توکي، ورته مواد، د درملو په څیر مواد، یا وسایلو په ترلاسه کولو یا ترلاسه کولو هڅه کولو، پیرودلو یا پیرودلو هڅه کولو، ویشلو، یا د ویشلو هڅه کولو کې ښکیل وي، د ډیسپلین تابع دي.

## ګډوډونکی چلند

هغه چلند چې د ښوونځي په چارو، تعلیمي پروسې، یا د نورو په حقونو کې په بده توګه اغیزه او پام وړ ډول مداخله کوي، په شمول د دوامداره نافرمانۍ، له معقولو لارښوونو څخه انکار کول، یا داسې چلند چې د زده کړې چاپیریال په پام وړ ډول ګډوډوي.

## لباس او ظاهري بڼه (سینګار)

هغه معیارونه دي چې د زده کوونکي د لباس او ظاهري بڼې په اړه ټاکل شوي ترڅو له روغتیا، خوندیتوب، عدالت او منظم تعلیمي چاپیریال څخه ملاتړ وکړي.

## محرومیت

یو ښوونځي ته د زده کوونکي د داخلې ردول چې د بل ښوونځي بورډ یا یو خصوصي ښوونځي لخوا، که په ویرجینیا کې وي یا بل ایالت کې، اخراج شوی وي یا د ۳۰ تقویمي ورځو څخه ډیر په اوږدمهاله تعلیق کې وي، یا د چا داخله چی په خصوصي ښوونځي کی رد شوي وي، که په ویرجینیا یا بل ایالت کې کی وي.

## اخراج

د ښوونځی بورډ د انضباطي کمیټې لخوا د وضع شوی هر ډول انضباطی اقدام په معنی دی، چیرته چې زده کوونکی اجازه نلری چی په ښوونځی ډیویژن کی کې په ښوونځی کی ګډون وکړي او د ایستلو یا خارجولو نیټې څخه راپدیخوا د ۳۶۵ جنتری ورځو لپاره د بیا شاملیدو لپاره وړ ندی. د ښوونځي بورډ ممکن هغه زده کوونکي ته چې خارج شوي اوسی، اجازه ورکړئ کړي چی د اخراج مودی په بهیر کی په بدیل تعلیمي پروګرام کې ګډون وکړي. یو زده کوونکی چې اخراج شوی وي، کولی شي د اخراج د مودې له بشپړیدو وروسته PWCS ته د بیا شاملیدو غوښتنه وکړي.

## جنګ

د برید یا فزیکي تېري برعکس، د دوو یا ډیرو کسانو ترمنځ په فزیکي نښته کې د دواړو لورو قصدي او فعال ګډون ته ویل کیږي، چیرته چې دواړه اړخونه په عملي ډول پکې ښکېل وي.

## ډله یز برید

د ډلې لخوا برید (ډله یز برید) وګورئ.

## ځورونه

هغه چلند، که شفاهي، فزيکي، ليکلی، بريښنايي، يا بصري وي، چې دومره شديد، دوامداره، يا پراخ وي چې د زده کوونکي په تعليمي پروګرام کې د ګډون يا ګټې اخيستنې په وړتيا کې مداخله وکړي يا يې ترې محروم کړي، يا د ډار، تهديد، يا سپکاوي تعليمي چاپيريال رامينځته کړي. هغه بې ځايه تنګول يا سايبري ځورونه چې د زده کوونکي د ځانګړتيا يا ډلې سره پرته له تبعيض څخه وي، (د خونديو شويو طبقو تعريف وګورئ) يا د ټایټل IX په چوکاټ کې جنسي ناسم چلند وي، د بې ځايه تنګولو د طرزالعملونو پرځای به د تبعيض او ټایټل IX پورې اړوند د PWCS پاليسيو او مقرراتو لاندې وڅيړل شي او ځواب به ورته ووايي. د بې ځايه تنګولو، سايبري ځورونې، ځورونې، او د ټایټل IX لاندې جنسي ناسم چلند د چلند کوډ لاندې د ډيسپلين تابع دي.

## د کرکې يا نفرت انګيزه وينا

هغه وينا چې کرکه څرګندوي، منفي کليشه ګانې يا دقيانوسي تصورات پياوړې کوي، يا د يو شخص يا ډلې پر وړاندې تاوتريخوالی هڅوي چې د نژاد، مذهب، جنسيت، جنسي تمايل، معلوليت، يا په يوه خوندي شوې طبقه کې د هغه غړيتوب يا تصور شوي غړيتوب پر اساس وي.

## تنګول/سپکاوي

هر هغه بې پروا يا قصدي عمل چې په ښوونځي کې يا له ښوونځي څخه بهر ترسره کېږي او د يوه زده‌کوونکي فزيکي يا رواني روغتيا يا خونديتوب له خطر سره مخ کوي، يا هغه ته بدني زيان رسوي، د دې لپاره چې هغه د کوم سازمان، کلب يا ډلې غړی شي، غړيتوب ترلاسه کړي، له هغې سره تړاو ولري، يا خپل غړيتوب وساتي.

## د اوريدنې افسر

يو پازوال يا اداره کوونکې چې د سوپرانټينډنټ لخوا د انضباطي پريکړو لپاره د استازي په توګه ټاکل شوی او د قانوني پړاوونو د اورېدنې ترسره کولو او انضباطي پروسې اداره کولو لپاره روزل شوی وي. په PWCS کې، د اورېدنې افسران د زده کوونکو د اورېدنې څانګې غړي دي.

## قصدي تيرې کوونکي فزيکي تماس

په قصدي تيري کوونکې فزيکي تماس کې شامل دي، غاښ لګول يا چيچل، وهل، په لغته وهل، په سوک وهل، ګزار کول، يا هر ډول بل فزيکي تيري، يا بل هر ډول قصدي يا سپکاوی کونکې فزيکي تماس، چې د ټپي کيدو نه لامل کيږي.

## اوږدمهاله ځنډونه

هر ډول انضباطي اقدام چې له مخې يې زده کوونکي ته اجازه نه ورکول کيږي چې له ۱۱ څخه تر ۴۵ تعليمي ورځو پورې ښوونځي کی ګډون وکړي. اوږدمهاله ځنډونه کيدای شي تر ۳۶۴ تقويمي ورځو پورې وغځول شي، که چيرته سرغړونه کې ټوپک يا بله وسله، کنټرول شوی مواد، جدي فزيکي ټپي کيدنه شامل وي، يا د اورېدنې افسر وموومي چې تشديدي شرايط شتون لري.

## مشخص کول چی آيا سرغړونه د معلوليت له امله ده يا نه (MDR)

يوه داسی پريکړه چې د زده کوونکي د انفرادي تعليمي پروګرام (IEP) يا ۵۰۴ ټيم لخوا ترسره کيږي ترڅو دا معلومه کړي چې آيا هغه چلند چې ممکن د ډيسپلين پايله ولري د زده کوونکي د معلوليت له امله رامينځته شوی، يا ورسره مستقيمه او پام وړ اړيکه لري، او يا د ښوونځي لخوا د زده کوونکي د IEP يا ۵۰۴ پلان د پلي کولو کې د پاتې راتللو مستقيمه پايله وه. MDR هغه وخت اړين وي کله چې PWCS د ۱۰ پرله پسې تعليمي ورځو څخه د ډير وخت لپاره د ايستلو په اړه غور کوي يا زده کوونکي لنډمهاله وخت لپاره څو ځله ايستل شوي وي کوم چې د لنډ مهاله ليرې کولو لړۍ چې يوه نمونه يا بڼه تشکيلوي او ليرې کونه په يو تعليمی کال د ۱۰ تعليمی ورځو څخه زيات وي.

## د ټيکنالوژۍ په ناسمه توګه يا په غير مجاز ډول کارونه

د کمپيوټرونو، ګرځنده ټيلفونونو، ټابليټونو، PWCS انټرنيټ، يا نورو ټيکنالوژيکی سرچينو په داسې طريقو کارول چې د وړکتون څخه تر ۱۲ ټولګي پورې د تعليمي چاپيريال سره سمون نه لري يا د ښوونځي په چارو، خونديتوب، امنيت، يا د نورو تعليمي فرصتونو باندې منفي اغيزه ولري حتی کله چې چلند له کيمپس څخه بهر هم پيښيږي. د ټيکنالوژۍ کارولو قواعد په ۲۹۵-۱ مقرره، "د کمپيوټر سيستمونه او شبکې خدمات - د PWCS د مسؤلانه کارونې او انټرنيټ خونديتوب پاليسی" او د PWCS په ۷۲۹ پاليسۍ، "د ګرځنده ټيليفونونو څخه پاک تعليم" کې بيان شوي دي. په سرغړونو کې شامل دي مګر ذکر شويو پوری محدود نه دي، پروګرام ته د دننه کيدو معلوماتو يا حسابونو غير مجاز کارول، د نورو د څېرې کاپی کولو لپاره د مصنوعی ځيرکتيا (AI) کارول، د داسې محتوي جوړول، پوسټ کول، يا ليږل چې نور خلک تنګوي، ځوروي، ګواښ ورته وړاندی کوي، يا د نورو سپکاوی کوي، د هغو زده کوونکو انځور اخيستل يا ويډيو کول چې په ناسم چلند کې ښکيل دي، بيړني طبي حالت تجربه کوي، يا په بربنډ حالت کې وي.

## غیر دودیز تعلیمی پروګرام

د دودیز هراړخیز ښوونځي ترتیب څخه بهر تعلیمي ځای یا تعلیمي پروګرام ته ویل کیږي، په شمول د بدیلو زده کړو پروګرامونو، چې د انضباطی سزا یا د مداخله کونکي پلان د برخې په توګه ټاکل شوي وي.

## په پرله پسې توګه خطرناک چلند

هغه جدي سرغړونی چې د ایالتي او فدرالي قانون تر لاندې په پرله پسې توګه خطرناک ښوونځیو په ګوته کولو موخی لپاره پیژندل شوې دي. دا ډول کړنی باید حتمي ډول سوپرانټینډنټ او د قانون پلي کوونکو ادارو (پولیسو) ته راپور شي، او معمولاً د ښوونځي تر ټولو جدي انضباطي پایلو او سزاوو سبب ګرځي.

## شخصی برېښنایی مخابراتی وسیله

د هر هغې شخصي وسیلی په معنی ده چې له سمارټ یا عصری ټیلیفون، انټرنیټ، بی سیم وسیلی یا Wi-Fi شبکې سره د وصل کیدو وړتیا لري، یا په مستقیم ډول له بلې ورته وسیلې سره وصل کیږي. شخصي برېښنايي وسیلو کی ممکن ځینې د اغوستلو وړ وسایل، لکه سمارټ یا عصری ساعتونه، د مصنوعی ځیرکتیا عینکي، همدارنګه شخصي هیډفونونه، لیپټاپونه، ټابلیټونه او نور هغه راتلونکي شخصي برېښنايي وسایل شامل وي چې پورته ذکر شوې ځانګړتیاوی ولري.

## د بل چا افکار او لیکنی په خپل نوم کول یا غلا کول

[نقل، په شمول د ادبي غلا](#) وګوری.

## منع شوي توکي

هغه مواد او ورسره تړلي وسایل چې د PWCS [د ۱-۷۳۵ مقررې](#)، "منع شوي مواد" تر عنوان لاندې منع شوي دي، چې پکې ذکر شوي شامل دي مګر دغو پورې محدود نه دي: کنټرول شوي مواد (مخدره او نشه‌يي توکي)، د کنټرول شوو موادو تقلیدي مواد، چرس (ماریجوانا)، الکول، تمباکو، د نیکوتین بخار تولیدوکي محصولات، او د دغو موادو د استعمال اړوند وسایل شامل دي.

## بد اخلاقه / فحش

د فحش، بې حیا، نامناسبه، بدبویه، یا په ښکاره ډول سپکاوی کونکي ژبې، اشارو، یا سمبولونو کارول، په شمول د هغه ژبې چې ګواښوونکې یا سپکاوی کوونکې وي.

## خوندي شوې طبقه

په یوه ډله کې غړیتوب یا تصور شوی غړیتوب چې د ایالتي یا فدرالي قانون له مخې د تبعیض څخه خوندي وي، لکه څنګه چې د PWCS د تبغیض نه کولو پالیسی کی څرګنده ده، کوم چی دا په ډاګه کوی چی د پرنس ویلیم کاونټی عامه ښوونځي د نسل، رنګ، مذهب، ملي اصل په شمول (د کډی شجری یا توکم او توکمیزو ځانګړتیاوو)، جنس، جنډر هویت، جنسي تمایل، حمل، ماشوم زیږون، یا اړونده طبي شرایطو، په شمول د طی ورکولو حالت، عمر، مدنی حالت، عسکری خدمت، معلولیت، جنیټکی معلوماتونو یا د کوم بل ځیز پر اساس تبعیض ته اجازه نه ورکوي کوم چې د قانون له مخی منع شوی دي.

## ډارول یا تعقیب (سټاکینګ)

د یو مشخص کس پر ضد یو ډول داسی چلند دی چې له امله یې یو کس د خپل ځان خوندیتوب یا د نورو د خوندیتوب په اړه معقول ډار لري یا د پام وړ احساساتي کړاو سره مخ کیږي.

## غلا

د بل فرد یا PWCS اړوند ملکیت پرته له اجازې اخیستل، د اخیستلو هڅه کول، یا د ملکیت له ځان سره لرل، د دې نیت سره چې په دایمي یا لنډمهاله توګه د هغه مالک د هغه له کارولو بې برخې کړي.

## د زده کوونکو یا کارکوونکو په وړاندی ګواښ

یو ګواښ چې یو زده کوونکی یې له امله ډیسپلین کیدی شي، یو داسې بیان دی چې په شفاهي ډول، په لیکلي ډول، یا په بصري بڼه رامینځته شوی وي، چې د تاوتریخوالي ترسره کولو، ټیپي کولو، یا د نورو زیان رسوونکو کړنو ترسره کولو نیت په ډاګه کوي، یا نور د یو زده کوونکي، کارکوونکي، یا د ښوونځي د نورو چاړواکو په وړاندې ډارولو، تاوتریخوالي ترسره کولو، یا ټیپي کولو ته هڅوي. یو زده کوونکی کیدای شي د ګواښ کولو له امله ډیسپلین شي حتی که ګواښ تر سره شوي نه وي او نه هم د هغه شخص لخوا لیدل شوی یا پیژندل شوی وي چې ګواښ ورته شوی او پرته له دې چې هغه شخص چې ګواښ ورته شوی وي د ګواښ له امله ډار شوی وي یا د زیان معقوله ویره ولري.

## د ګواښ ارزونه

د ګواښ ارزونه د حقایقو پر بنسټ یوه پروسه ده، چې د ګڼو انضباطي کسانو ډلې لخوا ترسره کیږي، او دنده یې د یو فرد د ګواښوونکي، اندېښمنونکي، یا ناسم چلند ارزونه او حل کول دي چې ممکن د ښوونځي د ټولنې خوندیتوب په شمول زده کوونکي او کارکوونکي له خطر سره مخ کړي. ګواښونکي، اندېښمنونکي، یا ناسم چلند کې شامل دي مګر دغو پورې محدود ندي، د شفاهي، لیکلي، یا بصري بیانونو رامینځته کول چې د ډارولو، تاوتریخوالي ترسره کولو، ټېپي کولو، یا د نورو زیان رسوونکو کړنو ترسره کولو نیت څرګندوي. د ګواښ ارزونه انضباطي پروسه نه ده.

## تمباکو

هر ډول د تمباکو څخه ترلاسه شوي یا نیکوتین لرونکي محصول، پشمول سګرټ، سګار، ویپینګ وسایل، بریښنايي سګرټ وسایل، او اړونده اجزا یا وسایل.

## تجاوز یا بې اجازې ننوتل

د چلند کوډ څخه په سرغړونه کې تجاوز یا بې له اجازې ننوتل پدې معنی دي چې د PWCS ملکیت ته له لیکلې اجازې پرته ننوتل یا په هغه کې پاتې کیدل، وروسته له دې چې خبر ورکړل شي چې په ښوونځي کې یا د ښوونځي په انګړ کې د یو چا شتون منع دی؛ په ښوونځي کې یا د ښوونځي په ملکیت کې پاتې کیدل وروسته له دې چې د ښوونځي د یو چارواکي لخوا ورڅخه وغوښتل شي چې پرې ووځي؛ د ښوونځي هغو سیمو ته ننوتل چې زده کوونکو لپاره نه دي پرانیستي، یا د ښوونځي د بندېدو وروسته ښوونځي ته یا د PWCS نورو ودانیو ته ننوتل.

پدې کې د ښوونځي بسونه یا د ښوونځي لخوا تنظیم شوي مراسم هم شامل دي، پرته له دې چې ځای یې چېرته دی.

هغه زده کوونکي چې د تجاوز یا نورو اړوندو چلندونو په وړاندې ایالتي جنايي قوانین تر پښو لاندې کوي، کیدای شي د جنايي تعقیب تابع هم شي.

## د ښوونځي څخه تیښته یا پټېدل

بې له کوم عذر څخه ښوونځي ته نه تلل یا په ټولګیو کې نه شتون، لکه څنګه چې د ویرجینیا قانون او د PWCS د حاضرۍ مقرراتو لخوا تعریف شوي دي.

## غیر مجاز لاسرسی

پرته له اجازې، د ښوونځي خوندي شویو یا ممنوع سیمو ته ننوتل یا ورته لاسرسی موندل، یا له نورو سره په ننوتلو کې مرسته کول، پشمول د ټاکل شویو امنیتي یا سکرینینګ طرزالعملونو سرغړونو.

## ورانول/تخریب

د ښوونځي ملکیت یا د نورو ملکیت په قصدي یا ناوړه ډول ویجاړول، زیانمنول، یا خرابول.

## وسلې

هر ډول ټوپک، چاقو، ویجاړوونکی وسیله، یا بل څیز چې د PWCS د ۱-۷۷۵ مقررې, "وسلې او منع شوي توکي" تر لاندې یا د پلي کیدونکي ایالتي یا فدرالي قانون تر لاندې د وسلې یا منع شوي توکي په توګه تعریف شوی، پشمول د هغو وسلو چې وسلو ته ورته معلومېږي یا تقلید شوي وي او عادي توکي چې د وسلې په توګه کارول کیږي.

# ضمیمه C

## د انضباطی ځوابونو یا غبرګونونو په اړه لا زیات معلومات

**ځنډونی او اخراجونی**

[د ویرجینیا کوډ ۲۲.۱-۲۷۷](#) په عمومي ډول د زده کوونکو د ځنډونی او شړلو په اړه بحث کوي. دلته کلیدی ټکی یا نقطی دی:

1. **د ځنډونو او اخراجونو/شړلو لپاره کافی اندازه لاملونه:**
   - زده کوونکی د کافی اندازه دلیلونو له امله د ښوونځي څخه ځنډول یا شړل کیدی شي.
   - په هر صورت ، د ځنډونی لپاره یوازی د ښوونځي څخه د تښتیدنی پیښی کافی دلیل نشی کیدي.
2. **پری سکول څخه تر ۳ ټولګي پوری:**
   - د پری سکول څخه تر ۳ ټولګی پوری زده کوونکو لپاره لاندی ذکر شوی قواعد د پلی کیدو وړ دي:
     - **ځنډوني:** په ویرجینیا کوډ کې د پیژندل شوی ځینی نشه یی توکو یا وسلو جرمونو/ سرغړونو پرته، د پری سکول څخه تر دریم ټولګی پوری هیڅ زده کوونکی باید له **دریو ښوونځی ورځو** څخه د زیاتی مودی لپاره ونه ځنډول شی پرته له دې چې:
       - په جرم/سرغړونه کی فزیکی زیان یا نورو ته د فزیکی زیان رسولو باوری ګواښ شامل وي.
       - د ښوونځی بورډ یا ډیویژن سوپرانټینډنټ دا ډول مومی چې **ناوړه شرایط** شتون لري، د پری سکول څخه تر 3 ټولګی پوری د زده کوونکو ځنډونه یا اخراج/ایستل وګورئ لکه څرنګه چې په [۱-۷۴۴ مقرره](#) کې تشریح شوی دي.
     - **اخراجونی/شړنی:** په ښوونځی کې د ګډون څخه د خارج کولو یا ایستلو لپاره ورته مقررات پلی کیږی.
   - **استثناوې:**
     - په C فرعي برخه کې استثناوې شتون لري، [د ویرجینیا کوډ ۲۲.۱-۲۷۷.۰۷ §](#), یا [۲۲.۱-۲۷۷.۰۸ §](#).
     - له ورکتون څخه تر دریم ټولګي پورې یو زده کوونکی کیدای شي له ښوونځي څخه تعلیق یا اخراج شي کله چې تعلیمي ډیویژن ته د [ویرجینیا کوډ ۱۶.۱-۳۰۵.۱§](#) مادې سره سم یو راپور ترلاسه شي چې یکې د جرم ثبوت یا د [ویرجینیا کوډ ۱۶.۱-۲۶۰ §](#) G فرعې برخې مادې لاندې محکومیت شتون ولري.

**د ښوونځي کنفرانس**

هرکله چې زده کوونکي یا والدین دا ډول احساس وکړي چې د یو فرد یا ډلې غوره ګټې له پامه غورځول شوي دي، د ښوونکي، سپانسر، روزونکی، سلاکار، یا د ښوونځي نورو پرسونل سره باید کنفرانس تنظیم شي. که چیرته د زده کوونکو او ښوونځي پرسونل ترمینځ عادی هوکړه تر سره نه شي، نو زده کوونکی حق لري چې:

- د ښوونځی مدیر یا ټاکل شوي مدیر مرستیال سره غونډه تنظیم کړي ترڅو د ورته شرایطو یا پریکړو په اړه بحث وشي چې د زده کوونکو لخوا ضرری ګڼل شوي دي.
- که چیرته د لومړنیو غونډو څخه راضي نه یاست د پلار/مور، زده کوونکي او مدیر ترمنځ د کنفرانس وړاندیز وکړئ.

د "زده کوونکو د مسایلو/ستونزو استیناف/اپیل" وګورئ لکه څنګه چې په [۱-۷۳۱ مقرره](#) "د زده کوونکو د مسایلو/ستونزو استیناف/اپیل" کې تشریح شوي دي.

**د ښوونکي لخوا د ټولګي څخه د زده کوونکی لیری کول/ایستل**

ښوونکي کولی شي چی د ښوونځي بورډ د [۷۰۲ پالیسی](#)" د ښوونکي لخوا د ټولګي څخه د زده کوونکو لیری کول/ایستل"، سره په مطابقت له ټولګی څخه ګډوډی رامنځته کوونکی زده کوونکي وباسی لکه څرنګ چې لاندې ذکر شوي دي.

د [ویرجینیا کوډ، ۲۲.۱-۲۷۶.۲ §](#) ماده، ښوونکي ته د دې واک ورکوي چې یو زده کوونکی د ګډوډ چلند له امله له ټولګي څخه لیرې کړي. سربیره پردې، د ویرجینیا کوډ ګډوډی رامینځ ته کونکی چلند "د ښوونځي بورډ د هغو مقرراتو سرغړونه چې د زده کونکي چلند تنظیموي او د زده کړې چاپیریال ګډوډوي یا یې له خنډ سره مخ کوي" په توګه تعریفوي.

**پلټنه/تلاشی او ضبط کول**

زده کوونکي به د هغه توکو لپاره مسؤل ګڼل کیږي چې هغوي یې له ځانه سره په ښوونځي یا د ښوونځي اړوند فعالیتونو کی لري. د زده کوونکو میزونه او الماری د ښوونځي ملکیت دی، او د ښوونځي چارواکي یی د پلټنی حق لري. د ښوونځي ملکیت بیرته خوندی کولو لپاره یا د داسې توکو موندلو لپاره ممکن الماری یا میزونه وپلټل شي کوم چې په ښوونځي لرل منع دي. زده کوونکي، د هغوی توکي او د هغوی تر واک لاندې توکي (د موټرو په شمول) ممکن په ځینو حالاتو کې وپلټل شي لکه څرنګ چې په [۱-۷۳۷ مقرره](#) "پلټنه او ضبط کول" کی ذکر شوي دي. د زده کوونکي د شخصي محرمیت او د غیر معقول لټون او ضبط کولو آزادۍ حق د ښوونځي په ټولنه کې د ټولو خلکو روغتیا، خوندیتوب، او هوساینې څخه د ملاتړ لپاره د ښوونځي د مسؤولیت سره برابر کړی دی.

که چیرته د پلټنې پر مهال نا قانونه توکي وموندل شي، د قانون پلي کوونکي چارواکو ته به خبر ورکول کیږی. که چیرته یو زده کوونکی د تلاشۍ ورکولو څخه انکار وکړي کله چې ور باندې اداره د دې خبرې معقول شک لري چې زده کوونکی له ځانه سره یا تر خپل کنټرول لاندې منع شوي توکي لري لکه څنګه چې مقرره کې تشریح شوي دي، والدین او/ یا چارواکو سره به اړیکه ونیول شي، او زده کوونکی ممکن د انضباطي اقدام سره مخ شي.

## له ځانه څخه دفاع کول

آیا دا چې یو زده کوونکی د ځان څخه د دفاع لپاره یو عمل کړی دی او که څرنګ، د انضباطي پریکړې کولو په وخت کې په پام کې نیول کیدی شي. هغه معیارونه چې دا په ډاګه کړي چې یوه پیښه به د ځان څخه د دفاع عمل وګڼل شي او که څرنګ، باید د دغه ډول ادعا څخه د ملاتړ لپاره لاندې شرایط شتون ولري: زده کوونکی باید:

- جګړې یا پیښې ته په هڅولو یا په رامینځته کولو کې بې ګناه اوسئ.
- په دغه حالاتو کې په مناسبه توګه ویریدلی اوسی، لکه څرنګ چې زده کوونکي ته ښکاره شوي اوسی، چې احتمالي خطر یا زیان شتون درلود.
- باید د احتمالي خطر یا زیان څخه د ځان ژغورلو لپاره یې په مناسب ډول د اړتیا وړ ځواک څخه ډېر ځواک نه وي کارولی.
- د خطر یا زیان د کمولو یا له مینځه وړو لپاره یې د لاسرسي وړ بله اسانه لار نه درلوده.

د مناسب اداری ځوابونو مشخص کولو په وخت کې د ځان څخه د دفاع ادعا په پام کې نیولو لپاره طرزالعملونو کې باید د زده کوونکي لپاره یو فرصت شامل وي چې د پیښې په اړه خپل نظر وړاندې کړي، همدارنګه د ښوونځي پرسونل او د نورو په ښکیل کولو سره حقایقو ته نظر کول، کله چې مناسب وي، په شمول د نورو زده کوونکو او کارکوونکو چې کیدای شي د پیښې شاهدان وي یا کیدای شي د ښکیلو زده کوونکو تر منځ یې له دې مخکې خبرې اترې اوریدلی اوسی. په ځینو مواردو کې، د زده کوونکو ترمنځ تعامل یا اړیکی ممکن د یوې پیښې څخه هاخوا وڅیړل شي ترڅو د متقابل عمل نمونې، تیر ګوابښونه، او بې ځایه تنګونه وڅیړل شي. د پخوانیو ګوابښونو، بې ځایه تنګولو، یا ځورونې شواهد د جنګ یا بلې نښتې لپاره انضباطي اقدام نه معاف کوي مګر دا چې د ځان دفاع ټول څلور واړه عناصر (پورته لیست شوي) د پریکړه کونکي لخوا وموندل شي.

د بې ځایه تنګولو یا ځورونې ټولې نوې ادعاوې چې د ځان دفاع له ادعا سره په تړاو کې پورته کیږي، د ښوونځي یا ټاکل شویو کارکوونکو لخوا به وڅیړل شي او د پلي کیدونکو PWCS پالیسیو او مقرراتو سره سم به پرې اقدام وشي.

غچ اخیستل یا په قصدي ډول په جګړه کې ګډون کول د ځان دفاع نه ګڼل کیږي. د خطر یا زیان خطر کمیدو سره زده کوونکی باید ځان ګوښه کړي او په سمدستي ډول د ښوونځي له کارکوونکو څخه مرسته وغواړي.

د ښوونځي په ملکیت کې هر ډول وسلې یا زیان رسونکي توکي په کلکه منع دي. په ښوونځي کې یا د ښوونځي لخوا تمویل شوي فعالیت کې د وسلې درلودل یا کارول د ځان د دفاع معتبره بڼه نه ده. د ښوونځي په ملکیت یا د ښوونځي لخوا تمویل شوي فعالیت کې د وسلو درلودل د [۱-۷۷۵ مقررې](), "وسلې او نور منع شوي توکي" څخه سرغړونه ده.

## د جلاوالی او قابو کونی طریقو کارول

[د ویرجینیا قانون ۱:۱.۲۷۹-۲۲.۱ §]() دا اړین بولی چې د ایالت د پوهنې ریاست بورډ دی د ویرجینیا په ابتدایه او ثانوي ښوونځیو کې د جلاوالی او قابو کونی کارونی لپاره مقررات خپل کړي. "د ویرجینیا په عامه ابتدایه او ثانوي ښوونځیو کې د جلاوالی او قابو کونی طریقو کارولو لپاره اداره کونکي مقررات" ([8VAC20-750-5 et seq.]()):

- دا تعریفوي چې کوم څیز د جلاوالی او قابو کونی سره سره میخانیکی محدودیتونه/قابوکونی، د درملو په کارولو سره قابوکونی، او ضد محرکات رامنځته کوي؛
- د میخانیکی محدودیتونو /قابو کونو، د درملو په کارولو سره قابوکونی، او مخنیوی محرکاتو کارول منع کوي؛
- هغه شرایط یا حالات تشریح کوي چې تر لاندې یې د زده کوونکی لپاره اجازه ورکول کیږی چې قابو کړل شي یا د نورو جلا شی؛
- والدینو ته د خبر ورکولو او راپور ورکولو، د کارکوونکو او زده کوونکي سره د پیښې وروسته د بیاکتنې، او کله چې یو زده کوونکی د یو تحصیلي کال په اوږدو کې له دوو څخه ډېر ځله مهار یا جلا شوی وي، د تعقیب لپاره لارې چارې برابروي.

- د ویرجینیا د پوهنې او روزنی وزارت ته راپور ورکوي؛
- د ځایی ښوونځیو ډیویژنونه مکلفوي چی د جلا کولو او قابو ساتلو طریقې کارولو په اړه پالیسی او پروسیجرونه غوره کړی.
- دا اړتیا رامنځته کوي چې د ښوونځی ټول پرسونل دی د جلاوالی او قابو کونی طریقو څخه د مخنیوی لپاره په تخنیکونو کې وو روزل شی او د ښوونځی پرسونل چې د هغه زده کوونکو سره له نږدې څخه کار کوی، څوک چې ممکن په احتمالی ډول جلاوالی یا قابو کونی سره مخ شي، باید د زده کوونکی په خوندی ډول جلا کولو یا قابو کونی لپاره د اضافي میتودونو په اړه روزنه ترلاسه کړی.

د PWCS دغه [۱-۷۴۶ مقرره]() "د جلاوالی او قابو کونی طریقو کارول, "د ښوونځی ټولو کارکوونکو لپاره توقعات په ډاګه کوي چې هغه روزنه بشپړه کړي چی د مثبت چلند څخه ملاتړ ، د شخړې مخنیوی ، حالات قابو کولو ، او کړکیچن حالت ته غبرګون ښودلو باندې تمرکز کوي.

## استثنايی انضباط

## د ټولو ځنډونو پورې اړوند عمومي احکام

## ټاکل شوې قانوني پروسه

د ښوونځي مدیر، مرستیال مدیر، یا د هغه استازی کولی شي یو زده کوونکی د ناسم چلند له امله یا د چلند کوډ یا اړوندو PWCS پالیسیو له سرغړونې له امله له ښوونځي څخه وځنډوي. مخکی له دی چې د انضباطي موخو لپاره له ښوونځي څخه وویستل شي، زده کوونکي په کافي اندازه او د مانا لرونکي قانوني پروسې حق لري، کوم چې په "د زده کوونکو د اوریدنی ځانګه" کې په ډاګه شوي مقرراتو او اصولو سره سم رامینځته شوي دي. د زده کوونکو د مدیریت او بدیلو پروګرامونو څانګه (SMAPD) اوس د زده کوونکو د اورېدنې څانګې (SHD) په نوم پیژندل کیږي. [مقررہ ۷۴۷-۱]

زده کوونکي حق لري چې د ځنډونی د لاملونو څخه خبر کړل شي او له دی وړاندی چی وځنډول شي، زده کوونکو ته باید د هغوي د لوري کیسی ویلو فرصت ورکړل شي. که چیرته د زده کوونکي شتون اشخاصو یا ملکیت ته دوامداره خطر رامینځته کوي، یا د دوامداره ګډوډي ګواښ وړاندې کوي، زده کوونکی ممکن سمدستي له ښوونځي څخه وو ایستل شي او څومره ژر چی په عملی توګه امکان ولري باید ورته خبرتیا، د حقایقو وضاحت او د زده کوونکي د اړخ نظر وړاندې کولو فرصت ورکړل شي. کله چې ځنډونه وضع کیږي، د ښوونځی مدیر/استازی به د مور او پلار سره د اړیکی ټینګولو لپاره ټولې معقولې هڅې کوي ترڅو هغوي ته د ځنډونی په اړه خبر ورکړي او د زده کوونکي بیرته د کور ښوونځی ته د ستنیدو لپاره مناسب ترتیبات په لاره واچوي. زده کوونکي او کورنی به د تعلیق په اړه لیکلي خبرتیا هم ترلاسه کړي، په شمول د زده کوونکي په وړاندې د تعلیق په جریان کې د لګول شویو شرایطو او د هغوی د استیناف غوښتنې حق په اړه معلومات.

## د ځنډونی پر مهال زده کړو ته دوام ورکول

که چیرته زده کوونکی د لا زیات انضباطي اقداماتو په پام کی نیولو لپاره SHD ته راجع شوی وي، تر هغه پوری چې د زده کوونکي د اوږدې مودې ځنډونه، بیا ګمارنه یا د اخراج پریکړه د SHD یا د ښوونځي بورډ لخوا صادر کیږي، د زده کوونکي ښوونځی باید د لنډ مهاله ځنډونی په ټوله موده کې تعلیمي خدماتو وړاندی کولو ته دوام ورکړي. د دی مودی په بهیر کی دا د زده کوونکي مسؤولیت دی چې تیری شوي ټولې کورنې دندې ترلاسه او بشپړ کړي. دا کورنی دندي باید د ښوونځي لخوا په ټاکل شوي موده کی بشپړ او تر سره شی. خو بیا هم، د ښوونځی مدیر کولی شی نوری کورنی دندی ورکړي یا نوری لاری چاری په لار اچولی شي کوم چې ممکن د زده کوونکی چلند بدلولو کې خورا اغیزمنی وي. که چیرته د یو زده کوونکي د اوږدې مودې لپاره د ځنډونه، بیا ګمارنې، یا اخراجولو وروستی پریکړه وشي، زده کوونکو او والدینو ته به بدیل تعلیمي خدماتو لپاره د وړوالی لرلو په اړه مشخص معلومات وړاندی کیږي.

## د ځنډونی مودې په بهیر کې د ښوونځي په ملکیت کې شتون منع دی

هغه زده کوونکي چې له ښوونځي څخه ځنډول شوي دی، هغوی او د ښوونځي اړوند فعالیتونو څخه د ځنډول شوي مودي لپاره منع دي، (د ښوونځي بسونو په شمول) او ممکن د سرغړونې کولو لپاره ونیول شي. پرته له دی چې یو زده کوونکي ته د ښوونځي ملکیت، د ښوونځي بس، یا د ښوونځي لخوا سپانسر شوی غونډه کی ګډون کولو لپاره د ښوونځي چارواکو لخوا لیکلی اجازه ورکړل شوی وي، هغه زده کوونکي چې انضباطي قضیې د اوږدې مودې ځنډونی یا اخراج پریکړې ته انتظار باسي (د انضباطي اوریدلو استثنا سره) په ښوونځي، د ښوونځي بسونو، او د ښوونځي لخوا سپانسر شوي فعالیتونو کی د ګډون کولو څخه منع دي. هغه زده کوونکي چې له ښوونځي څخه ځنډول شوي باید د تمرین په شمول د ښوونځي په ټولو فعالیتونو (ټیمونو، کلبونو، او نورو ټولو ښوونځیو سپانسر شوي فعالیتونو) کې له ګډون څخه هم وځنډول شي. پرته له دې چې مدیر په پام کې ونیسي چی د زده کوونکي شتون په ښوونځي کې د افرادو یا ملکیت روغتیا، خوندیتوب او/یا هوساینې لپاره فعاله او دوامداره ګواښ رامینځ ته کوي یا ممکن تعلیمي پروسې ته خنډ رامینځته کړي، په هغه قضیو کې چیرته چې والدین یا بالغ زده کوونکی د ځنډونی په وخت کې د ښوونځی مدیر ته خبر ورکړی چې استیناف/غوښتنه به کوی، زده کوونکي ته اجازه ورکول کیږي چې ښوونځي ته حاضر شي تر هغه چې قضیه اوریدل کیږي او وروستی پریکړه نه وي تر سره شوې.

## د انضباطي پریکړو د تعدیل یا بدلولو واک

د ټولو انضباطي غوښتنو لپاره د پروسې په هره کچه کې استیناف/غوښتنه ممکن ومنل شي یا رد شي او اړوند پایلې (د اصلاح کولو ګامونه) کیدی شي ډېر شي، کم شي، یا په هم هغه حالت کی ورته د پاتی کیدو اجازه ورکړل شي. که چیرته د اوږدې مودې ځنډولو په استیناف/غوښتنه کې د ښوونځي بورډ پریکړه وکړي چې اخراج ممکن مناسب وي، زده کوونکی باید د د SHD لخوا د ښوونځي بورډ یوې کمیټې په وړاندې د پروسې د اوریدلو غوښتنې د حق څخه خبر کړل شي. که چیرته یو زده کوونکی د داسې اوریدنې غوښتنه نه کوي، یا د اوریدنی وړاندیز تر سره شي، او که زده کوونکی په حاضریدو کی پاتی راشي، د ښوونځي بورډ یوه کمیټه به د لیکلي ریکارډ پر اساس خپله پریکړه تر سره کړي. په هغه صورت کې چې د ښوونځي بورډ کمیټه په یوه پریکړه باندی توافق نه لري، زده کوونکی کولی شی د ښوونځي بشپړ بورډ ته په لیکلی ډول درخواست وړاندې کړي.

## د پری سکول څخه تر دریم ټولګي پورې د زده کوونکو ځنډونه یا اخراج

په ویرجینیا کوډ کې د پیژندل شوی ځینی نشه یی توکو یا وسلو جرمونو/ سرغړونو پرته، د پری سکول څخه تر دریم ټولګی پوری هیڅ زده کوونکی باید له دریو ښوونځی ورځو څخه د زیاتی مودی لپاره ونه ځنډول شی یا په ښوونځی کې له ګډون څخه ونه ایستل شی پرته له دې چې:

1. په جرم یا سرغړونه کی فزیکی زیان یا نورو ته د فزیکی زیان اعتبار وړ ګواښ شامل وي؛ که
2. د ښوونځی بورډ، سوپرانټینډنټ یا د هغه/هغی استازی داسی ومومی چې ناوړه شرایط شتون لري.

له پرې سکول څخه تر دریم ټولګي پورې یو زده کوونکی کیدای شي له ښوونځي څخه اخراج شي کله چې تعلیمي ډیویژن ته د ویرجینیا کوډ § ۱۶.۱-۳۰۵.۱ مادې سره سم یو راپور ترلاسه شي چې پکې د جرم ثبوت یا د ویرجینیا کوډ § ۱۶.۱-۲۶۰ مادې لاندې محکومیت شتون ولري.

**له ۴ څخه تر ۱۲ ټولګي پورې د زده کوونکو ځنډونه**

لنډې مودې لپاره ځنډول

د لنډې مودې لپاره ځنډونه یو انضباطي اقدام دی چې له هغې وروسته یو زده کوونکی نشی کولی تر ۱۰ ښوونځي ورځو پورې په ښوونځي کې ګډون وکړي. زده کوونکی او والدین کولئ شي چې د ځنډونی د خبرتیا تر لاسه کولو وروسته په دریو ښوونځی ورځو کې دننه د ښوونځی مدیر ته اپیل وکړي. په لیکلې بڼه د استیناف/اپیل ترلاسه کولو وروسته، د ښوونځي مدیر د پریکړې په اړه باید والدینو ته په پنځه ښوونځي ورځو کی دننه په لیکلي بڼه خبر ورکړل شي. هغه زده کوونکي چې لنډ مهاله ځنډونه یې د استیناف تر لاندې وي، کولی شی ښوونځی ته لاړ شي تر هغه پورې چی د استیناف پریکړه یی نه وی تر سره شوئ، پرته له دې چې زده کوونکی د خوندیتوب خطر رامینځ ته کړي یا د دوام داره اختلال یا حلل ګواښ وړاندې کړي.

که چیرته د مدیر د پریکړی پر ضد استیناف/اپیل وشي، د پریکړې په ضد د استیناف لپاره لیکل شوې وړاندیز باید د لیول ایسوسی ایټ سوپرانټینډنټ لخوا د مدیر د پریکړی څخه د والدینو/سرپرست خبرولو څخه په دریو کاري ورځو کی دننه تر لاسه شي. په استیناف کې باید د پیښې په اړه د زده کوونکي خبرې یا نظر او د ځنډونی د غیر عادلانه کیدو په اړه دلیلونه شامل وي. د لیول ایسوسی ایټ سوپرانټینډنټ باید د استیناف د تر لاسه کولو وروسته په پنځو کاري ورځو کې په لیکلي بڼه پریکړه وړاندی کړي. د لیول ایسوسی ایټ سوپرانټینډنټ یا د هغه/هغې د استازی پریکړه به حتمي وي.

د ډیرو جدي سرغړونو لپاره، د ښوونځي مدیر یا د هغه استازی کولی شي د ۱۰ ورځو ځنډونی سره یوځای SHD ته د نورو انضباطي اقداماتو لکه اوږدمهاله تعلیق، بیا ګمارنې، یا اخراج د سپارښتنې په موخه راجع کړي. د هر هغه ۱۰ ورځني ځنډونی استیناف چې د نورو انضباطي اقداماتو لپاره SHD ته له راجع کیدو سره یوځای وي، به د SHD د اورېدنې افسر لخوا د اوږدمهاله ځنډونی په برخه کې د بیان شوي قانوني پړاو د اورېدنې وروسته وڅیړل شي.

اوږدمهاله ځنډونه

د اوږدی مودې لپاره ځنډونه یو انضباطي اقدام دی چې له هغې وروسته یو زده کوونکی ممکن د 10 ښوونځي ورځو زیات مګر د 365 کلېنډر / کلیز ورځو څخه کمی ورځو لپاره ښوونځي کی ګډون ونکړئ شي. یو زده کوونکی باید د 45 ښوونځی ورځو څخه ډیر ونه ځنډول شی؛ مګر پرته له دی چی:

1. جرم یا سرغړونه په هغه ډول وي چی د ویرجینیا کوډ § ۲۲.۱-۲۷۷.۰۷ یا § ۲۲.۱-۲۷۷.۰۸ مادو کې تشریح شوی یا جدی فزیکی زیان پکې شامل دی؛ یا
2. د ښوونځی بورډ یا سوپرانټینډنټ یا د هغه/هغی استازی داسی مومی چې تشدیدی یا خرابونکی شرایط شتون لري لکه څرنګ چی د ویرجینیا د پوهنې وزارت لخوا تعریف شوی دي.

مخکې له دې چې اوږدمهاله ځنډونه وضع شي، زده کوونکی باید د قانوني پړاو د اورېدنې حق ولري چې د SHD لخوا ټاکل شوي اورېدنې افسر لخوا د PWCS په پالیسی او مقرراتو کې د بیان شویو طرزالعملونو سره سم ترسره کیږي.

والدین او زده کوونکي کولی شي د اوږدمهاله ځنډونی د پریکړو استیناف غوښتنه د هغو طرزالعملونو سره سم وکړي چې دلته او په PWCS پالیسی او مقرراتو کې لنډیز شوي دي. والدین یا زده کوونکی کولی شي د SHD پریکړه لیک نیټې څخه وروسته په څلورو کاري ورځو کې په لیکلي بڼه اپیل درج کړي. لیکلي اپیل باید SHD ته وسپارل شي او باید د پیښې په اړه پکی د زده کوونکي د اړخ معلومات شامل وي، هغه دلایل چی له امله یی دوی باور لري چی ځنډونه غیر عادلانه ده، او هر ډول اضافي شواهد چې زده کوونکي یا والدین یې غواړي په پام کې ونیول شي. د SHD اوریدنې افسر کولی شي د والدینو د اپیل په ځواب کې لیکلي بیان وسپاري. د اپیل یا استیناف په اړه به د ښوونځي بورډ د انضباطي کمیټې (SBDC) لخوا کوم چی د ښوونځي بورډ د دریو غړو یوه پینل وي، لخوا پریکړه تر سره شي. SBDC به د دروازی شاه ناسته کې د SHD د اوریدنې افسر پریکړې پر ضد تر سره شوی لیکلي اپیل وګوری. SBDC ممکن د SHD د اوریدنې افسر پریکړه تایید، رد، یا تعدیل کړي، یا ممکن دا په ډاګه کړی چی د اخراج په شمول بل انضباطی اقدام وړتیا یا لومړی توب ترسره کیدی شی. د SBDC پریکړه به وروستی وي مګر دا چې پریکړه غیر متفقه وي، په دې حالت کې زده کوونکی کولی شي، د SBDC د پریکړې څخه په پنځو کاري ورځو کې، SHD ته په لیکلي ډول خبر ورکړي چې زده کوونکی غواړي د SBDC پریکړې پر ضد د ښوونځي بشپړ بورډ ته اپیل وکړي. د ښوونځي بورډ به یوازې د هغه اداري ریکارډ پر بنسټ استیناف تر سره کړي کوم چې SBDC ته وړاندې شوي اوسی او د استیناف د تر لاسه کولو وروسته په ۳۰ ورځو کې به پریکړه تر سره کوي.

د اخراج طرزالعملونه

اخراج یو انضباطي اقدام دی چې په هغې کې زده کوونکي اجازه نلري چې د اخراج له نیټې وروسته د ۳۶۵ کلېنډر ورځو لپاره د PWCS په ښوونځي کی ګډون وکړي. په هر صورت، د ښوونځي بورډ کولی شي چې هر هغه زده کوونکي ته چې له ښوونځي څخه ایستل شوي وي، اجازه ورکړي چی د اخراج مودی په بهیر کی په بدیل تعلیمي پروګرام کې ګډون وکړي.

د اخراج، بیا شاملیدو، او محرومیت اداره کونکي قواعد پدې برخه کې او د PWCS پالیسۍ او مقرراتو کې لنډیز شوي دي.

ځینې محدودیتونه له پری سکول څخه تر دریم ټولګي پورې د زده کوونکو د اخراج په برخه کې پلي کیږي.

مهرباني وکړئ د لا زیاتو معلوماتو لپاره د "پری سکول څخه تر دریم ټولګي پورې د زده کوونکو ځنډونه یا اخراج" برخه وګورئ.

د ښوونځي بورډ ممکن د کافی اندازه دلیلونو پر اساس زده کوونکي وباسي یا اخراج کړی. یو زده کوونکی ممکن له ښوونځی څخه وشړل شي، او د PWCS په ښوونځیو کې یی د ګډون کولو حق څخه منع وشي، کله چې:

- یو زده کوونکی د نورو روغتیا، هوساینې یا خوندیتوب ته په احتمالي ډول یا دوامداره خطر وي؛ یا
- د زده کوونکي چلند په تعلیمي چارو کی یا د ښوونځي په منظم ډول د چارو پر مخ وړلو ته ګډوډونکی وي؛ یا
- زده کوونکي په داسې چلند کی بوخت وي چې د ښوونځي ډیویژن پالیسۍ او مقررات یا د چلند کوډ سرغړونه کوي، یا دغه چلند د ښوونځي امنیت یا خوندیتوب ګواښي یا په بل ډول له ښوونځي سره تړلی وي؛ یا
- زده کوونکي زیاتی سرغړونی تر سره کړي دي چی له امله یی د اخراج وړ ګرځېدلی وي؛ یا
- زده کوونکی د ویرجینیا کوډ § ۱-۱۶.۱.۳۰۵ مادی سره په مطابقت د راپور په تعقیب د هغه سرغړونو لپاره مجرم پیژندل شوی یا محکوم شوی چې د ویرجینیا کوډ §۱۶.۱-۲۶۰ فرعې برخه کې لیست شوي G؛ یا
- نور شرایط داسی په ډاګه کړي چې د زده کوونکي اخراج د ځایی ښوونځي یا د ښوونځي ځانګې په غوره ګټه کې دی.

که چیرته یو زده کوونکی د SHD لخوا د اخراج لپاره وړاندیز شوی وي، والدین او زده کوونکی کولی شي د PWCS په پالیسۍ او مقرراتو کې د بیان شویو طرزالعملونو سره سم SBDC ته د SHD د اوریدنې افسر د انضباطي سپارښتنې په وړاندې استیناف غوښتنه وکړي. د بیاځلی شاملیدو په وخت کی د زده کوونکي په بدیل زده کړې پروګرام کې ځای په ځای کولو په اړه د SHD لخوا هره پریکړه هم استیناف کیدی شي. په هر صورت، د SHD لخوا د ځای پرځای کولو بله هره پریکړه وروستۍ ده او استیناف کیدای نه شي. د SBDC په وړاندی یا مخامخ د اوریدنې لپاره لیکلې غوښتنه باید د SHD لخوا د پریکړې لیک نیټې څخه وروسته په څلور رسمی ورځو کې دننه ترلاسه شي.

زده کوونکی او والدین به دا حق ولري چې د SBDC پر وړاندی د 45 دقیقو په ژوندی بڼه اوریدنی پر مهال د پیښې په اړه د زده کوونکي د اړخ نظر او هغه دلیلونه وړاندی کړي چې له امله یی دوی باور لري چی د اخراج وړاندیز یوه تیروتنه ده. د زده کوونکی ممکن د وکیل لخوا استازیتوب وشي. که چیرته د SBDC پریکړه متفقه نه وي، زده کوونکي او والدین کولی شي د SBDC پریکړې څخه وروسته په پنځو کاري ورځو کې دننه د ښوونځي د بشپړ بورډ لخوا پریکړه کولو لپاره په لیکلي ډول اپیل درج کړي. د ښوونځي بورډ به یوازې SBDC ته د وړاندې شوي ریکارډ پر اساس د دروازی تر شا ناسته کی موضوع په پام کې ونیسي او د استیناف په ۳۰ تقویمی ورځو کې به پریکړه تر سره کړي. د ښوونځی بورډ پریکړه به وروستۍ وي. د هغه زده کوونکو په ښوونځي کی د شاملیدو لپاره د کرنلارې، مهال ویش او د استیناف پروسه چې تر دی وړاندي د PWCS څخه ایستل شوي وو، د PWCS په پالیسۍ او مقرراتو کې بیان شوي دي. د هغه دوسیو لپاره چې پر ضد یی اپیلونه شوي دې، د ښوونځي بورډ یی باید د بندو دروازو تر شاه بیاځلی وګوری او د بیاځلی شاملیدو په اړه یی په آزاده ناسته کی رایه ورکړي. یوازې هغه اسناد چې SHD ته د بیاځلی شاملیدو لپاره په پام کی نیولو لپاره سپارل شوي باید د ښوونځي بورډ لخوا په پام کې ونیول شي. د غوښتنی/استیناف لیک پرته باید بل هیڅ ډول اضافي اسناد، په پام کی نیولو لپاره ونه سپارل شي. زده کوونکی او والدین باید د ښوونځي بورډ د پریکړې په اړه په لیکلی بڼه خبر شي.

له ښوونځي څخه محرومیت

PWCS دا واک لري چې په خپلو ښوونځیو کې د هغه زده کوونکو د شاملیدو څخه انکار وکړي چی د بل ښوونځي ډیویژن یا خصوصي ښوونځي لخوا په ښوونځي کې له حاضریدو څخه ایستل شوي یا له ۳۰ ورځو څخه ډیری مودی لپاره ځنډول شوي وي، یا د SHD لخوا د شاملیدو اوریدنې وروسته د زده کوونکی لپاره په هر هغه ښوونځی کی نوم لیکنه رد شوي اوسی په کوم کی چی هغه له دی وړاندی شامل وو.

زده کوونکی او والدین حق لری چی د SHD پریکړې پر ضد د SHD پریکړې نیټې څخه وروسته په څلورو کاري ورځو کې د ښوونځي بورډ ته اپیل وکړي. د ښوونځي بورډ باید د دروازی تر شا ناسته تر سره کړي ترڅو د نوم لیکنی په اړه د SHD اوریدنه کی په پام کی نیول شوي اسناد او د والدینو د استیناف لیک وګوري. زده کوونکی او والدین باید د ښوونځي بورډ د پریکړې په اړه په لیکلی بڼه خبر شي. د ښوونځي بورډ ممکن د خارج شوي زده کوونکي څخه وغواړی چی د اصلی ښوونځي څخه د اخراج مودي پر مهال په غیر دودیز پروګرامونو کې برخه واخلي کوم چی د ښوونځی بورډ لخوا رامنځ ته شوی دی.

د ځینو جنایي سرغړونو له امله غیر دودیز تعلیمي پروګرام ته ګمارنه

د ویرجینیا کوډ ۲۲.۱-۲۰۹.۱:۲ یا § ۲۲.۱-۲۷۷.۲:۱ مادو له مخې، PWCS واک لري چې هغه

زده کوونکي چې د ځینو جنایي سرغړونو په تور تورن شوي یا محکوم شوي وي، د PWCS پالیسیو او مقرراتو کې د بیان شویو طرزالعملونو سره سم په بدیلو پروګرامونو کې بیا وګماري یا ځای پرځای کړي. یو زده کوونکی او والدین یی کولی شي چی د SHD پریکړې پر ضد د SHD پریکړې نیټې څخه وروسته په ۱۰ کاري ورځو کې دننه د ښوونځي بورډ ته اپیل وکړي.

**د زده کوونکو د مسایلو یا چارو اپیلونه**

موخه دا ده چې تر هغه ځایه چې امکان ولري، مسایل د ښوونځي په کچه حل شي. د ځنډونې او اخراج پریکړو پر وړاندې د استیناف حق سربیره کوم چې پورته تشریح شوي دي، PWCS زده کوونکو او والدینو ته دا حق هم ورکوي چې د زده کوونکو د مسایلو په تړاو د لاندې ذکر شویو پر ضد د اپیل یا استیناف وړاندیز وکړي:

- اکاډمیکې اپیلونه.
- د یو داسې پریکړې په ضد استیناف/اپیل چې پکې د تبعیض یا ځورونې شکایت شامل وي.
- د وړوالې اپیلونه - ګډ نصابي او غیر نصابي پروګرامونه.
- د فراغت اپیلونه.
- د ښوونځي داخلي فعالیتونو او سیالیو استیناف/اپیلونه.
- د موسیقۍ په فعالیت کې د ګډون کولو او د اکاډمیک / ګریډ اړوند ستونزو اپیلونه/استیناف (منځني او عالي ښوونځي)
- په غیر دودیز تعلیمي پروګرام کې ځای پر ځای کول.
- د غیر اختیاري ځای پر ځای کولو لپاره دودیز ښوونځي کې داخلېدل.
- د ښوونځیو بدلول.

مهرباني وکړئ د مهالویش او استیناف کړنلارو لپاره ۷۳۱-۱ مقررې, "د زده کوونکو د مسایلو یا چارو استیناف" ته مراجع وکړئ.

# ضمیمه D

# له ښوونځي څخه بهر د ځنډونې ډیسپلین پروسی چارټ

## ۱ ګام: له ښوونځي بهر ځنډونه

- د ډیری انضباطی پیښو لپاره، د ۱ څخه تر ۱۰ ورځو پوری له ښوونځی بهر ځنډونه (OSS). زده کوونکی ته باید د ځنډونی پیل کولو دمخه خبرتیا او د اوریدلو حق ورکړل شی، پرته له دې چې ټینګ شرایط شتون ولری.

**احتمالی پایلې**

- **لا زیات انضباطی اقدام ته نه راجع کول -** زده کوونکی د OSS څخه وروسته د ۱ څخه تر ۱۰ ورځو پوری بیرته دودیز ښوونځی ته راستنیږي.
- **لا زیات انضباطی اقدام ته راجع کول** - زده کوونکی تر ۱۰ ورځو پوری OSS تیروي او د اضافي انضباطی اقدام (FDA) په پام کې نیولو لپاره د زده کوونکو د اوریدنی څانګې (SHD) ته راجع کیږی.

## ۲ ګام: د لا زیات انضباطی اقدام په پام کی نیول

- لا زیات انضباطی اقدام (FDA) د اوږدې مودې ځنډونی، بیا شاملولو، یا اخراجولو/شړلو په پام کې نیولو لپاره د زده کوونکو د اوریدنی څانګې (SHD) ته راجع کونه ده. د 10 ورځو ځنډونی او د راجع کونی خبرتیا باید وړاندی شی.
- هر هغه زده کوونکی چې د معلولیت شک پری وي، د ارزونې تر لاندې وی، یا څوک چې ۵۰۴ برخې پلان لری، یا د انفرادی زده کړې پلان (IEP) لری، د څرنګوالی د مشخص کولو کتنه (MDR) باید د ځنډونی په لومړیو ۱۰ ورځو کې او د SHD اوریدلو دمخه ترسره شی.

**د اوریدنې معلومات**

- اوریدنه باید د تر سره کیدو لپاره مهالویش شي مګر چی د ځنډونی له ۱۰می ورځې څخه وروسته نه شي.
- د SHD لخوا به د اوریدنې د نیټې او وخت په اړه خبرتیا والدینو/سرپرست ته ولېږل شي.
- د زووم لینک سره یو ځای، د اوریدنې څخه 48 ساعته مخکې د SHD لخوا به د کڅوړې د تر لاسه کولو رسید والدینو (سرپرست) ته واستول شي، که چیرته اوریدنه به په مجازی ډول تر سره کیږي.
- زده کوونکی، والدین / سرپرست (سرپرستان)، او ښوونځی د اوریدلو افسر سره ګوری ترڅو انضباطی اوریدنې ترسره کړی.

**د زده کړی پروسه/بهیر**

- تر هغه پوری چې د SHD لخوا اوریدنه او پریکړه تر سره شوی نه وی، زده کوونکی د کینوس له لاری یا په ټاکل شوي ځاي کی دندی بشپړوی.
- که چیرته زده کوونکی د ځانګړی زده کړې خدمات ترلاسه کوي، د IEP ټیم باید راغونډ شی تر څو د لیرې کونی پر مهال د زده کړې خدمتونه وړاندی کولو لپاره تجویز وړاندی کړي.

**احتمالی پایلې***

- **د ځنډونی پای** – زده کوونکی بیرته خپل ځای ښوونځی ته یا هغه پروګرام ته ګرځی چی د FDA راجع کونی دمخه یی پکی ګډون کوو.
- **بل ځای کی شاملول** – زده کوونکی ممکن په دودیز یا غیر دودیز پروګرام کې ځای پر ځای شی.
- **د ۱۱ ورځو څخه تر ۴۵ ورځو پوری اوږدمهاله ځنډونه ( (LTS-** د اوریدنی افسر د ځنډونی مودی پریکړه کوی او زده کوونکی غیر دودیز تعلیمی پروګرام کی شاملوي.
- **د ۴۶ ورځو څخه تر ۳۶۴ ورځو پوری اوږدمهاله ځنډونه ( (LTS-** د سختو شرایطو په اړه د موندلو سره، د اوریدنی افسر کولی شي اوږد مهاله ځنډونه وضع کړی. د اوریدنی افسر د ځنډونی د مودی پریکړه کوی او زده کوونکی په غیر دودیز تعلیمی پروګرام کی شاملوي.
- **ایستل/خارجول (365 ورځې)** - د ښوونځی بورډ زده کوونکی اخراجوی او زده کوونکی په غیر دودیز تعلیمی پروګرام کی شاملوي. که چیرته زده کوونکی د ځانګړی زده کړو خدمات ترلاسه کړی، د ښوونځی بورډ به د IEP ټیم ته اجازه ورکړی چې داسی پروګرام یا ځای مشخص کړي چې د PWCS ښوونځی څخه بهر وي.

* نوټ: که چیرته زده کوونکی د ځانګړی زده کړو خدمات ترلاسه کوي او د اوریدنی افسر د زده کوونکی لپاره د PWCS ملکیتونو ته په لاسرسی لرلو محدودیتونه ولګوي، نو د IEP ټیم به بیا د دې محدودیتونو سره په مطابق ځای یا پروګرام مشخص کوي.

# د ډاونلوډ کولو لپاره PDF ژباړه